د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت
د مطبوعاتو ریاست

# د اقتصادي معاونیت فعالیتونه
# او د هېوادوالو نظرونه

## ۱۴۰۲ لمریز کال

دریېم راپور



بسم الله الرحمن الرحیم

د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت

# د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت
# **فعاليتونه او د هېوادوالو نظرونه**

**(د سنبلې له لومړۍ د عقرب تر ۳۰مې - ۱۴۰۲)**

## تحليلي راپور


**مخکښ څېړونکی:** فضل ولي شيراني

**همکار څېړونکی:** محب الله نظيمي

**ژباړن:** هدايت الله واحدي

**کتنپلاوی:** مولوي خالق داد تقي، احمدشاه راشد او امان الله حنيفي

**ډيزاينر:** عطاءالرحمن سعيد

**خپرونکی:** د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت



پته: مرمرينه ماڼۍ، ملک اصغر څلورلارې، کابل

ټيليفون: 0202107500

برېښناليک: media@dpmea.gov.af

وېبپاڼه: dpmea.gov.af

# فهرست


د افغانستان اقتصادي وضعیت په اړه د نړیوال بانک وروستي راپور په تړاو د ریاست الوزراء... ...............۱

د ۶.۵ میلیاردو ډالرو په پانګونې سره د ۷ لویو کانونو قراردادونه لاسلیک شول.........................................۱۰

د ۱۴۰۲ لمریز کال په لومړیو پنځو میاشتو کې د ۴۹ میلیاردو افغانیو په ارزښت صادرات شوي.............۱۹

کابل کې «د افغانستان سوداګریزې او اقتصادي اړیکې» تر سرلیک لاندې کنفرانس جوړ شو ..............۲۷

پانګوالو ته د اسانتیاوو برابرولو له پاره د پانګونې بین الوزارتي کمېټه جوړه شوه..................................۳۶

د لس مېګاواټه لمریزې برېښنا د تولید پروژې پرانیسته؛ د ځان بسیاینې په لور یو بل ګام......................۴۳

اقتصادي کمېسیون؛ د کانونو د ساتنې په موخه جوړه شوې کړنلاره تایید کړه .................................۵۲

د دیارلس مېلیاردو افغانیو په ارزښت ۵۰ بېلا بېلې پروژې منظورې شوې ........................................۶۲

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د هرات له زلزله ځپلو... ...............۷۰

د قوش تېپې کانال؛ په بشپړېدو به یې د کرنې په برخه کې انقلاب رامنځته شي ..................................۸۰

د کرنیزو محصولاتو ۲۹ خزانې ننداړتون پرانیستل شو ...........................................................۸۹

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال او ازبیک پلاوي ترمنځ لیدنه .....................................................۹۸

# د افغانستان اقتصادي وضعیت په اړه د نړیوال بانک وروستي راپور په تړاو د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت اعلامیه!




**سریزه:**

د افغانستان اقتصادي وضعیت په اړه د نړیوال بانک له لوري د ۲۰۲۳ میلادي کال د اګست میاشتې په ۳۱مه نېټه راپور خپور شوی دی. په دې راپور کې د افغانستان اقتصادي وضعیت په برخه کې ترسره شوي پرمختګونه را اخیستل شوي دي. په راپور کې ویل شــوي چې د انفلاســیون کچه د تېرو میاشــتو په پرتله نوره هم ټیټه شوې، په کور دننه د خوراکي توکو په تولید کې زیاتوالی راغلی، د بهرنیو اســعارو پر وړاندې د افغانۍ ارزښــت د پام وړ لوړ شوی، د خوراکي او غیر خوراکي توکو په بیو کې ټیټوالی راغلی، په بانکي سیستم کې پرمختګ شوی او په ځانګړي ډول د سوداګریزو شرکتونو له پاره آسانتیاوې رامنځته شوې دي، کاري فرصتونه زیات شوي، د صادراتو ترڅنګ د وارداتو او ملي عوایدو کچه هم زیاته شوې، د حکومت کارکوونکو معاشــونه په وخت ورکړل شوي او باکیفیته روغتیایي خدمتونه خلکو ته وړاندې شوي دي. د افغانستان اسلامي امارت د ریاســت الوزراء اقتصادي معاونیت د اقتصادي وضعیت په تړاو د نړیوال بانک له لوري د خپاره شــوي راپور ستاینه کوي او وایي چې په راپور کې راغلي واقعیتونه او پرمختګونه یو عیني واقعیت دی چې یاد بانک نړۍ ته وړاندې کړی دی.

د افغانستان اسلامي امارت پر دې باور دی چې که نړیواله ټولنه مثبت تعامل ته مخه، بندیزونه لرې او د افغانستان کنګل شوې شتمني آزاده کړي، نو افغانستان به د نورو برخو ترڅنګ په اقتصادي برخه کې په بشپړ ډول پرمختګ وکړي. دغه راز


د افغانســتان اســلامي امارت له ټولو نړیوالو سازمانونو غواړي چې د افغانستان په اړه نړۍ ته هغه پرمختګونه په ډاګه کړي چې د هرې ورځې په تېرېدو سره په افغانســتان کې رامنځته کېږي؛ په دې سره به نړۍ د افغانســتان پر واقعي وضعیت او دلته له ترسره شویو پرمختګونو ښخه خبره شي. د افغانستان اسلامي امارت له نړیوال بانک څخه غواړي، هغه پروژې چې د دې سازمان له لوري تمویلېدې او اوس یې کارونه نیمګړې پاتې دي، بېرته پیل او چارې یې دې بشپړې کړي.

## د افغانستان اقتصادي وضعیت په اړه د نړیوال بانک د وروستي راپور په تړاو د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت اعلامیې موخه:


موخه یې داده چې اســلامي امارت د هغو راپورونو هرکلی کوي چې هغه پر حقایق ولاړ او په افغانســتان کې ترسره شــوي پرمختګونه یې منعکس کړي وي.

**په هغو رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه چې «د افغانستان اقتصادي وضعیت په اړه د نړیوال بانک وروستي راپور په تړاو د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت اعلامیې» په اړه یې خبر خپور کړی دی:**


### الف: دولتي رسنۍ:




### ب: خصوصي رسنۍ:



## د دولتي او خصوصي رسنیو د ارزونې د سلنې مجموعه:





**یادونه:** په دغه ګراف کې په هغو دولتي او خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو سلنه ښودل کېږي چې د افغانستان اقتصادي وضعیت په اړه د نړیوال بانک وروستي راپور په تړاو د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت اعلامیې په اړه یې خبر په ویډیویي، غږیزه او چاپي بڼه خپور کړی دی.


## په دولتي او خصوصي رسنیو کې د یاد خبر په اړه د خلکو نظرونو ارزونه

### ۱- دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه:


#### آژانسونه




#### توېترپاڼې





#### ویاندویان





#### ورځپاڼې




### راډیوګانې




### تلویزیونونه





## په دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو د ارزونې ټولګه




## ۲- په خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه:


### تلویزیونونه




### راډیوګانې




## ورځپاڼې





## اژانسونه




## خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه




## خصوصي او دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه




## د افغانستان اقتصادي وضعیت په اړه د نړیوال بانک وروستي راپور په تړاو د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت د اعلامیې په اړه په رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه

### د خلکو نظرونو د څېړنې او ارزونې موخه:

په رسـنیو او ټولنیزو شـبکو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو څېړنه او ارزونه د خلکو نظرونو روښانتیا او هغو ته د پاملرنــې په مانا ده. د دې مسـلې ارزونه او څېړول خلکـو او ټولنې ته دا فرصت په لاس ورکوي چې د حکومت د پرېکړو، کړنو او پروژو په اړه خپل نظرونه، غوښتنې، نیوکې او وړاندیزونه شریک کړي.

## افغانستان کې له ټولنیزو شبکو د ګټې اخیستنې واقعیت:

که په ټولنیزو شـبکو کې د هېوادوالو ونډه او فعالیت وڅېړو، نو وبه وینو چې په افغانســتان کې زیاتره خلک د ټوېټر پرځای فېسـبوک کاروي. خو په ټوېټر کې بیا تر ډېره بریده رســمي- حکومتي مسوولین او د ســیاسي، اقتصادي او فرهنګي ډګر فعالان ونډه لري. له همدې امله د افغانستان اسلامي امارت رسمي او نارسمي کسان تر فېسبوک په ټوېټر کې ډېر فعالیت لري. خو د رسنیو، دولتي او نادولتي بنسټونو اړوندې ټولنیزې شبکې او همدارنګه د سیاسي، اقتصادي، ټولنیز او فرهنګي ډګر فعالان د عامو خلکو او دغه راز د رسـمي اشـخاصو او بنسټونو تر پوښــښ لاندې راوستو په موخه په فېسبوک او ټوېټر دواړو کې فعال دي او هره ورځ خبرونه، شخصي، رسمي او نارسمي راپورونه خپروي.

## د یاد خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه:

*موږ کولای شو رسنۍ په دوو برخو ووېشو: دولتي رسنۍ او خصوصي رسنۍ:*

۱. د افغانستان اقتصادي وضعیت په اړه د نړیوال بانک وروستي راپور په تړاو د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت د اعلامیې پــه اړه د تلویزیونونــو، راډیوګانو، ورځپاڼو، ویاندویانو، خبري اژانســونو او ټوېټرپاڼو په ګډون په دولتي رســنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په دولتي رســنیو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو شــمېر په ټولیز ډول ۱۲۷۰ دی. د دې نظرونو له جملې ۱۱۶۱ مثبت دي. ۷۹ منفي نظرونه او ۳۰ ســالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شــوي. مثبت نظرونه ۹۱ ٪، منفي ٦ ٪ او سالم وړاندیزونه ۳ ٪ دي.

۲. د افغانستان اقتصادي وضعیت په اړه د نړیوال بانک وروستي راپور په تړاو د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت اعلامیې په اړه د تلویزیونونو، راډیوګانو، ورځپاڼو او خبري اژانســونو په ګډون په خصوصي رســنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په خصوصي رسنیو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۱۵۱ دی. د دې نظرونو له جملې ۱۲۰ مثبت، ۲۰ منفي او ۱۱ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي دي. مثبت نظرونه ۷۹ ٪، منفي نظرونه ۱۳ ٪ او سالم وړاندیزونه ۸ ٪ دي.

پورتنیو شمېرو ته په پاملرنې د خصوصي رسنیو په پرتله په دولتي رسنیو کې د خلکو د مثبتو نظرونو سلنه لوړه ده. په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه ۹۱، خو په خصوصي رسنیو کې دا سلنه ۷۹ ده. په خصوصي رسنیو کې بیا د منفي نظرونو ســلنه لوړه ده، په خصوصي رســنیو کې د منفي نظرونو ســلنه ۱۳ او په دولتي هغو کې بیا ٦ ده. که په دولتي او خصوصي رســنیو کې مثبت، منفي نظرونه او ســالم وړاندیزونه جمع کړو، په ټوله کې ۱۲۸۱ مثبت نظرونه، ۹۹ منفي نظرونه او ۴۱ سالم وړاندیزونه دي چې له مخې یې ۹۰٪ مثبت نظرونه، ۷٪ منفي نظرونه او ۳ ٪ سالم وړاندیزونه دي.

## دا چې د خصوصي رسنیو په پرتله په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه لوړه ده، لامل یې څه دی؟

یو لامل یې دادی چې خلک د هغو خبرونو په اړه مثبت نظر ورکوي، کوم چې د هېواد او خلکو دواړو په ګټه وي او له مخې یې هېواد د پرمختګ په لور ځي. د افغانستان اقتصادي وضعیت په اړه د نړیوال بانک وروستي راپور په تړاو د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت اعلامیه کې هم اقتصادي مسایلو ته پام شوی دی او ویل شوي دي چې د افغانستان اقتصادي وضعیت د پخوا په پرتله مخ په ښه کېدو دی. هر خبر چې د هېواد پرمختګ پکې نغښتی وي، ډېر خپرېږي او طبیعي خبره ده چې په اړه به یې مثبت نظرونه هم زیات وي. له دې څخه جوتېږي، د هېواد د پرمختګ په برخه کې چې هر ګام پورته کېږي د خلکو له هرکلي سره مخ او په اړه یې خپل نظرونه څرګندوي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو لنډیز په لاندې ډول دی:

د یادونې وړ ده، دلته مورږ یوازې د ګوتو په شمېر نظرونه چې په هغو کې مثبت، منفي نظرونه او وړاندیزونه شامل دي، راوړو، ځکه د ټولو نظرونو یادونه د لیکنې له حوصلې وتلې ده، د نظرونو شمېر لسګونه بلکې سلګونو ته رسېږي.

- باید په ټول هېواد کې په کلدارو کلک بندیز ولګول شي. ټوله راکړه ورکړه دې په افغانیو تر سره شي، هیله ده چې دا غږ را سره بدرګه کړئ.
- د نړیوال بانک له راپور سره سم انفلاسیون مخ په ټیټېدو دی، دا حالت باید همداسې وساتل شي. بله دا چې کله افغانۍ د ډالر پر وړاندې لوړه شي، نو د خوراکي توکو نرخونه ورسره ښه، خو د سون توکو او درملو بیې پر خپل ځای وي، د افغانۍ د ارزښت لوېدو سره نرخونه زیات پورته ځي، اسلامي امارت باید په مارکیټ کنټرول ولري.
- افغانستان کې هر څه سم دي، یوازې بې کاري ډېره ده، که اقتصاد ښه شي، نو دا مشکل به هم حل شي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

✍ **لومړی**؛ یو شمېر خلکو په خپلو نظرونو کې د پاکستانیو کلدارو پر چلښت د بندیز غوښتنه کړې او ویلي یې دي چې ټوله راکړه ورکړه دې په افغانیو ترسره شي. دا پر ځای خبره ده، ځکه هر هېواد خپل پولي واحد لري چې د یاد هېواد د هویت ښکارندویي کوي. بله دا چې که په هېواد کې په خپلو پیسو راکړه ورکړه ونه شي، نو ارزښت یې کمېږي. په افغانستان کې هغه مهال چې مرکزي حکومت نه و، نو موږ او تاسو ته معلومه ده چې افغانۍ د بهرنیو اسعارو پر وړاندې خپل ارزښت تر کومه بریده له لاسه ورکړی و. اوس چې په هېواد کې مرکزي او پیاوړی نظام شته، نو باید هم خپلې پیسې رواج کړو او چاته ددې اجازه ورنه کړو چې په بهرنیو اسعارو راکړه ورکړه ترسره کړي. اسلامي امارت په دې برخه کې پرېکنده ګامونه پورته کړي دي، په کومو ولایتونو کې چې کلدارې چلېدې او راکړه ورکړه پرې ترسره کېده، په ټولو کې یې د مخنیوي له پاره ګامونه پورته کړي. اسلامي امارت په پوره جدیت سره له خلکو وغوښتل چې د کلدارو پر ځای دې افغانۍ وکاروي او که څوک سرغړونه وکړي، نو له قانوني چلند سره به مخ شي. اوسمهال تقریبا په ټول هېواد کې راکړه ورکړه په افغانیو ترسره کېږي او همدا لامل دی چې افغانۍ ورځ تر بلې د بهرنیو اسعارو پر وړاندې خپل ارزښت لوړوي. د امیر المومنین شیخ الحدیث مولوي هبة الله اخوند حفظه الله د فرمان پر اساس په ټول هېواد کې د کلدارو پر راکړه ورکړه بندیز ولګول شو. د کلدارو ګرځول، معامله او هر ډول استعمال باندې بندیز دی؛ ټولو والیانو او ولسوالانو ته امر شوی، چې تر دوو میاشتو وروسته هېڅوک په کلدارو راکړه ورکړه نه شي کولای او له سرغړوونکو سره به قانوني چلند کېږي.

✍ **دویم**؛ یو شمېر خلکو بیا په خپلو نظرونو کې ویلي دي چې انفلاسیون دا مهال مخ په ټیټېدو دی. د نړیوال بانک په راپور کې همدې موضوع ته هم اشاره شوې او ویل شوي چې د انفلاسیون کچه را لوېدلې ده. د انفلاسیون د ټیټېدو لامل دادی چې کله په کور دننه د خوراکي توکو په تولید کې زیاتوالی راشي، د بهرنیو اسعارو پر وړاندې د پیسو ارزښت لوړ شي، د خوراکي او غیر خوراکي توکو په بیو کې ټیټوالی راشي، په بانکي سیستم کې پرمختګ وشي او په ځانګړي ډول د سوداګریزو شرکتونو له پاره آسانتیاوې رامنځته شي، کاري فرصتونه زیات شي، د صادراتو ترڅنګ د وارداتو او ملي عوایدو کچه هم زیاته شي او داسې نور لاملونه دي چې ورسره د انفلاسیون کچه ټیټېږي. اسلامي امارت دا کارونه ترسره کړي دي او هڅه یې داده چې په همدې ډول دوام ورکړي او د انفلاسیون کچه ټیټه وساتي.

✍ **درېیم**؛ ځینو کسانو په خپلو نظرونو کې په افغانستان کې د بې کارۍ ستونزې ته اشاره کړې ده او ویلي یې دي چې افغانستان کې هر څه سم دي، یوازې بې کاري ډېره ده. اسلامي امارت هم دا مسله درک کړې ده، نو ځکه خو یې یو شمېر ستري پروژې پیل کړې دي چې پر مټ یې کولای شي د بې کارۍ ستونزې ته پای ورکړي. ددې ترڅنګ د اسلامي امارت له لوري په هېواد کې د کانونو د استخراج چارې روانې دي، په دې برخه کې هم زرګونو کسانو ته د کار زمینه برابره شوې ده. په همدې ډول اسلامي امارت پر دې بسنه نه ده کړې او اوس هم هڅه کوي چې ځینې نوې

پروژې پیل کړي او دغه راز په دې لټه کې هم دی چې په سترو کانونو کې د پانګونې له پاره د کورنیو پانګوالو ترڅنګ بهرني پانګوال هم راجلب کړي. په دې سره به په هېواد کې د نویو کانونو استخراج پیل او په ځینو نورو برخو کې په پانګونې سره به د کار زمینه برابره او د بې کارۍ ستونزه که په بشپړ ډول پای ونه مومي نو تر ډېره بریده به له منځه ولاړه شي.

## پایله

د نړیوال بانک له لوري د روان ۲۰۲۳ میلادي کال د اګست په میاشت کې د افغانستان د اقتصادي وضعیت په اړه یو راپور خپور شو. په دې راپور کې ویل شوي و چې د افغانستان اقتصادي حالت د تېرو میاشتو په پرتله ښه شوی دی. د نړیوال بانک دا په واقعیت ولاړ راپور د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت له لوري وستایل شو او د یوې اعلامیې په خپرولو سره یې وویل چې که نړیواله ټولنه مثبت تعامل ته مخه کړي، نو له شک پرته افغانستان به په اقتصادي برخه کې نور هم پرمختګ وکړي او بار به یې د نړیوالې ټولنې له اوږو سپک شي.

له دې راپور څخه دا په ډاګه کېږي چې نړیواله ټولنه او نړیوال معتبر بنسټونه نور نه شي کولای پر هغو واقعیتونو او پرمختګونو سترګې پټې کړي چې په افغانستان کې رامنځته شوي دي. اسلامي امارت د نړیوالې ټولنې له لوري د لګول شویو بندیزونو سره سره په ټول توان هڅه کوي چې افغانستان په هر ډګر کې پر خپلو پښو ودروي. دا مهال په افغانستان کې د اسلامي امارت له لوري د صنعت، زراعت، برېښنا، زېربناوو، سوداګرۍ، ترانزیټ او دې ته ورته نورو برخو کې د پانګونې له پاره هڅې روانې دي او تر کومه ځایه چې په اسلامي امارت پورې تړاو لري، هغه ترسره شوي دي او په ځینو برخو کې لا هم کار روان دی. که چیرې د افغانستان اقتصادي حالت په همدې ډول دوام ومومي، نو لرې نه ده چې افغانستان به ډېر ژر په هر سکټور کې پر ځان بسیا شي او له اقتصادي پلوه به یو غښتلی هېواد واوسي.

# د ۶.۵ میلیاردو ډالرو په پانګونې سره د ۷ لویو کانونو قراردادونه لاسلیک شول



## سریزه:

له اقتصادي سرچینو څخه ګټه اخیستنه د ځمکې پر سر د بشریت د ژوند د دوام له پاره ډېره مهمه ده او انسانان د خپل ژوند تېرولو له پاره له دې سرچینو د ګټې اخیستنې په لټه کې دي. دې سرچینو ته د لاسرسي له پاره د انسانانو ترمنځ سیالي ان په نړیواله کچه د دوی ترمنځ د جګړو رامنځته کېدو لامل ګرځېدلي دي. د بشر تاریخ د دې ګواه دی چې هېوادونو تل دې اقتصادي سرچینو له هغې جملې کاني زېرمو ته د لاسرسي له پاره چې په نړۍ کې د اقتصاد یوه مهمه برخه ده، هڅه کړې ده. کانونه نن ورځ په نړۍ کې له زیات اهمیت څخه برخمن دي او په نړۍ کې د اقتصادي ټیکاو له زېربناوو څخه ګڼل کېږي. افغانستان هم د هغو هېوادونو له ډلې څخه دی چې پرېمانه طبیعي زېرمې لري، د ترسره شویو څېړنو له مخې افغانستان په سیمه کې د کانونو په برخه کې سیال نه لري. اسلامي امارت د افغانستان طبیعي زېرمو ته په پاملرنې سره هڅه کړې ده چې دا تر خاورو لاندې شتمني راوباسي او د افغانستان کمزوری اقتصاد په خپلو پښو ودروي.
په همدې لړ کې د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په حضور کې د روان لمریز کال د وري میاشتې په ۹مه نېټه د کانونو او پټرولیم وزارت او ګټونکو شرکتونو ترمنځ د ۶.۵ میلیاردو ډالرو په پانګونې سره د ۷ لویو کانونو قراردادونه لاسلیک شول. په دغو قراردادونو کې د هرات ولایت د غوریانو ولسوالۍ د اوسپنې کان څلور بلاکونه شامل دي، چې وطن درخشان شرکت ته چې آذاران صنعتي سازه ایراني شرکت یې ونډوال دی د لومړي بلاک؛ ساحل شرق میانه شرکت ته چې دره نور افغاني او ایپکول ترکي شرکتونه یې ونډوال دي د دوهم بلاک؛ شمش ملي شرکت ته چې


GBM او AD Resources انګلیساتي شرکتونه یې ونډوال دي د دربیم بلاک؛ باختر فولاد شرکت ته چې احیای سپاهان او پارسیان ایراني شرکتونه یې ونډوال دي د څلورم بلاک؛ افغان انویسټ شرکت ته د غور ولایت د تولک ولسوالۍ د سرپو او جستو کان د یو بلاک؛ چینا-افغانستان شرکت ته چې افغانستان زړور شرکت یې ونډوال دی د تخار ولایت د چاه آب ولسوالۍ د سمتي سرو زرو کان او توریا چینایي شرکت ته د لوګر ولایت د دوهم مس عینک کان قراردادونه ورکړل شول. د یادو ۷ قراردادونو د چارو ترسره کولو لپاره په مجموعي ډول ٦ میلیارده او ۵۵۷ میلیونه ډالره پانګونه کېږي، چې زرګونو کسانو ته به کاري زمینه برابره او د هېواد په اقتصادي وضعیت کې به د پام وړ ښه والی راشي.

## د ٦.۵ میلیارد ډالرو په پانګونې سره د ۷ لویو کانونو قراردادونو د لاسلیک کېدو موخه:


موخه یې د ملي عوایدو زیاتوالی، هېوادوالو ته د کاري زمینې برابرول او په ټوله کې د هېواد اقتصادي پرمختګ دی.

## په هغو رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه چې «د ٦.۵ میلیارد ډالرو په پانګونې سره د ۷ لویو کانونو د قراردادونو د لاسلیک کېدو» خبر یې خپور کړی دی:


### الف: دولتي رسنۍ:




### ب: خصوصي رسنۍ:




### د دولتي او خصوصي رسنیو د ارزونې د سلنې مجموعه:





**یادونه:** په دغه ګراف کې په هغو دولتي او خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو سلنه ښودل کېږي چې د ٦.۵ میلیاردو ډالرو په پانګونې سره د ۷ لویو کانونو قراردادونو د لاسلیک کېدو راپور یې په ویډیویي، غږیزه او چاپي بڼه خپور کړی دی.


# په دولتي او خصوصي رسنيو کې د یاد خبر په اړه د خلکو نظرونو ارزونه

## ۱- دولتي رسنيو کې د خلکو نظرونو ارزونه:


### آژانسونه





### تویټرپاڼې




### ویاندویان





### ویبپاڼې





### ورځپاڼې





### راډیوګانې



### تلویزیونونه





### په دولتي رسنیو کې د خلکو د نظرونو د ارزونې ټولګه





## ۲- په خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه:

### تلویزیونونه





### راډیوګانې





### آژانسونه





### ورځپاڼې



### خصـوصي رسـنیو کــې د خلکــو نظرونــو ارزونــې ټولګــه




### خصـوصي او دولتـي رسـنیو کــې د خلکــو نظرونـو ارزونــې ټولګـه




## د ٦.٥ میلیارد ډالرو په پانګونې سره د ۷ لویو کانونو د قراردادونو د لاسلیک کېدو خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه

### د خلکو نظرونو د څېړنې او ارزونې موخه:

په رســنیو او ټولنیزو شــبکو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو څېړنه او ارزونه د خلکو نظرونو روښانتیا او هغو ته د پاملرنــې په مانا ده. د دې مســلې ارزونه او خپرول خلکــو او ټولنې ته دا فرصت په لاس ورکوي چې د حکومت د پرېکړو، کړنو او پروژو په اړه خپل نظرونه، غوښتنې، نیوکې او وړاندیزونه شریک کړي.

### افغانستان کې له ټولنیزو شبکو د ګټې اخیستنې واقعیت

که په ټولنیزو شــبکو کې د هېوادوالو ونډه او فعالیت وڅېړو، نو وبه وینو چې په افغانســتان کې زیاتره خلک د ټوېټر پرځای فېســبوک کاروي. خو په ټوېټر کې بیا تر ډېره بریده رســمي- حکومتي مسوولین او د ســیاسي، اقتصادي او فرهنګي ډګر فعالان ونډه لري. له همدې امله د افغانستان اسلامي امارت رسمي او نارسمي کسان تر فېسبوک په ټوېټر کې ډېر فعالیت لري. خو د رسنیو، دولتي او نادولتي بنسټونو اړوندې ټولنیزې شبکې او همدارنګه د سیاسي، اقتصادي، ټولنیز او فرهنګي ډګر فعالان د عامو خلکو او دغه راز د رســمي اشــخاصو او بنسټونو تر پوښــښ لاندې راوستو په موخه په فېسبوک او ټوېټر دواړو کې فعال دي او هره ورځ خبرونه، شخصي، رسمي او نارسمي راپوررونه خپروي.

## د یاد خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه:

*موږ کولای شو رسنۍ په دوو برخو وویشو: دولتي رسنۍ او خصوصي رسنۍ*

۱. د ۶.۵ میلیاردو ډالرو په پانګونې سره د ۷ لویو کانونو د قراردادونو د لاسلیک کېدو خبر په اړه د تلویزیونونو، راډیوګانې، ورځپاڼو، ویاندویانو، خبري آژانسونو، وېبپاڼو او ټوېټرپاڼو په ګډون په دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په دولتي رسنیو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۳۵۵۸ دی. د دې نظرونو له جملې ۳۲۲۷ مثبت دي. ۲۳۸ منفي نظرونه او ۹۳ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي. مثبت نظرونه ۹۱ ٪، منفي ۷ ٪ او سالم وړاندیزونه ۲ ٪ دي.

۲. د ۶.۵ میلیاردو ډالرو په پانګونې سره د ۷ لویو کانونو د قراردادونو د لاسلیک کېدو خبر په اړه د تلویزیونونو، راډیوګانو، وېبپاڼو او خبري اژانسونو په ګډون په خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په خصوصي رسنیو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۳۷۳۵ دی. د دې نظرونو له جملې ۲۶۵۵ مثبت، ۶۹۲ منفي او ۳۸۸ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي دي. مثبت نظرونه ۷۱ ٪، منفي نظرونه ۱۹ ٪ او سالم وړاندیزونه ۱۰ ٪ دي.

پورتنیو شمېرو ته په پاملرنې د خصوصي رسنیو په پرتله په دولتي رسنیو کې د خلکو د مثبتو نظرونو سلنه لوړه ده. په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه ۹۱، خو په خصوصي رسنیو کې دا سلنه ۷۱ ده. په خصوصي رسنیو کې بیا د منفي نظرونو او وړاندیزونو سلنه لوړه ده، په خصوصي رسنیو کې د منفي نظرونو سلنه ۱۹ او په دولتي هغو کې بیا یوازې ۲ سلنه ده. دغه راز په خصوصي رسنیو کې د وړاندیزونو سلنه ۱۰ او په دولتي کې دا سلنه ۷ ده. که په دولتي او خصوصي رسنیو کې مثبت، منفي نظرونه او سالم وړاندیزونه جمع کړو، په ټوله کې ۵۸۸۲ مثبت نظرونه، ۹۳۰ منفي نظرونه او ۴۸۱ سالم وړاندیزونه دي چې له مخې یې ۸۱٪ مثبت نظرونه، ۱۳٪ منفي نظرونه او ۶ ٪ سالم وړاندیزونه دي.

## دا چې د خصوصي رسنیو په پرتله په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه لوړه ده، لامل یې څه دی؟

یو لامل یې دادی چې خلک د هغو خبرونو په اړه مثبت نظرونه ورکوي، کوم چې د هېواد او خلکو دواړو په ګټه وي او له مخې یې هېواد د پرمختګ په لور ځي. د ۶.۵ میلیاردو ډالرو په پانګونې سره د ۷ لویو کانونو د قراردادونو د لاسلیک کېدو خبر هم چې د هېواد بیارغونه او پرمختګ په ډاګه کوي، د خلکو له تاوده هرکلي سره مخ کېږي او رسنۍ هم هغه خبر چې د خلکو د علاقې وړ وي په زیاته کچه خپروي، هر خبر چې ډېر خپور شي طبیعي خبره ده چې په اړه به یې مثبت نظرونه هم زیات وي. له دې څخه جوتېږي، د حکومت له لوري چې هر ګام پورته کېږي د خلکو له هرکلي سره مخ او په اړه یې خپل نظرونه څرګندوي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو لنډیز په لاندې ډول دی:

د یادونې وړ ده، دلته مو‌ږ یوازې د ګوتو په شمېر نظرونه چې په هغو کې مثبت، منفي نظرونه او وړاندیزونه شامل دي، راوړو، ځکه د ټولو نظرونو یادونه د لیکنې له حوصلې وتلې ده، د نظرونو شمېر لسګونه بلکې سلګونو ته رسېږي.

- تر ځمکه لاندې شتمنۍ په را ایستلو به افغانستان ډېر ژر د پرمختللو هېوادونو په کتار کې ودرېږي او ددې ویاړ به د اسلامي امارت په برخه وي.
- تر ټولو غوره خبره خو داده چې د تېرې ادارې د قانون له مخې به چې د کانونو د استخراج کوم تړونونه په دوه نیم فیصده ونډه لاسلیک کېدل، اوس هغه تړونونه په ۱۳ او پنځوس سلنه ونډه لاسلیک کیږي.
- د هېواد کانونه یوه ستره شتمني ده او د هېواد پر اقتصاد مثبته اغېزه کولای شي، که چېرې په منظم ډول استخراج او سمه ګټه ترې پورته شي او پر زېربناوو ولګول شي، نو افغانستان به ډېر ژر پرمختګ وکړي او اقتصاد به یې غښتلی شي.
- کوم کانونه چې استخراجیږي، باید د موادو پروسس یې په هېواد کې دننه ترسره شي، څو خلکو ته کار روزګار پیدا شي او په عوایدو یې روغتونونه، ښوونځي، برېښنا او داسې نور ورغول شي.
- باید موږ له دې ملي شتمنۍ څخه په سم ډول ګټه پورته کړو، چې ملت مو د اقتصاد له پلوه ښه شي، د عربستان، قطر او متحده عربي اماراتو په څېر پرمختللی هېواد ولرو.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي

**لومړی**؛ ځینو خلکو په خپلو نظرونو کې ویلي دي چې د کابل د تېرې ادارې د قانون له مخې د کانونو د استخراج تړونونه په دوه نیم فیصده ونډه ورکول کېدل خو اوس په ۱۳ او پنځوس فیصده ونډه ورکول کېږي. اسلامي امارت د کانونو د استخراج تړونونو په برخه کې پوره شفافیت رامنځته کړی دی او هڅه یې داده چې له دې کانونو څخه اعظمي ګټه پورته کړي. د کابل تېره اداره چې خپلواکه نه وه، نو همداسې قوانین هم د نورو تر اغېز لاندې و. هغه مهال دا قوانین د هغه چا په لاس جوړېدل چې د افغانستان د ګټو پر ځای د پردیو ګټو ته ژمن وو. نو ځکه خو یې په دې ملي شتمنۍ کې هم ناغېړي کوله. اوس چې په افغانستان کې یو خپلواک او مرکزي نظام رامنځته شوی دی، هڅه یې داده چې له دې ملي شتمنۍ چې کانونه دي، د خپل هېواد په ګټه استفاده وکړي، همدا لامل دی چې په کانونو کې د حکومت ونډه زیاته شوه. په دې سره به د حکومت بودیجې ته پریمانه عواید راشي او پر مټ به یې هېواد د اقتصادي ټیکاو څخه برخمن شي.

✍ **دویم**؛ یو شمېر هېوادوالو په خپلو نظرونو کې کانونه د هېواد شتمني بللې او ویلي یې دي چې که چېرې په سم ډول ګټه ترې پورته شي، نو افغانستان به حتماً پرمختګ وکړي. دا یو واقعیت دی، د تاریخ په اوږدو کې هغو هېوادونو چې له خپلو طبیعي زېرمو څخه یې په سم ډول استفاده کړې ده، هغوی پرمختګ هم کړی دی او نن سبا پر نړۍ راج چلوي، خو کومو ملتونو چې له دې ملي شتمنۍ څخه ګټه نه ده پورته کړې او د نورو لاس ته ناست دي، هغه بیا وروسته پاتې او لـه بې شمېره کړاوونـو سره مخ دي. افغانستان هم یو له هغـو هېوادونو څخه دی چې پـه تېر کې یې دې ملي شتمنۍ ته چندان پاملرنه نه ده کړې او نه یې هم سر پرې خوږولی دی، که یې دا ملي شتمني له ځمکې را ایستلې او پـر زېربنـاوو یـې لګولـې وای، اوس به افغانستان هم د نړۍ د نورو پرمختللو هېوادونو په نوملړ کې شامل و. خو اوس هـم اوبـه لـه ورخـه تېرې نه دي، اسلامي امارت په ټول توان او پوره ژمنتیا هڅه کوي چې دغه طبیعي زېرمې استخراج کړي. د اسلامي امارت مسوولینو په وار وار ویلي چې د کانونو د استخراج په برخه کې پوره شفافیت شته او عواید به یې په هغو زېربناوو ولګول شي، کومې چې کولای شي د هېواد د اقتصادي ټیکاو او پرمختګ له پاره لاره هواره کړي.

✍ **درېیـم**؛ زمـوږ یـو شـمېر هېوادوالـو په خپلو نظرونو کې دې ټکي ته اشاره کړې ده او ویلي یـې دي، کوم کانونه چې استخراجیږي، باید د موادو پروسس یې په هېواد کې دننه ترسره شي، څو هېوادوالو ته د کار زمینه برابره شي. دا ښـه نظر دی، باید همداسې وشي، ځکه که کانونه استخراج شي او کاني مواد په اومه ډول له هېواده وایستل شي، نو بیا یې ګټه دومره نه ده، خو که یې پروسس همدلته وشي، نو په هېواد کې د صنعتي فابریکو له پاره د اومه موادو برابرېدو ترڅنـګ بـه زیـات شـمېر خلکو ته د کار زمینه هم برابره شي. اسلامي امارت همدې ټکي ته پـوره پاملرنه کړې ده. دغه اووه ستر کانونه چې د محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په حضور کې یې قراردادونه وشـول، ددې ټولو پروسس به په هېواد کې دننه ترسره کېږي او بیا به بهر ته لېږدول کېږي. لامل یې دادی چې په دې سره به زرګونو هېوادوالو ته د کار زمینه برابره شي او د خلکو اقتصادي حالت به هم ښه شي.

✍ **څلـورم**؛ ځینـو هېوادوالـو بیـا پـه خپلو نظرونو کې ویـلي چې که چېرې له طبیعي زېرمو څخه سـمه استفاده وشي، نـو زمـوږ هېـواد بـه د عربستان، قطر او متحده عـربي اماراتو په څېر پرمختګ وکـړي. یاد هېوادونه تر ډېـره بریده یوازې نفت لـري او پـه برکت یې اوس پرمختللي هېوادونه دي، خو افغانستان د نفتو او ګازو ترڅنګ بېلا بېل کانونه لري، که استخراج او ګټه ترې پورته شي، نو له دې هېوادونو څخه به زیات پرمختللی شي. اسلامي امارت هڅه کوي چې خپل هېواد د نړۍ د پرمختللو هېوادونو په کتار کې ودروي او دا کار به د همدې ملي شتمنۍ چې طبیعي زېرمې دي، ترسره کـوي. اوسمهال چـې نه بهرنۍ مرستې شـته او نه نړیواله ټولنه مرسـته کوي، اسلامي امارت توانیدلـی دی چې خپل اقتصاد تر یوه بریده په پښو ودروي، لامل یې دادی چې په ابتدایي ډول د کانونو استخراج پیل شوی دی او عواید یې پر ملي اقتصاد مثبته اغېزه کړې ده. که چېرې ټول کانونه استخراج شي، نو بیا خو طبیعي خبره ده چې افغانستان به یو پرمختللی هېواد واوسي.

## پایله

دا چې زموږ هېواد په وچه کې ایســار او نســبتاً وچه هوا لري، نو له دې امله د عوایدو یوازینی سرچینه چې وکولای شي په اوږدمهال کې د افغانســتان اقتصاد له ســقوط څخه وژغوري، هغه د کرنې ســکټور ترڅنګ، په هېواد کې تر ځمکه لاندې طبیعــي زېرمــې دي. سره له دې چې زموږ هېــواد د طبیعي زېرمو له پلوه یو بډای هېواد دی، خو سره له دې هم خلکو یې هوســا ژوند ته د رســېدو په موخه له دې برخې څخه اقتصادي ګټه نه ده پورته کړې، علت یې کیدای شي د حکومتونو نه پاملرنــه وي. د طبیعي زېرمو له جملې څخه د کانونو د عملي اســتخراج په پیلېــدو سره به د کاري فرصتونو رامنځته کېدو سره سره په افغانســتان کې اقتصادي څرخ هم په خوځښــت راشي او دا به ددې لامل وګرځي چې افغانستان به په نړیواله کچــه د پاملرنــې محراق وګرځي او له امله به یې یو زیات شــمېر پانګوال په دې هېواد کې د پانګونې له پاره چمتو شي. د افغانستان په اقتصادي وده کې کانونه د پام وړ رول لري او دا هغه څه دي چې کولای شي اقتصاد پیاوړی او ان د دې لامل هم ګرځېدلی شي چې په هېواد کې شــته ســتونزو ته په بشپړ ډول د پای ټکی کېږدي او افغانستان په خپلو پښو ودروي. اســلامي امارت همدې اهمیت ته په کتو سره هڅه پیل کړې ده چې په هېواد کې شــته کانونه چې ارزښت یې میلیاردونو ډالرو ته رسیږي راوسپړي او د عوایدو پرمټ یې لومړی افغانستان ودان او بیا یې اقتصاد په خپلو پښو ودروي.

# د ۱۴۰۲ لمریز کال په لومړیو پنځو میاشتو کې د ۴۹ میلیاردو افغانیو په ارزښت صادرات شوي



**سریزه:**
په افغانستان کې څلورو لسیزو جګړو د دې هېواد د نورو برخو په څېر د سوداګرۍ برخه هم زیانمنه کړه، د افغانستان غوره صادراتي توکي، لکه غالۍ، تڼغر، وچه مېوه، تازه مېوه ... له صادرېدو پاتې شول، چې له امله یې د دې هېواد اقتصادي وده هم په ټپه ودرېده. اسلامي امارت د هېواد د اقتصادي پرمختګ لپاره هڅې پیل کړې، د دې هڅو په لړ کې سوداګري چې یوه مهمه برخه ده، د اسلامي امارت له لوري ځانګړې پاملرنه ورته شوې او په تېرو شاوخوا دوو کلونو کې یې د پام وړ پرمختګ کړی دی. په دې موده کې د افغانستان صادرات زیات شوي، له صادراتو او وارداتو څخه د راټولېدونکو عوایدو په بهیر کې روڼتیا رامنځته، سوداګرو ته د سوداګرۍ په برخه کې لازمې اسانتیاوې برابرې شوې او له امله یې د افغانستان د سوداګرۍ د پرمختګ بهیر ګړندی شوی دی.


د ۱۴۰۲لمریز کال د حمل میاشتې له لومړۍ د اسد میاشتې تر پایه پورې د افغانستان د صادراتو کچه ۴۹ مېلیارده افغانیو ته رسیدلې ده. د دې کال په لومړیو پنځو میاشتو کې له افغانستان څخه د صادرو شویو توکو ۹٦.۵سلنه پاکستان، هندوستان، ازبیکستان، تاجکستان، ایران، متحده عربي اماراتو، چین، ترکیې، قزاقستان، عراق او پاتې ۳.۵ سلنه توکي د نړۍ نورو هېوادونو ته صادر شوي دي. هغه توکي چې د ټولو صادراتو ٦۰ سلنه جوړوي، هغه د ډبرو سکاره، هنجه، پنبه، انګور، رومي بانجان، ممیز، زیره، زغفران، زردالو او پاتې ۴۰ سلنه نور بېلابېل صادراتي توکي دي.

### د ۱۴۰۲ کال په لومړیو پنځو میاشتو کې د ۴۹ میلیاردو افغانیو په ارزښت د صادراتو موخه:


موخه یې روښانه ده او هغه دا چې د اسلامي امارت په راتګ سره سوداګرۍ پراختیا موندلې او پر مټ یې د صادراتو په کچه کې زیاتوالی راغلی دی.

**په هغو رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه چې «د ۱۴۰۲ کال په لومړیو پنځو میاشتو کې د ۴۹میلیاردو افغانیو په ارزښت د صادراتو» خبر یې خپور کړی دی:**


### الف: دولتي رسنۍ:




### ب: خصوصي رسنۍ:




### د دولتي او خصوصي رسنیو د ارزونې د سلنې مجموعه:





**یادونه:** په دغه ګراف کې په هغو دولتي او خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو سلنه ښودل کېږي چې ۱۴۰۲ لمریز کال په لومړیو پنځو میاشتو کې یې د ۴۹میلیاردو افغانیو په ارزښت د صادراتو راپور په ویډیویي، غږیزه او چاپي بڼه خپور کړی دی.


# په دولتي او خصوصي رسنیو کې د یاد خبر په اړه د خلکو نظرونو ارزونه

## ۱- دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه:


### آژانسونه




### تویټرپاڼې




### ویاندویان





### ورځپاڼې





### راډیوګانې





### تلویزیونونه



## ویب پاڼې





## په دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو د ارزونې ټولګه





## ۲- په خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه:


### تلویزیونونه




### راډیوګانې





### ورځپاڼې





### آژانسونه



### خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه




### خصوصي او دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه




## ۱۴۰۲ کال په لومړیو پنځو میاشتو کې د ۴۹ میلیاردو افغانیو په ارزښت د صادراتو خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه

### د خلکو نظرونو د څېړنې او ارزونې موخه:

په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو څېړنه او ارزونه د خلکو نظرونو روښانتیا او هغو ته د پاملرنې په مانا ده. د دې مسلې ارزونه او خپرول خلکو او ټولنې ته دا فرصت په لاس ورکوي چې د حکومت د پرېکړو، کړنو او پروژو په اړه خپل نظرونه، غوښتنې، نیوکې او وړاندیزونه شریک کړي.

### افغانستان کې له ټولنیزو شبکو د ګټې اخیستنې واقعیت

که په ټولنیزو شبکو کې د هېوادوالو ونډه او فعالیت وڅېړو، نو وبه وینو چې په افغانستان کې زیاتره خلک د ټوېټر پر ځای فېسبوک کاروي. خو په ټوېټر کې بیا تر ډېره بریده رسمي-حکومتي مسوولین او د سیاسي، اقتصادي او فرهنګي ډګر فعالان ونډه لري. له همدې امله د افغانستان اسلامي امارت رسمي او نارسمي کسان تر فېسبوک په ټوېټر کې ډېر فعالیت لري. خو د رسنیو، دولتي او نادولتي بنسټونو اړوندې ټولنیزې شبکې او همدارنګه د سیاسي، اقتصادي، ټولنیز او فرهنګي ډګر فعالان د عامو خلکو او دغه راز د رسمي اشخاصو او بنسټونو تر پوښښ لاندې راوستو په موخه په فېسبوک او ټوېټر دواړو کې فعال دي او هره ورځ خبرونه، شخصي، رسمي او نارسمي راپورونه خپروي.

## د یاد خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه:

*موږ کولای شو رسنۍ په دوو برخو ووېشو: دولتي رسنۍ او خصوصي رسنۍ:*

۱. ۱۴۰۲ کال په لومړیو پنځو میاشتو کې د ۴۹ میلیاردو افغانیو په ارزښت د صادراتو خبر په اړه د تلویزیونونو، راډیوګانې، ورځپاڼو، ویاندویانو، خبري اژانسونو، وېبپاڼو او ټوېټرپاڼو په ګډون په دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه ده. پـه دولتي رسـنیو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او ورانديزونو شـمېر په ټولیـز ډول ۱۰۰۷ دی. د دې نظرونو له جملې ۹۲۵ مثبت دي. ٥٦ منفي نظرونه او ٢٦ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي. مثبت نظرونه ۹۲ ٪، منفي ٦ ٪ او سالم وړاندیزونه ۲ ٪ دي.

۲. ۱۴۰۲ کال پـه لومړیـو پنځو میاشـتو کې د ۴۹ میلیاردو افغانیو په ارزښـت د صادراتو خبر پـه اړه د تلویزیونونو، راډیوګانـو، ورځپاڼـو او خـبري اژانسـونو په ګډون په خصوصي رسـنیو کـې د خلکو نظرونـو څېړنـه او ارزونه ده. په خصوصي رسـنیو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو شـمېر په ټولیز ډول ۱۳۲ دی. د دې نظرونو له جملې ٦۰ مثبـت، ۷۰ منفـي او ۲ سـالم وړاندیزونه دي چـې په جدول کې ترتیب شـوي دي. مثبت نظرونـه ۸۷ ٪، منفي نظرونه ۱۰ ٪ او سـالم وړاندیزونه ۳ ٪ دي.

پورتنیو شـمېرو ته په پاملرنې د خصوصي رسـنیو په پرتله په دولتي رسـنیو کې د خلکو د مثبتو نظرونو سـلنه لوړه ده. په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه ۹۲، خو په خصوصي رسنیو کې دا سلنه ۸۷ ده. په خصوصي رسنیو کې بیا د منفي نظرونو او وړاندیزونه سلنه لوړه ده، په خصوصي رسنیو کې د منفي نظرونو سلنه ۱۰ او په دولتي هغو کې ٦ ده. دغه راز په خصوصي رسنیو کې د وړاندیزونو سلنه ۳ او په دولتي کې دا سلنه ۲ ده. که په دولتي او خصوصي رسنیو کې مثبت، منفي نظرونه او سـالم وړاندیزونه جمع کړو، په ټوله کې ٦۸٥ مثبت نظرونه، ۱۲٦ منفي نظرونه او ۲۸ سـالم وړاندیزونه دي چې له مخې یې ۸۲٪ مثبت نظرونه، ۱٥٪ منفي نظرونه او ۳ ٪ سالم وړاندیزونه دي.

## دا چې د خصوصي رسنیو په پرتله په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه لوړه ده، لامل یې څه دی؟

یـو لامـل یې دادی چې خلک د هغو خبرونو په اړه مثبت نظرونه ورکوي، کوم چـې د هېواد او خلکو دواړو په ګټه وي او له مخې یې هېواد د پرمختګ په لور ځي. ۱۴۰۲ کال په لومړیو پنځو میاشـتو کې ۴۹میلیارده افغانیو په ارزښـت د صادراتو خبر هم چې د هېواد پرمختګ په ډاګه کوي، د خلکو له تاوده هرکلي سره مخ کېږي او رسنۍ هم هغه خبر چې د خلکو د علاقـې وړ وي پـه زیاته کچه خپروي، هر خبر چې ډېر خپور شي طبیعي خبره ده چې په اړه به یې مثبت نظرونه هم زیات وي. له دې څخه جوتېږي، د حکومت له لوري چې هر ګام پورته کېږي د خلکو له هرکلي سره مخ او په اړه یې خپل نظرونه څرګندوي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو لنډیز په لاندې ډول دی:

د یادونې وړ ده، دلته موږ یوازې د ګوتو په شمېر نظرونه چې په هغو کې مثبت، منفي نظرونه او وړاندیزونه شامل دي، راوړو، ځکه د ټولو نظرونو یادونه د لیکنې له حوصلې وتلې ده، د نظرونو شمېر لسګونو نه بلکې سلګونو ته رسېږي.

- واردات هم باید زیات شي، تر څو نرخونه را ټیټ شي او د ملت د بې کارۍ غم دې وخوړل شي.
- ترڅو چې صادرات بهر ته زیات او واردات کم نه شي او همدارنګه زراعت او صنعت ته وده ورنه کړل شي، اقتصاد نه پیاوړی کېږي.
- د اسلامي امارت له راتګ وروسته چې د صادراتو کچه څومره لوړه شوې ده، د هېواد په تاریخ کې ساری نه لري.
- که چېرې د صادراتو کچه د اوس په څېر همداسې روانه وي، نو افغانستان به ډېر ژر له اقتصادي پلوه په پښو ودرېږي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي

✍ **لومړی**؛ یو شمېر هېوادوالو په خپلو نظرونو کې ویلي چې که واردات زیات شي، نو په بازارکې به د لومړنیو خوراکي او سون توکو بیې را ټیټې شي. دا وړاندیز خو پر ځای دی، ولې هر هېواد چې غواړي پرمختګ وکړي، نو هڅه یې باید دا وي چې له وارداتي حالت څخه ځان وباسي او پر یوه صادراتي هېواد بدل شي. تر هغې چې دا چاره ترسره نه شي؛ نه کورنیو تولیداتو ته ښوک پاملرنه کوي او نه دې برخې ته وده ورکوي. د اسلامي امارت هڅه داده چې هېواد له وارداتي حالت څخه وباسي او پر یوه صادراتي هېواد یې بدل کړي، چې د دې هڅو ښه بېلګه یې همدا پورتنۍ خپور شوی خبر دی چې ورځ تر بلې د صادراتو په کچه کې زیاتوالی راځي. که د صادراتو لړۍ په همدې ډول روانه وي؛ نو له شک پرته افغانستان به د یو ستر اقتصادي تحول شاهد واوسي او دا یو ښه زیری دی.

✍ **دوهم**؛ ځینو کسانو په خپلو نظرونو کې دې خبرې ته اشاره کړې ده او ویلي یې دي، د اسلامي امارت د واکمنۍ پر مهال چې د صادراتو کچه څومره لوړه شوې ده، د هېواد په تاریخ کې ساری نه لري. په رښتیا هم که چېرې موږ له اسلامي امارت وړاندې د صادراتو کچې ته نظر وکړو، نو له ورایه ښکاري چې څومره تفاوت پکې موجود دی. په ۱۳۹۹ل کال کې افغانستان د ۷۷۷میلیونه ډالرو په ارزښت صادرات درلودل. خو په ۱۴۰۰ل کال کې د صادراتو کچه یو څه لوړه شوې ده او د صادراتو مجموعي اندازه ۸۵۰ میلیونو ډالرو ته رسېدلې ده. د دې کال په نیمایي کې اسلامي امارت د هېواد واګې په لاس کې واخیستې او د نړۍ له بندیزونو سره سره پر دې وتوانېد، چې د دې کال تر پایه د صادراتو کچه لوړه کړي. په ۱۴۰۱لمریز کال کې دا کچه شاوخوا دوه میلیارد ډالرو ته ورسېده چې دا په رښتیا هم د هېواد په تاریخ کې یو بې ساری ګام و. له دې څخه جوته شوه چې اسلامي امارت په خپلو پلانونو کې تر کومه بریده بریالی دی.

✍ **درېیم**؛ یو شمېر کسانو په خپلو نظرونو کې د صادراتو پر زیاتوالي خوښي ښودلې او ویلي یې دي چې که چېرې د صادراتو بهیر په همدې ډول روان وي، نو ډېر ژر به افغانستان د خپلواک اقتصاد څښتن شي. په رښتیا هم چې د اقتصاد په ټیکاو او پرمختګ کې صادرات ارزښتناک رول لري. د صادراتو څخه چې کوم عواید ترلاسه کېږي په مرسته یې کولای شو بنسټیزې پروژې پیل او بشپړې کړو. زېربناوې ورغوو او د زېربناوو په رغولو سره بېلا بېل سکټورونه لکه کرنه، صنعت، سوداګري او دې ته ورته نور، پر خپلو پښو ودروو او دا د یوه هېواد د پرمختګ او غښتلي اقتصاد د رامنځته کېدو بنسټونه جوړوي.

## پایله

اسلامي امارت د اقتصادي ودې د پیاوړتیا او غښتلتیا له پاره کوټلي ګامونه پورته کړي دي. موږ او تاسو وینو چې د هېواد په هر ګوټ کې د لویو لارو له جوړېدو او رغولو رانیولې، بیا ګاونډیو او آن د نړۍ هېوادونو ته د ځمکې او هوا له لارې د توکو صادرولو بهیر روان دی. په دې برخه کې یوه بېلګه همدا ده چې بهرنیو هېوادونو ته د افغاني محصولاتو په صادراتو کې د پام‌وړ زیاتوالی راغلی دی. د روان ۱۴۰۲ لمریز کال په لومړیو پنځو میاشتو کې د ۴۹ میلیاردو افغانیو په ارزښت توکي بهرنیو هېوادونو ته صادر شوي دي چې دا یو ښه زېری دی، که په روان کال کې د صادراتو بهیر په همدې ډول روان وي، هیله شته چې د تېر کال څخه به هم د صادراتو کچه لوړه شي. که دا بهیر همداسې روان وي، نو افغانستان به په لنډ وخت کې له وارداتي حالته بهر او په یوه صادراتي هېواد به بدل شي، چې ورسره به د افغانستان اقتصاد په پښو ودرېږي او د اقتصاد په برخه کې شته ستونزې به هم مهار او هم به ورسره په هېواد کې د بې کارۍ کچه صفر ته راټیټه شي.

# کابل کې «د افغانستان سوداګریزې او اقتصادي اړیکې» تر سرلیک لاندې کنفرانس جوړ شو




**سریزه:**

په افغانستان کې اوس مهال د پانګونې له پاره ټول هغه شرایط برابر شوي دي، کومو ته چې پانګوال اړتیا لري. اسلامي امارت د پانګوالو ملاتړ کوي، اداري پروسې یې اسانه کړې دي او تر ټولو مهمه دا چې د پانګوالو د سر او مال امنیت یې خوندي کړی دی. همدا لامل دی چې د کورنیو پانګوالو ترڅنګ یو زیات شمېر بهرنیو پانګوالو په افغانستان کې پانګونې ته زړه ښه کړی دی. په همدې لړ کې د وږي په ۱۵مه نېټه د افغانستان- امریکا سوداګرۍ خونې او د افغانستان سوداګرۍ شورا له لوري «د افغانستان سوداګریزې او اقتصادي اړیکې» تر سرلیک لاندې په کابل کې کنفرانس جوړ شو. په دې کنفرانس کې د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وویل، اوسمهال په افغانستان کې سرتاسري امنیت راغلی، د فساد پر وړاندې جدي مبارزه پیل شوې، د صادراتو ترڅنګ د وارداتو او ملي عوایدو کچه زیاته شوې، په کور دننه د خوراکي توکو په تولید کې زیاتوالی راغلی، د لویو پروژو چارې پیل شوې او همدارنګه صنعت، سوداګرۍ او ترانزیټ هم پرمختګ کړی. محترم ملا صاحب د خپلو خبرو پر مهال وویل چې اسلامي امارت د خصوصي سکټور د ملاتړ په موخه پر خامو موادو مالیه کمه کړې، صنعتي پارکونو پراختیا موندلې، د سوداګرۍ د پراختیا لپاره د لویو لارو بیارغونه پیل شوې او د اوسپنې پټلۍ له لارې له سیمې سره د افغانستان د نښلولو چارې هم جریان لري. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند دغه کنفرانس ته وویل چې له طبیعي سرچینو بډایه هېواد، د پانګونې ملاتړې حکومت، ځوان،


وړ او ارزانه کاري ځواک، د سیمه‌ییز اتصال له لارې نړیوالو بازارونو ته لاسرسی، د پانګونې لپاره پراخه چاپېریال او د پانګونې لپاره اسانه قوانین هغه موضوعات دي چې په افغانستان کې یې د پانګونې لپاره زمینه برابره کړې ده. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند کورنیو او بهرنیو پانګوالو ته ډاډ ورکړ چې په افغانستان کې د پانګونې د زمینې په برابرېدو سره نه یوازې افغانانو، بلکې بهرنیو پانګوالو ته هم فرصت برابر شوی او دوی کولی شي دلته د برېښنا، کانونو، زراعت، ترانسپورت، زېربناوو، ټکنالوژۍ او روغتیا ترڅنګ په ګڼو نورو سکټورونو کې هم پانګونه وکړي. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند زیاته کړه، اسلامي امارت د ټولو پانګوالو لپاره د پانګونې اسانه قوانین رامنځته کړي او پر دې سربېره یې افغانستان ته د دوی د راتلو او دلته په بېلابېلو برخو کې د پانګونې او په دولتي ادارو کې له سرګردانۍ د خلاصېدو په موخه یوه بین‌الوزارتي کمېټه جوړه کړې، چې پانګوالو ته به ټول اړین معلومات او سهولتونه برابروي. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند نړیوال سیاست او حالاتو ته په اشارې سره وویل، چې د افغانستان په شاوخوا کې د سمندري سوداګریزو لارو امنیت ته په کتو د ځمکنیو لارو ارزښت ورځ تر بلې زیاتېږي، چې په دې سره به افغانستان د خپل جیو ستراتیژیک موقعیت اهمیت په واقعي ډول پیدا کړي. په همدې موخه اسلامي امارت هڅه کوي چې د افغانستان سوداګریزې ترانسپورټي لارې په اساسي ډول جوړې کړي او پر مټ یې له هغو ګاونډیو هېوادونو سره وصل شي، چې اوسمهال ورسره اتصال نه لري. اسلامي امارت هڅه کوي چې په ټول هېواد کې لویې لارې، سړکونه او د اوسپنې پټلۍ شبکې جوړې او پراخې کړي. په پای کې یو ځل بیا محترم ملا عبدالغني برادر اخوند ټولو کورنیو او بهرنیو پانګوالو ته ډاډ ورکړ چې اسلامي امارت یې بشپړ ملاتړ کوي او په دغه برخه کې ورته ټول اړین سهولتونه برابروي. په دغه کنفرانس کې پر افغان پانګوالو سربېره یوشمېر امریکایي او د ځینو نورو هېوادونو لسګونو پانګوالو هم ګډون کړی و، چې په افغانستان کې یې د رامنځته شویو عیني پرمختګونو ستاینه وکړه او په مختلفو برخو کې یې پانګونې ته لېوالتیا وښوده.

## کابل کې«د افغانستان سوداګریزې او اقتصادي اړیکې» تر سرلیک لاندې کنفرانس د جوړېدو موخه:


موخه یې د بهرنیو پانګوالو راجلبول دي. ځکه نن سبا په افغانستان کې د پانګونې له پاره زمینه برابره ده او اسلامي امارت هڅه کوي چې له فرصت څخه په استفادې سره په هغو برخو کې پانګوالو پانګونې ته راجلب کړي، چې کولای شي د هېواد په اقتصادي وده کې مثبت رول ولوبوي.

## په هغو رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه چې کابل کې «د افغانستان سوداګریزې او اقتصادي اړیکې» تر سرلیک لاندې کنفرانس د جوړېدو خبر یې خپور کړی دی:


### الف: دولتي رسنۍ:




### ب: خصوصي رسنۍ:




### د دولتي او خصوصي رسنیو د ارزونې د سلنې مجموعه:





**یادونه:** په دغه ګراف کې په هغو دولتي او خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو سلنه ښودل کېږي چې کابل کې«د افغانستان سوداګریزې او اقتصادي اړیکې» تر سرلیک لاندې کنفرانس د جوړېدو راپور یې په ویډیویي، غږیزه او چاپي بڼه خپور کړی دی.


# په دولتي او خصوصي رسنیو کې د یاد خبر په اړه د خلکو نظرونو ارزونه

## ۱- دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه:

### راډیوګانې





### تلویزیونونه





### ورځپاڼې





### ویاندویان





### ټویټرپاڼې





### ویب پاڼې



### آژانسونه





### په دولتي رسنيو کې د خلکو نظرونو د ارزونې ټولګه





## ۲- په خصوصي رسنيو کې د خلکو نظرونو ارزونه:


### تلويزيونونه




### راډيوګانې




### ويبپاڼې





### آژانسونه




## ورځپاڼې




## خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه




## خصوصي او دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه




## کابل کې«د افغانستان سوداګریزې او اقتصادي اړیکې» تر سرلیک لاندې کنفرانس جوړېدو خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه

### د خلکو نظرونو د څېړنې او ارزونې موخه:

په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو څېړنه او ارزونه د خلکو نظرونو روښانتیا او هغو ته د پاملرنې په مانا ده. د دې مسلې ارزونه او خپرول خلکو او ټولنې ته دا فرصت په لاس ورکوي چې د حکومت د پرېکړو، کړنو او پروژو په اړه خپل نظرونه، غوښتنې، نیوکې او وړاندیزونه شریک کړي.

## افغانستان کې له ټولنیزو شبکو د ګټې اخیستنې واقعیت:

که په ټولنیزو شــبکو کې د هېوادوالو ونډه او فعالیت وڅېړو، نو وبه وینو چې په افغانســتان کې زیاتره خلک د ټوېټر پرځای فېســبوک کاروي. خو په ټوېټر کې بیا تر ډېره بریده رســمي- حکومتي مسوولین او د ســیاسي، اقتصادي او فرهنګي ډګر فعالان ونډه لري. له همدې امله د افغانستان اسلامي امارت رسمي او نارسمي کسان تر فېسبوک په ټوېټر کې ډېر فعالیت لري. خو د رسنیو، دولتي او نادولتي بنسټونو اړوندې ټولنیزې شبکې او همدارنګه د سیاسي، اقتصادي، ټولنیز او فرهنګي ډګر فعالان د عامو خلکو او دغه راز د رســمي اشــخاصو او بنسټونو تر پوښــښ لاندې راوستو په موخه په فېسبوک او ټوېټر دواړو کې فعال دي او هره ورځ خبرونه، شخصي، رسمي او نارسمي راپورونه خپروي.

## د یاد خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه:

*موږ کولای شو رسنۍ په دوو برخو ووېشو: دولتي رسنۍ او خصوصي رسنۍ:*

۱. کابل کې«د افغانستان سوداګریزې او اقتصادي اړیکې» تر سرلیک لاندې کنفرانس د جوړېدو خبر په اړه د تلویزیونونو، راډیوګانې، ورځپاڼو، ویاندویانو، خبري اژانســونو، وېبپاڼو او ټوېټرپاڼو په ګډون په دولتي رســنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په دولتي رســنیو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو شــمېر په ټولیز ډول ۳۰۲۲ دی. د دې نظرونو له جملې ۲۸٦۸ مثبت دي. ۱۲۱ منفي نظرونه او ۳۳ ســالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي. مثبت نظرونه ۹۵ ٪، منفي ۴ ٪ او سالم وړاندیزونه ۱ ٪ دي.

۲. کابل کې«د افغانســتان ســوداګریزې او اقتصادي اړیکې» تر سرلیک لاندې کنفرانس جوړېدو خبر په اړه د تلویزیونونو، راډیوګانــو، ورځپاڼــو، وېبپاڼو او خبري اژانســونو په ګډون په خصوصي رســنیو کې د خلکو نظرونو څېړنــه او ارزونه ده. په خصــوصي رســنیو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو شــمېر په ټولیــز ډول ۲۵۳۸ دی. د دې نظرونو له جملې ۱۹۹۹ مثبت، ۳۴۰ منفي او ۱۹۹ ســالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شــوي دي. مثبت نظرونه ۷۹ ٪، منفي نظرونه ۱۳ ٪ او سالم وړاندیزونه ۸ ٪ دي.

پورتنیو شــمېرو ته په پاملرنې د خصوصي رســنیو په پرتله په دولتي رســنیو کې د خلکو د مثبتو نظرونو ســلنه لوړه ده. په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه ۹۵، خو په خصوصي رسنیو کې دا سلنه ۷۹ ده. په خصوصي رسنیو کې بیا د منفي نظرونو ســلنه لوړه ده، په خصوصي رســنیو کې د منفي نظرونو سلنه ۱۳ او په دولتي هغو کې بیا یوازې ۴ ده. که په دولتي او خصوصي رســنیو کې مثبت، منفي نظرونه او ســالم وړاندیزونه جمع کړو، په ټوله کې ۴۸٦۷ مثبت نظرونه، ۴٦۱ منفي نظرونه او ۲۳۲ سالم وړاندیزونه دي چې له مخې یې ۸۸٪ مثبت نظرونه، ۸٪ منفي نظرونه او ۴ ٪ سالم وړاندیزونه دي.

## دا چې د خصوصي رسنيو په پرتله په دولتي رسنيو کې د مثبتو نظرونو سلنه لوړه ده، لامل يې څه دی؟

يـو لامـل يې دادی چې خلک د هغو خبرونو په اړه مثبت نظرونه ورکوي، کوم چــې د هېواد او خلکو دواړو په ګټه وي او له مخې يې هېواد د پرمختګ په لور ځي. کابل کې«د افغانستان سوداګريزې او اقتصادي اړيکې» تر سرليک لاندې کنفرانس جوړېدو خبر هم چې د هېواد بيارغونه او پرمختګ ته هيلې زياتوي، د خلکو له تاوده هرکلي سره مخ کېږي او رسـنۍ هم هغه خبر چې د خلکو د علاقې وړ وي په زياته کچه خپروي، هر خبر چې ډېر خپور شي طبيعي خبره ده چې په اړه به يې مثبـت نظرونــه هم زيات وي. له دې څخه جوتېږي، د حکومت له لوري چې هر ګام پورته کېږي د خلکو له هرکلي سره مخ او په اړه يې خپل نظرونه څرګندوي.

## پـه رسـنيو او ټولنيزو شـبکو کې د خلکو نظرونـو لنډيز په لاندې ډول دی:

د يادونې وړ ده، دلته موږ يوازې د ګوتو په شمېر نظرونه چې په هغو کې مثبت، منفي نظرونه او وړانديزونه شامل دي، راوړو، ځکه د ټولو نظرونو يادونه د ليکنې له حوصلې وتلې ده، د نظرونو شمېر لسګونو نه بلکې سلګونو ته رسېږي.

- د اوسنيو مسوولينو دا اقدام د ستايلو وړ دی، ځکه د ټولو بدمرغيو مور فقر او بې وزلي ده، له نړۍ سره پر متقابل احترام ولاړ تعامل کولای شي چې هېواد مو په هر ډګر کې پر مختګ وکړي او د ګاونډيو له احتياجه مو خلاص کړي او ددې ضرورت به پيدا نه شي، چې خپل مريضان د درملنې او ځوانان د کار لپاره ګاونډيو هېوادونو ته واستوو.
- سياست، تعليم، رغونه، اقتصاد، حکومتولي، وطن ته وفاداري، يوازې هم دغه موجوده نظام خلک دي.
- خصوصي سکټور ته وده ورکول به د افغانانو پر اقتصاد مثبت تاثير ولري.
- ډېره ښه خبره ده جنګ ختم شو اوس بايد اقتصاد ته کار او بيارغونه وشي، دا د افغانانو لپاره ښه زېری دی.

## په رسنيو او ټولنيزو شبکو کې د خلکو نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

**لومړی**؛ يو شـمېر خلکو په خپلو نظرونو کې له نړۍ سره پر متقابل احترام ولاړ تعامل ته اشـاره کړې ده او ويلي يـې دي چـې لـه دې سره بـه هېـواد په هر ډګر کـې پرمختګ وکړي، د ګاونډيانو او نور له احتياجه به خلاص شـو او بې وزلي به پای ومومي. اسـلامي امارت تل پر دې ټينګار کړی دی چې له نړۍ سره پر متقابل احترام ولاړ تعامل تـه چمتـو دی، خـو دا نـړۍ ده چـې دا ډول تعامـل نـه غواړي او تل هڅـه کوي چـې هېوادونه تر خپـل تاثير لاندې راولي او دوی چـې څـه ورتـه وايي هغه بايـد عملي کړي. دوی د هېوادونو خپلواکۍ ته درناوی نه کوي او په هر څه کې خپلې غوښـتنې عملي کوي، په داسـې حال کې چې هر هېواد خپل معتقدات لري چې نه شي کولای هغه د

نـورو تابـع وگرځـوي. کـه چېـرې دا کار وکړي نو انجام به بیـا هم هغه وي لکه څنگه چې موږ او تاسـو په تېرو څلورو لسـیزو کې د سر په سـترگو ولید.

✍ **دوهـم؛** خصـوصي سـکټور تـه وده ورکول بـه د افغانانو پر اقتصاد مثبـت تاثیر ولري. ځینو خلکو پـه خپلو نظرونو کې ویلي دي چې که خصوصي سکټور ته وده ورکړل شي او ملاتړ یې وشي، نو دا به پر اقتصاد مثبت اغیز وکړي. د دوی دا نظر پـر ځـای دی. کـه چېـرې د خصـوصي سـکټور ملاتړ وشي او د کار لـه پاره زمینه ورتـه برابره شي، نو لـه یـوه لـوري پـه هېـواد کې د پانگونـې کچه لوړېږي او له بل لوري ددې سـکټور پـر مټ هېـواد د صنعتي کېدو په لـور ځـي. لـه دې سره هـم د هېواد اقتصـادي ثبات رامنځتـه کېږي او هم خلکو تـه د کار زمینه برابرېږي. اسـلامي امارت د خصوصي سکټور پر اهمیت پوه دی، له همدې امله یې تل د خصوصي سـکټور ملاتړ کړی دی. اسـلامي امـارت پـه کانونـو او نـورو یو شـمېر مهمو پروژو کې خصوصي سـکټور ته ونډه ورکـړې ده او موخه یې داده چې دغه برخه په پښـو ودروي.

✍ **درېیم؛** زموږ یو شـمېر هېوادوالو په خپلو نظرونو کې ویلي چې اوسـمهال په هېواد کې بشـپړ امنیت دی او باید د هېـواد رغونـې تـه متـې رابډ وهل شي. د اسـلامي امارت په بیا ځلی واکمنېدو سره په ربښـتیا هم سرتاسري امنیت راغلی دی او د بیارغونې په برخه کې هم چټک گامونه پورته شـوي دي. په ټول هېواد کې د سـترو پروژو په گډون بېـلا بېلـې پـروژې پیـل شـوې دي. ددې ترڅنگ د سـوداگرۍ په برخه کـې پرمختگ شـوی او د صادراتو کچه لوړه شـوې ده. د کرنـې او صنعـت پـه برخـه کې د امـکان تر بریده گامونه پورته شـوي دي. دا ټول هغـه کارونه دي چې کولای شي افغانسـتان آباد او هم یې اقتصاد په خپلو پښـو ودرېږي.

## پایله

په افغانستان کې اوس مهال د پانگونې له پاره ټول هغه شرایط برابر شوي دي، کومو ته چې پانگوال اړتیا لري. همدا لامل دی چې د کورنیو پانگوالو ترڅنگ یو زیات شمیر بهرنیو پانگوالو په افغانستان کې پانگونې ته زړه ښه کړی دی. اوسمهال پــه افغانســتان کې سرتاسري امنیت راغلی، د فســاد پر وړاندې جدي مبارزه پیل شــوې، د صادراتــو ترڅنگ د وارداتو او ملي عوایدو کچه زیاته شــوې، په کور دننه د خوراکي توکو په تولید کې زیاتوالی راغلی، د لویو پروژو چارې پیل شــوې او همدارنگه صنعت، ســوداگرۍ او ترانزیټ هم پرمختگ کړی. اســلامي امارت د خصوصي ســکټور د ملاتړ په موخه پر خامو موادو مالیه کمه کړې، صنعتي پارکونو پراختیا موندلې، د ســوداگرۍ د پراختیا لپاره د لویو لارو بیارغونه پیل شــوې او د اوســپنې پټلۍ له لارې له ســیمې سره د افغانستان د نښلولو چارې هم جریان لري. دا ټول هغه څه دي چې د پانگونې له پاره یې لار پرانستې ده. همدې شرایطو ته په کتو نن سبا د کورنیو پانگوالو ترڅنگ بهرني پانگوال هم لیوالتیا ښیي چې په افغانستان کې پانگونه وکړي. د افغانستان- امریکا سوداگرۍ خونې د رئیس په گډون د امریکا د سوداگرو او پانگوالو راتگ ددې خبرې ښکارندویي کوي چې دې ټولو دا درک کړې او په دې پوه دي چې په افغانستان کې د پانگونې له پاره زمینه برابره شوې ده او په دې هم پوه دي چې له دې فرصت څخه گټه پورته کړي. اسلامي امارت هم د پانگوالو د راتگ هرکلی کوي او هڅه یې داده چې افغانستان ته پانگه راجلب او پر مټ یې د هېواد د رغونې ترڅنگ خپل اقتصاد هم غښتلی کړي.

# پانګوالو ته د اسانتیاوو برابرولو له پاره د پانګونې بین الوزارتي کمېټه جوړه شوه



**سریزه:**

پانګونه هغه موضوع ده چې اهمیت یې له هېچا پټ نه دی. د پانګونې د اهمیت لاملونه کولای شو د زیات عواید ترلاسه کول، د شتمنۍ خوندي ساتل او په راتلونکي کې ګټه یاده کړو. اسلامي امارت همدې اهمیت ته په کتو، د پانګونې د جلب لـه پـاره اغېزنـاک ګامونـه پورته کړي دي او په هېواد کـې یې د کورنۍ او بهرنۍ پانګونې له پاره زمینه برابره کړې ده. په دې لړ کې یې وروستی ګام کورنیو او بهرنیو پانګوالو ته د لازمو اسانتیاوو برابرولو په موخه د اقتصادي معاونیت تر چتر لاندې د پانګونې بین الوزارتي کمېټه رامنځته کول و. د عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب حفظه الله د ځانګړي فرمان پر اساس او د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د هدایت او د اقتصادي کمېسیون د ۱۴۴۵ هـ.ق کال د دوهمې ګنې مصوبې پر بنسـټ د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټه رامنځته او د روان لمریز کال د سـنبلې میاشـتې په ۲۵مه نېټه یې لومړنۍ غونډه ترسره شـوه. په غونډه کې د اقتصادي مرسـتیال ځانګړي سـکرتر مولوي عبدالله عزام وویل، د اسـلامي امارت په راتګ سره افغانسـتان د اقتصاد په ډګر کې لومړني ګامونه اخیسـتي او له نېکه‌مرغه ښـه نتیجه یې هم ورکړې ده. ښـاغلي عزام زیاته کړه، افغانسـتان د پانګونې په برخه کې بې شـمېره فرصتونه لري او دغه کمېټه به کورنیو او بهرنیو پانګوالو ته لازمې آسانتیاوې برابرې او په امارتي ادارو کې به د بیروکراسۍ مخنیوی وکړي. ورپسې مولوي ذبیح‌الله نـاصر چـې د پانګونـې بین‌الـوزارتي کمېټـې مسـوولیت پر غـاړه لري، دخپلو خـبرو پر مهال وویـل، دغه کمېټـه د اقتصادي معاونیـت تـر چـتر لانـدې فعالیت کـوي او موخه یې تر واحد چتر لاندې د کورنۍ او بهرنـۍ پانګونې د طرحو طی مراحل، د پانګونې پروسو کې چټکتیا او شفافیت رامنځته کول او د پانګوالو او اړوندو وزارتونو ترمنځ مؤثره همغږي رامنځته کول دي.


د غونډې په پای کې پرېکړه وشوه چې ټول اړوند وزارتونه به ددغې کمېټې د کړنلارې د غني کېدو په موخه خپل نظرونه په کتبي ډول د یادې کمېټې له دارالانشاء سره شریک کړي او هلته به د مؤظفې کمېټې له لوري د نظرونو له توحید وروسته یـوه جامـع کړنـلاره ترتیب او د منظورۍ لپاره به اقتصادي کمېسـیون ته وړاندې شي. له نیکـه مرغه د دغې کمېټې کړنلاره ترتیب او او د اقتصادي کمېسیون له لوري منظور شوه.

## پانګوالو ته د اسانتیاوو برابرولو له پاره د پانګونې بین الوزارتي د کمېټې جوړېدو موخه

موخـه یـې پـه هېـواد کـې د پانګونـې د پروسـو اسـانه کـول او پانګوالـو تـه د اسـانتیاوو رامنځته کـول او پـه دې برخه کې د بیروکراسۍ مخنیوی دی.

## په هغو رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه چې «پانګوالو ته د اسانتیاوو برابرولو له پاره د پانګونې بین الوزارتي کمیټې د جوړېدو» خبر یې خپور کړی دی:


### الف: دولتي رسنۍ:




### ب: خصوصي رسنۍ:




### د دولتي او خصوصي رسنیو د ارزونې د سلنې مجموعه:





**یادونه:** په دغه ګراف کې په هغو دولتي او خصوصي رسـنیو کـې د خلکـو نظرونو سـلنه ښـودل کېږي چې پانګوالو ته د اسـانتیاوو برابرولو له پاره د پانګونې بین الـوزارتي کمېټې جوړېدو راپور یې په ویډیویي، غږیزه او چاپي بڼه خپور کړی دی.


# په دولتي او خصوصي رسنيو کې د ياد خبر په اړه د خلکو نظرونو ارزونه

## ۱- دولتي رسنيو کې د خلکو نظرونو ارزونه:


### تلويزيونونه





### راډيوګانې




### ټوېټرپاڼې





### وېبپاڼې





### ورځپاڼې




### اژانسونه




## په دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو د ارزونې ټولګه




## ۲- په خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه:


### تلویزیونونه




### راډیوګانې





### ویبپاڼې





### آژانسونه



**خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه**




**خصوصي او دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه**




## پانګوالو ته د اسانتیاوو برابرولو له پاره د پانګونې بین الوزارتي کمېټې د جوړېدو خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه

### د خلکو نظرونو د څېړنې او ارزونې موخه:

په رســنیو او ټولنیزو شــبکو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو څېړنه او ارزونه د خلکو نظرونو روښانتیا او هغو ته د پاملرنــې په مانا ده. د دې مســلې ارزونه او خپرول خلکــو او ټولنې ته دا فرصت په لاس ورکوي چې د حکومت د پرېکړو، کړنو او پروژو په اړه خپل نظرونه، غوښتنې، نیوکې او وړاندیزونه شریک کړي.

### افغانستان کې له ټولنیزو شبکو د ګټې اخیستنې واقعیت:

که په ټولنیزو شــبکو کې د هېوادوالو ونډه او فعالیت وڅېړو، نو وبه وینو چې په افغانســتان کې زیاتره خلک د ټوېټر پرځای فېسـبوک کاروي. خو په ټوېټر کې بیا تر ډېره بریده رســمي- حکومتي مسوولین او د ســیاسي، اقتصادي او فرهنګي ډګر فعالان ونډه لري. له همدې امله د افغانستان اسلامي امارت رسمي او نارسمي کسان تر فېسبوک په ټوېټر کې ډېر فعالیت لري. خو د رسنیو، دولتي او نادولتي بنسټونو اړوندې ټولنیزې شبکې او همدارنګه د سیاسي، اقتصادي، ټولنیز او فرهنګي ډګر فعالان د عامو خلکو او دغه راز د رســمي اشــخاصو او بنسټونو تر پوښــښ لاندې راوستو په موخه په فېسبوک او ټوېټر دواړو کې فعال دي او هره ورځ خبرونه، شخصي، رسمي او نارسمي راپورونه خپروي.

### د یاد خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه:

*موږ کولای شو رسنۍ په دوو برخو ووېشو: دولتي رسنۍ او خصوصي رسنۍ:*

۱. پانګوالــو ته د اســانتیاوو برابرولو له پاره د پانګونې بین الوزارتي کمېټې د جوړېدو خــبر په اړه د تلویزیونونو، راډیوګانو، ورځپاڼو، ویاندویانو، خبري اژانسونو او ټوېټرپاڼو په ګډون په دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په دولتي

رســنیو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو شــمېر په ټولیز ډول ۹۴۵ دی. د دې نظرونو له جملې ۸۸۷ مثبت دي. ۴۵ منفي نظرونه او ۱۳ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي. مثبت نظرونه ۹۴ ٪، منفي ۵ ٪ او سالم وړاندیزونه ۱ ٪ دي.

۲. پانګوالــو تــه د اســانتیاوو برابرولو له پاره د پانګونې بین الــوزارتي کمېټې جوړېدو خبر پــه اړه د تلویزیونونو، راډیوګانو، ورځپاڼو، وېبپاڼو او خبري اژانسونو په ګډون په خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په خصوصي رسنیو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۲۱۷ دی. د دې نظرونو له جملې ۱۶۹ مثبت، ۳۳ منفي او ۱۵ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي دي. مثبت نظرونه ۷۸ ٪، منفي نظرونه ۱۵ ٪ او سالم وړاندیزونه ۷ ٪ دي.

پورتنیو شمېرو ته په پاملرنې د خصوصي رسنیو په پرتله په دولتي رسنیو کې د خلکو د مثبتو نظرونو سلنه لوړه ده. په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه ۹۴، خو په خصوصي رسنیو کې دا سلنه ۷۸ ده. په خصوصي رسنیو کې بیا د منفي نظرونو او وړاندیزونو سلنه لوړه ده، په خصوصي رسنیو کې د منفي نظرونو سلنه ۱۵ او په دولتي هغو کې بیا یوازې ۱ فیصد ده. که په دولتي او خصوصي رسنیو کې مثبت، منفي نظرونه او سالم وړاندیزونه جمع کړو، په ټوله کې ۱۰۵۶ مثبت نظرونه، ۷۸ منفي نظرونه او ۲۸ سالم وړاندیزونه دي چې له مخې یې ۹۱٪ مثبت نظرونه، ۷٪ منفي نظرونه او ۲ ٪ سالم وړاندیزونه دي.

## دا چې د خصوصي رسنیو په پرتله په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه لوړه ده، لامل یې څه دی؟

یــو لامــل یې دادی چې خلک د هغو خبرونو په اړه مثبت نظرونه ورکوي، کوم چــې د هېواد او خلکو دواړو په ګټه وي او له مخې یې هېواد د پرمختګ په لور ځي. پانګوالو ته د اسانتیاوو برابرولو له پاره د پانګونې بین الوزارتي کمېټې جوړېدو خبر هم چې د هېواد بیارغونه او پرمختګ په ډاګه کوي، د خلکو له تاوده هرکلي سره مخ کېږي او رســنۍ هم هغه خبر چې د خلکو د علاقې وړ وي په زیاته کچه خپروي، هر خبر چې ډېر خپور شي طبیعي خبره ده چې په اړه به یې مثبت نظرونه هم زیــات وي. لــه دې څخه جوتېږي، د حکومت له لوري چې هر ګام پورته کېږي د خلکو له هرکلي سره مخ او په اړه یې خپل نظرونه څرګندوي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

که چېرې د خلکو نظرونو ته پام وکړو نو دوی په خپلو نظرونو کې پانګوالو ته د اسانتیاوو رامنځته کولو له پاره د بین الوزارتي کمېټې جوړېدل ستایلي دي او دا یې د اسلامي امارت له لوري د پانګوالو د راجلبولو په برخه کې یو مهم ګام بللی دی. دا کمېټه د امیر المومنین شیخ الحدیث هبة الله اخوندزاده حفظه الله د ځانګړي فرمان له مخې جوړه شــوې چې موخه یــې د پانګونــې برخــه کــې د اســانتیاوو رامنځ ته کول او په دې برخه کې بیروکراســۍ ته پای ورکــول دي. دغه بین الوزارتي کمېټــه د اقتصــادي معاونیــت تــر چــتر لاندې فعالیت کــوي او په فعالیتونو کې یــې د پانګونې لپاره د طرحــو طی مراحل، د

پانگونې د بهیر چټکتیا او روښوالۍ رامنځ ته کول دي. ددې کمېټې په جوړېدو سره به کورني او بهرني پانگوال نور هم په افغانستان کې پانگونې ته وهڅول شي. کله چې په هېواد کې د پانگونې کچه زیاته شي، نو طبیعي خبره ده چې د هېواد بېلا بېل سکټورونه به پرمختگ وکړي او له دې سره به هم بې روزگاره خلکو ته د کار زمینه برابره شي، صنعت به وده وکړي او اقتصاد به پیاوړی شي. اسلامي امارت هڅه کوي چې افغانانو ته د کاري فرصتونو د برابرولو لپاره خپلې هڅې نورې هم گړندۍ کړي. د یادونې وړ ده چې څه موده وړاندې په کابل کې «د افغانستان سوداگریزې او اقتصادي اړیکې» تر سرلیک لاندې کنفرانس جوړ شو. په دغه کنفرانس کې پر افغان پانگوالو سربېره یوشمېر امریکایي او د ځینو نورو هېوادونو لسگونو پانگوالو هم گډون کړی و چې په افغانستان کې یې د رامنځته شویو عیني پرمختگونو ستاینه وکړه او په مختلفو برخو کې یې پانگونې ته لېوالتیا وښوده. ددې ټولو خبرو مانا داده چې اسلامي امارت په هره برخه کې د هېواد پرمختگ او اقتصادي ودې تـه ژمـن دی او غـواړي د خپلـو کورنیو عوایدو ترڅنگ پانگونـه هم راجلب کړي او پرمټ یې هغه زېربنایي پروژې عملي کړي چې کولای شي د افغانستان له اقتصادي پرمختگ سره مرسته وکړي.

## پایله

اســلامي امــارت د یوه مســؤل حکومت په توگه هڅه کوي چې د هېــواد د پرمختگ په برخه کې خپــل فعالیتونه لا چټک او گړنــدي کــړي. په دې لړ کې د پانگوالو له پاره د اســانتیاوو رامنځته کولو په موخــه د بین الوزارتي کمېټې جوړول دي. ددې کمېټــې د جوړېدو موخه کورنیو او بهرنیو پانگوالو ته لازمې آســانتیاوې برابرول او په امارتي ادارو کې د بیروکراســۍ مخنیوی، د پانگونې لپاره د طرحو طی مراحل، د پانگونې د بهیر چټکتیا او روښوالۍ ښــودل شــوي دي. له دې وړاندې د اقتصادي فعالیتونو د چټکتیا په خاطر د اقتصادي مشــورتي بورډ طرح د اقتصادي کمیســیون له لوري تایید شوه. له دې څخه معلومېږي چې اســلامي امارت هڅه کوي چې د اقتصادي پرمختگ له پاره ټولې هغه دروازې چې کولای شي ددې برخې په وده او پرمختگ کې رغند رول لري، پرانیزي. اوســمهال په افغانســتان کې د پانگونې له پاره زمینه برابره شوې او موږ تاسو وینو چې د کورنیو پانگوالو ترڅنگ بهرني پانگوال هم لیوالتیا ښیي چې په افغانستان کې پانگونه وکړي. دا ددې ښکارندویي کوي چې په افغانستان کې د پانگونې له پاره زمینه برابره شوې ده. خو اسلامي امارت بیا هم هڅه کوي چې د پانگونې په برخه کې شته کوچنۍ ستونزې هم له مخې لرې کړي او په همدې خاطر یې دا کمېټه جوړه کړه. ددې کمېټې په جوړېدو سره به پانگوال نور هم دې ته زړه ښــه کړي چې په افغانســتان کې پانگونه وکړي او هر څومره چې د پانگونې کچه لوړه شي، په هماغه اندازه به د افغانستان پرمختگ حتمي او اقتصاد به یې پیاوړی شي.

# د لس مېګاواټه لمریزې برېښنا د تولید پروژې پرانیسته؛ د ځان بسیاینې په لور یو بل ګام



## سریزه:

د برېښنا کمی د افغانستان لویه او دوامداره ستونزه ده، چې تر دې دمه یې هېڅ حکومت پر حل نه دی بریالی شوی. افغانستان پربمانه اوبه او د برېښنا د تولید له پاره نوري سرچینې لري؛ خو په هېواد کې د څو لسیزو جګړو او زمور پر هېواد د بهرنیو یرغلګرو د یرغلونو له امله افغانان نه دي توانېدلي، چې له خپلو روانو اوبو او نورو سرچینو څخه د برېښنا په تولید کې ګټه واخلي. په تېرو څه باندې دوو لسیزو کې د کابل تېرې اداري هم له ګاونډیو هېوادونو څخه برېښنا واردوله او د هېواد دننه د برېښنا د تولید کورنیو سرچینو ته ډېره کمه پاملرنه شوې ده. په افغانستان کې د امریکایي اشغال له پای ته رسېدو او د افغانستان اسلامي امارت له بیا حاکمېدو سره، د نورو برخو په شان د برېښنا په برخه کې هم د شته ستونزو د حل په موخه هلې ځلې پیل شوې دي. په همدې موخه د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان لمریز کال د وږي میاشتې په ۲۸مه نېټه د کابل په سروبي ولسوالۍ کې له نغلو بند سره نږدې د لس مېګاواټه لمریزې برېښنا د تولید پروژه پرانیستله. له همدې امله په جوړو شویو مراسمو کې د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د خپلو خبرو پر مهال وویل، افغانستان د ټولو افغانانو ګډ کور دی، دلته یې عزت خوندي دی او همدا یې د پېژندنې او هویت سمبول دی. همدا لامل دی چې اسلامي امارت د تېرو نظامونو برعکس د دې ځورېدلي ولس د خدمت او د هېواد د آبادۍ لپاره ژمن او متعهد دی. محترم ملا صاحب زیاته کړه، اسلامي امارت دا درک کړې ده چې د پیاوړي اقتصاد درلودو لپاره صنعت او د صنعت د پرمختګ لپاره برېښنا تر ټولو مهمه ده. همدې موخې ته د رسېدو لپاره اسلامي امارت په کور دننه د برېښنا تولید په خپلو لومړیتونو کې نیولی او په ټولو پانګوالو یې غږ


کړی چې په کور دننه د برېښنا تولید په برخه کې پانګونه وکړي. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال زیاته کړه: «د همدې هڅو په دوام دا دی اوس د لس مېګاواټه لمریزې برېښنا د تولید پروژې د پیل شاهدان یوو. د برېښنا د تولید په برخه کې به د افغانستان اړتیا ته په کتو دا پروژه کوچنۍ ښکاري، خو ما ته خودکفایۍ ته د رسېدو په برخه کې ډېره مهمه ده. دا د دې ښکارندويي کوي چې موږ خودکفایۍ ته د رسېدو په برخه کې لس مېګاواټه د نورو له احتیاجه خلاص شوو.» د غونډې په پای کې محترم ملا صاحب وویل اسلامي امارت د برېښنا اهمیت ته په کتو وپتېیله چې له ترکمنستان څخه د غځېدونکي ۵۰۰ کیلو ولټ مزي پروژې د چارو بشپړولو قرارداد د یو کان په بدل کې افغان انوېسټ شرکت ته ورکړي، چې په دې سره به افغانستان ته د سلګونو مېګاواټه برېښنا د انتقال زمینه برابره او په کلني ډول به ۲۰۰ مېلیونه ډالره سپما شي. محترم ملا صاحب یوځل بیا پر کورنیو او بهرنیو پانګوالو غږ وکړ چې د افغانستان په بیارغونه کې برخه واخلي او دلته له رامنځته شوو اقتصادي فرصتونو څخه استفاده وکړي. د لس میګاواټه لمریزې برېښنا د تولید دغه پروژه د اسلامي امارت په ملاتړ د خصوصي سکټور له لوري د یو کال په موده کې بشپړېږي.

**د لس مېګاواټه لمریزې برېښنا د تولید پروژې پرانیسته؛ د ځان بسیاینې په لور یو بل ګام موخه:**


موخه یې په کور دننه د برېښنا د تولید له سرچینو استفاده او په دې برخه کې شته ستونزو ته پای ورکول دي.

**په هغو رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه چې «د لس مېګاواټه لمریزې برېښنا د تولید پروژې پرانیسته؛ د ځان بسیاینې په لور یو بل ګام» خبر یې خپور کړی دی:**


**الف: دولتي رسنۍ:**




**ب: خصوصي رسنۍ:**



## د دولتي او خصوصي رسنيو د ارزونې د سلنې مجموعه:





**يادونه:** په دغه ګراف کې په هغو دولتي او خصوصي رسنيو کې د خلکو نظرونو سلنه ښودل کېږي چې د لس مېګاواټه لمريزې برېښنا د توليد پروژې پرانيسته؛ د ځان بسياينې په لور يو بل ګام په اړه يې په ويډيويي، غږيزه او چاپي بڼه راپور خپور کړی دی.


## په دولتي او خصوصي رسنيو کې د ياد خبر په اړه د خلکو نظرونو ارزونه

### ۱- دولتي رسنيو کې د خلکو نظرونو ارزونه:

#### آژانسونه




#### ټوېټرپاڼې





#### ویاندویان




#### ورځپاڼې




### تلویزیونونه




### راډیوګانې





### په دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو د ارزونې ټولګه





## ۲- په خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه:


### تلویزیونونه




### راډیوګانې




### ورځپاڼې





### آژانسونه




### خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه




### خصوصي او دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه




## د لس مېګاواټه لمریزې برېښنا د تولید پروژې پرانیسته؛ د ځان بسیاینې په لور یو بل ګام خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه

### د خلکو نظرونو د څېړنې او ارزونې موخه:

په رســنیو او ټولنیزو شــبکو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو څېړنه او ارزونه د خلکو نظرونو روښانتیا او هغو ته د پاملرنــې په مانا ده. د دې مســلې ارزونه او خپرول خلکــو او ټولنې ته دا فرصت په لاس ورکوي چې د حکومت د پرېکړو، کړنو او پروژو په اړه خپل نظرونه، غوښتنې، نیوکې او وړاندیزونه شریک کړي.

## افغانستان کې له ټولنیزو شبکو د ګټې اخیستنې واقعیت

که په ټولنیزو شـبکو کې د هېوادوالو ونډه او فعالیت وڅېړو، نو وبه وینو چې په افغانســتان کې زیاتره خلک د ټوېټر پرځای فېسـبوک کاروي. خو په ټوېټر کې بیا تر ډېره بریده رسـمي- حکومتي مسوولین او د سـیاسي، اقتصادي او فرهنګي ډګر فعالان ونډه لري. له همدې امله د افغانستان اسلامي امارت رسمي او نارسمي کسان تر فېسبوک په ټوېټر کې ډېر فعالیت لري. خو د رسنیو، دولتي او نادولتي بنسټونو اړوندې ټولنیزې شبکې او همدارنګه د سیاسي، اقتصادي، ټولنیز او فرهنګي ډګر فعالان د عامو خلکو او دغه راز د رسـمي اشـخاصو او بنسټونو تر پوښـښ لاندې راوستو په موخه په فېسبوک او ټوېټر دواړو کې فعال دي او هره ورځ خبرونه، شخصي، رسمي او نارسمي راپورونه خپروي.

## د یاد خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه:

*موږ کولای شو رسنۍ په دوو برخو ووېشو: دولتي رسنۍ او خصوصي رسنۍ:*

۱. د لس مېګاواټه لمریزې برېښـنا د تولید پروژې پرانیسـته؛ د ځان بسـیاینې په لور یو بل ګام خبر په اړه د تلویزیونونو، راډیوګانې، ورځپاڼو، ویاندویانو، خبري اژانســونو او ټوېټرپاڼو په ګډون په دولتي رسـنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په دولتي رسنیو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۱۳۱۷ دی. د دې نظرونو له جملې ۱۲۲۱ مثبت دي. ٦۴ منفي نظرونه او ۳۲ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي. مثبت نظرونه ۹۳ ٪، منفي ۵ ٪ او سالم وړاندیزونه ۲ ٪ دي.

۲. د لس مېګاواټه لمریزې برېښـنا د تولید پروژې پرانیسـته؛ د ځان بسـیاینې په لور یو بل ګام خبر په اړه د تلویزیونونو، راډیوګانـو، ورځپاڼو او خبري اژانســونو په ګډون په خصوصي رسـنیو کې د خلکو نظرونو څېړنـه او ارزونه ده. په خصوصي رسـنیو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو شـمېر په ټولیز ډول ۳۴۳ دی. د دې نظرونو له جملې ۲۸۱ مثبت، ۴۱ منفي او ۲۱ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي دي. مثبت نظرونه ۸۲ ٪، منفي نظرونه ۱۲ ٪ او سالم وړاندیزونه ٦ ٪ دي.

پورتنیو شمېرو ته په پاملرنې د خصوصي رسنیو په پرتله په دولتي رسنیو کې د خلکو د مثبتو نظرونو سلنه لوړه ده. په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه ۹۳، خو په خصوصي رسنیو کې دا سلنه ۸۲ ده. په خصوصي رسنیو کې بیا د منفي نظرونو سـلنه لوړه ده، په خصوصي رسـنیو کې د منفي نظرونو سـلنه ۱۲ او په دولتي هغو کې بیا ۵ ده. که په دولتي او خصوصي رسـنیو کې مثبت، منفي نظرونه او سـالم وړاندیزونه جمع کړو، په ټوله کې ۱۵۰۲ مثبت نظرونه، ۱۰۵ منفي نظرونه او ۵۳ سالم وړاندیزونه دي چې له مخې یې ۹۰٪ مثبت نظرونه، ٦٪ منفي نظرونه او ۴ ٪ سالم وړاندیزونه دي.

## دا چې د خصوصي رسنیو په پرتله په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه لوړه ده، لامل یې څه دی؟

یو لامل یې دادی چې خلک د هغو خبرونو په اړه مثبت نظرونه ورکوي، کوم چې د هېواد او خلکو دواړو په ګټه وي او له مخې یې هېواد د پرمختګ په لور ځي. د لس مېګاواټه لمریزې برېښنا د تولید پروژې پرانیسته؛ د ځان بسیاینې په لور یو بل ګام خبر هم چې د هېواد بیارغونه او پرمختګ ته هیلې زیاتوي، د خلکو له تاوده هرکلي سره مخ کېږي او رسنۍ هم هغه خبر چې د خلکو د علاقې وړ وي په زیاته کچه خپروي، هر خبر چې ډېر خپور شي طبیعي خبره ده چې په اړه به یې مثبت نظرونه هم زیات وي. له دې څخه جوتېږي، د حکومت له لوري چې هر ګام پورته کېږي د خلکو له هرکلي سره مخ او په اړه یې خپل نظرونه څرګندوي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو لنډیز په لاندې ډول دی:

د یادونې وړ ده، دلته موږ یوازې د ګوتو په شمېر نظرونه چې په هغو کې مثبت، منفي نظرونه او وړاندیزونه شامل دي، راوړو، ځکه د ټولو نظرونو یادونه د لیکنې له حوصلې وتلې ده، د نظرونو شمېر لسګونه بلکې سلګونو ته رسېږي.

- داسې د پرمختګ او آبادۍ خبرونه دې لا ډېر شي، امنیت، برېښنا او سړک د یوه هېواد د آبادۍ اساسي عناصر دي.
- غوره ده چې د لمریزې برېښنا تر څنګ د هېواد په هغو ولایتونو کې چې هلته د برېښنا د بندونو جوړولو امکان شته، بندونه جوړ شي، ترڅو موږ په دې برخه کې پرځان بسیا او د ګاونډیو له احتیاجه خلاص شو.
- هیله من یوو چې دغه پروژه بشپړه او له برېښنا څخه یې خلک برخمن شي، خو په افغانستان کې ډېری پروژې همداسې نیمګړې پاتې شي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

لومړی؛ په ټولـه کـې هېوادوالـو د لـس مېګاواټه لمریـزې برېښـنا د تولید پـروژې د پرانیسـتې هرکلی کړی دی او دا یـې د برېښـنا د تولیـد پـه برخـه کـې یـو سـتر ګام بللـی دی. دوی په خپلـو نظرونو کې ویلي دي چـې امنیت، برېښـنا او لویـې لارې او سـړکونه د یـوه هېـواد د آبادۍ او پرمختګ اسـاسي عناصر دي. په رښـتیا هـم تر هغې چې پـه یـوه هېـواد کـې امنیـت نـه وي، هلته بیـا د پرمختګ او ابادۍ څرک نـه لګي. ځکـه ناامني حکومتونـه دې ته نه پرېـږدي چـې هغـه پـه ډاډه زړه خپلـې چـارې پرمخ بوځـي او دا بیا د هېـواد پرمختګ لـه ننګونو سره مـخ کوي. که یـو هېـواد غـواړي چـې پرمختـګ وکـړي او صنعـت یـې پراختیا ومـوي، نو اړینـه ده چې د برېښـنا په برخه کې شـته سـتونزې هوارې کړي او لویې لارې خو بیا د سـوداګرۍ او ترانزیټ له پاره اړینې دي. په رغولو او جوړولو سره یې دغـه دواړې برخـې وده کـولای شي. اسـلامي امارت همـدې اهمیت ته په کتو سره دادی هڅـه پیل کړې ده چې د برېښـنا د تولیـد پـه برخـه کې له خپلو شـته منابعـو څخه پوره ګټه پورته کړي چې د لس مېګاواټه لمریزې برېښـنا د تولید پروژې پرانیسـته یې ښـه بیلګه ده.

✍ **دويـم**؛ يـو شـمير خلکـو بيـا وړانديز کړی چې د لمريـزې برېښـنا ترڅنګ که په ځينو سـيندونو د برېښـنا له پاره بندونـه جـوړ شي، نـو افغانسـتان به په دې برخه کې خودکفا او د ګاونډيـو هېوادونو له احتياجه به خلاصی وومي. دا پـر ځـای وړانديـز دی، ځکـه تر هغې چې افغانسـتان په کور دننه د برېښـنا د توليد له منابعو څخه په بشـپړ ډول ګټه پورته نه کړي، نه شي کولای د برېښـنا په برخه کې خودکفايي ته ورسـېږي. اسـلامي امارت دا موضوع په ښـه ډول درک کـړې ده او همـدا لامـل دی چـې پـه دې برخه کې يې خپلې هلې ځلـې ورځ تر بلې زياتې کړې دي. که مـوږ او تاسـو وګـورو پـه تېـرو شـاوخوا دوو کلونو کې د افغانسـتان پـه زياترو هغو بندونـو چې د برېښـنا د توليد وړتيا لـري، کارونـه پيـل شـوي دي او لا هـم روان دي. ددې مانـا داده چې اسـلامي امـارت په ټول تـوان هڅه کوي چې د هېواد د برېښـنا سـتونزه هواره او په دې برخه کې خودکفا شي. د لس ميګاواټه لمريزې برېښـنا د پرانيسـتې په مراسـمو کـې د رياسـت الـوزراء اقتصـادي مرسـتيال محترم مـلا عبدالغنـي برادر اخونـد دې ټکي ته اشـاره وکړه او ويـې ويـل چـې د پياوړي اقتصاد درلودو لپاره صنعت او د صنعت د پرمختګ لپاره برېښـنا تر ټولو مهمه ده. همدې موخې ته د رسـېدو لپاره اسـلامي امارت په کور دننه د برېښـنا توليد په خپلو لومړيتونو کې نيولی دی. د امکاناتو برابرېدو په صورت کې به اسـلامي امارت په ټولو هغو سـيندونو بندونه جوړ کړي چې د برېښـنا د توليد وړتيا لري.

✍ **دريـيم**؛ يـو شـمېر خلکـو پـه خپلـو نظرونو کې هيله ښـودلې چـې دا پروژه بشـپړه او خلک ترې ګټـه پورته کړي، دا ځکـه چې پـه افغانسـتان کـې ډېـری پـروژې پيل شي خو بشـپړې نه شي. که چيـرې د خبر متن تـه وګورو، نو د رياسـت الوزراء اقتصادي مرسـتيال په خپلو خبرو کې دې ټکي ته په اشـارې سره ويلي دي چې اسـلامي امارت د تېـرو نظامونـو برعکـس د دې ځوربـدلي ولـس د خدمـت او د هېواد د آبـادۍ لپاره ژمن او متعهـد دی. له دې څخه جوته شوه چې اسلامي امارت هر څه چې کوي هغه ته ژمن دی او هېڅ کار نيمګړی نه پرېږدي. هېوادوال بايد له دې پلوه پوره ډاډمن واوسي چې اسلامي امارت هره پروژه چې پيل کړي پای ته رسوي او نن سبا موږ او تاسو وينو چې زياتره پروژې بشـپړې شـوې او ګټې اخيسـتنې ته سـپارل شـوې دي. اسـلامي امارت د هرې پروژې د څار په برخه کې جدي دی او چاته ددې اجازه نه ورکوي چې پروژه په نيمايي کې پرېږدي. له هر قراردادي شرکت څخه د قرارداد د لاسـليک پر مهال دوې ژمنې اخلي يو د پروژې د کيفيت او بل پر وخت د پروژې پای ته رسـول چې دا ددې ښـکارندويي کوي چې اسـلامي امارت پروژې نيمګړې نه پرېږدي بلکې په هر صورت چې وي بشـپړوي يې.

## پایله

انرژي په ځانګړي ډول برېښنا د اقتصادي ودې له پاره مهم فکټور بلل کېږي. د اقتصاد هر سکټور په یوه نه یو ډول انرژۍ ته اړتیا لري. له ساینسي انکشافاتو وړاندې د انرژۍ اړتیاوې له څارویو، انسانانو او هوا څخه پوره کېدې، خو کله چې ساینس پرمختګ وکړ؛ نو ځای یې د انرژۍ د تولید نویو توکو لکه اوبو، د ډبرو سکرو، تېلو، ګازو او داسې نورو ونیو. که موږ غواړو انرژي تولید کړو، اړ یوو چې له طبیعي زېرمو، پرمختللې ټکنالوژۍ او بشري ځواک څخه ګټه پورته کړو. کوم هېوادونه چې سیاسي ټیکاو ولري، هغه کولای شي د خپلو طبیعي زېرمو د راایستلو له پاره ټکنالوژي وکاروي او د کارونې له پاره یې مسلکي خلک وروزي. نن سبا د انرژۍ سکټور ته باید ځانګړې پاملرنه وشي، ځکه هېڅ کار له برېښنا پرته سرته نه شي رسېدلی. افغانستان د برېښنا د تولید له پاره پرېمانه اوبه، تېل او ګاز، د ډبرو سکاره او ترڅنګ یې بل الهي نعمت لمر او باد هم شته چې کولای شي برېښنا تولید کړي. اسلامي امارت دې ټکو ته په پاملرنې سره په دې برخه کې کوټلي ګامونه پورته کړي دي. هڅه یې داده چې په کور دننه برېښنا تولید کړي او پر مټ یې صنعت ته وده ورکړي. د صنعت په ودې سره به اقتصاد غښتلی او هېواد به پرمختګ وکړي.

# اقتصادي کمېسیون؛ د کانونو د ساتنې په موخه جوړه شوې کړنلاره تایید کړه



**سریزه:**

د افغانستان اسلامي امارت ټولې پراختیایي پروژې دننه په هېواد کې له کورنیو عوایدو او کانونو له لارې تمویلوي. په دې وروستیو کې د ملي تدارکاتو کمېسیون له لوري چې مشري یې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند پر غاړه ده، د ۷مېلیارده افغانیو په ارزښت په بیلابیلو برخو کې ۲۵ پروژې منظورې کړې. ددې ترڅنګ همدا اوسمهال د قوش تېپې کانال، سالنګ لویې لارې، کابل- کندهار لارې او لسګونو نورو پروژو سربېره، د کانونو د استخراج، د اوبو مدیریت، روغتیا او کرنې په برخو کې د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې پر لویو پروژو کار روان دی. له دې څخه معلومېږي چې اسلامي امارت د هېواد پرمختګ او په خپلو پښو درېدو ته مهمې رانغښتې او هڅه کوي له دې لارې اقتصادي ټیکاو رامنځته کړي. په همدې لړ کې د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د روان لمریز کال د وږي میاشتې په ۲۹مه نېټه د اقتصادي کمېسیون نوبتي غونډه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره او له اجنډا سره سم پر ټاکل شوو موضوعاتو بحث وشو. د اقتصادي کمېسیون له لوري تر هر اړخیزې ارزونې وروسته پرېکړه وشوه چې کانونو او پټرولیم وزارت دې د کشک – تیرپل نفتي حوزې د جیوفزیکي سروې ګانو قرارداد آزادې داوطلبۍ ته وړاندې کړي. یاده نفتي حوزه د ۲۳ زره کیلومتر مربع مساحت په درلودو سره ټول‌ټال ۱۰ بلاکونه لري، چې د هرات او بادغیس ولایتونو ۱۳ ولسوالۍ رانغاړي. په غونډه کې تر مفصل بحث وروسته پرېکړه وشوه چې د اقتصادي معاونیت د استازي په مشرۍ دې له ملي دفاع، کورنیو چارو او مالیې وزارتونو او د استخباراتو لوی ریاست له مرستیالانو څخه متشکل هیئت د سټنډرډ ملي ادارې په ملتیا د هېواد بندرونو ته سفر وکړي او هلته دې د بې کیفیته تېلو او په ټانکرونو کې د سرباري

موضوع پـه هـر اړخیزه توګـه وڅېړي او خپل راپور دې اقتصادي کمېسـیون ته وړاندې کړي. د عامه او خصوصي مشـارکت لـه لارې د هـرات ولایـت ګذرې ولسـوالۍ د مسـافر وړونکو موټـرو د ترمینل او فاریاب ولایت د آقینې بنـدر تیر پارک جوړولو پروژو طرحه د اقتصادي کمېسـیون له لوري په پرنسـیپ کې تایید شـوه. د دغې طرحې پر اسـاس به خصوصي سـکټور د ټرانسـپورټي اصولـو سره سـم د شـاوخوا دوه میلیـارده افغانیـو په ارزښـت پانګونه وکړي، چـې د جوړولو چارې بـه یې په دوو کلونو کې بشپړې او سلګونو کسانو ته به د کار زمینه ورسره برابره شي. د کندهار ولایت د نېش ولسوالۍ د فلورایټو کان د قراردادونو قېمتونه د اصلاح په موخه د اقتصادي کمېسـیون تخنیکي کمېټې په هر اړخیز ډول څېړلي وو. د یادې کمېټې څېړنو او موندنو ته په کتو اقتصادي کمېسـیون د یادو فلورایټو د في ټن لپاره ۱۵زره افغانۍ قیمت وټاکه. د لغمان شـاهي کانال پروژې د بشپړولو په اړه د اقتصادي کمېسیون له لوري د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ او اوبو او انرژۍ وزارتونو ته دنده وسپارل شوه، څو په ګډه د دغه کانال پاتې تخنیکي مطالعات ترسره او د یادې پروژې په تړاو خپلې دندې مشخصې کړي. د اقتصـادي کمېسـیون لـه لـوري پرېکړه وشـوه چې د دغـه کانال د جوړولو مصـارف دې د ۱۴۰۳ مـالي کال په پراختیایي بودیجه کې ونیول شي. همدارنګه د جوزجان ولایت قوش تېپې او درزاب ولسـوالیو ته د برېښـنا رسـولو په اړه د اقتصادي کمېسیون له لوري پرېکړه وشوه، چې د یو کان په بدل کې دې له مرکز شبرغان څخه یادو ولسوالیو ته له ترکمنستان څخه د راتلونکي برېښنا لین وغځول شي، څو هلته د مېشتو هېوادوالو ستونزې حل شي. په تورخم بندر کې هېوادوالو ته د ښو خدماتـو وړانـدې کولـو او لازمو سـهولتونو رامنځته کولو په موخه اقتصادي کمېسـیون پرېکړه وکـړه، چې دغه ګمرک ته دې نـږدې ۵۴۰ جریبـه ځمکه مالیې وزارت ته تسـلیم شي، څو هلتـه ټولو اړوندو ادارو ته کارځایونه جوړ شي. د غونډې په پای کې پرېکړه وشوه چې په خوست، پکتیا، پکتیکا او لوګر ولایتونو کې دې هغه وچ د سون لرګي چې اوسمهال په موټرو کې بـار او یـا لـه خلکو سره په کورونو کې پراته دي، د یوې میاشـتې په جریـان کې په ضمانتي ډول د انتقال اجازه ورکړل شي. په همدې موخه ټاکل شـوي هیئت ته دنده وسـپارل شـوه چې د راتلونکي لپاره دې د ځنګلونو د سـاتنې په موخه یو جامع طرزالعمـل جـوړ او د منظـورۍ لپاره دې اقتصادي کمېسـیون ته وړاندې کړي. دغـه راز د محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون نوبتي غونډه کې تر هر اړخیز بحث وروسته د کانونو او پټرولیم وزارت له لوري د کانونو د سـاتنې په موخه جوړه شـوې کړنلاره تایید شـوه او کانونو وزارت ته دنده وسـپارل شـوه، څو د عامه سـاتنې ملي تصدۍ سره د بحـث وړ ټکـو د حـل پـه موخه ناسـته وکړي. د عامه سـاتنې ملي تصـدي به په ټول هېواد کې د کانونو د سـاتنې په موخه ځانګـړې شـوې قطعـه لا پیـاوړې او منظمـه کـړي، چې لـه مخې به یـې د غیر قانـوني او خپلسرو کیندنـو مخنیوی وشي. د اقتصادي کمېسیون په ناسته کې پرېکړه وشوه چې ارزګان ولایت ته د برېښنا رسولو په موخه دې د اوبو او انرژۍ وزارت او د افغانستان برېښنا شرکت له لوري ترتیب شوی راپور، د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه مقام دفتر ته واستول شي او د هدایت مطابق دې بیا اقدام وشي. د اقتصادي کمېسیون په یاده غونډه کې د کور او ښار جوړولو وزارت، د ارزاقو دولتي شرکت او کابل ښاروالۍ څخه جوړې شوې کمېټې ته دنده وسپارل شوه، څو د کابل ښار د پنځمې ناحیې اړوند د کمپنۍ په سـاحه کې د مېوو او سـبزیو مارکېټ لپاره له ښـاري اصولو سره سـمه طرحه جوړه او د منظورۍ په موخه یې د اقتصادي کمېسیون راتلونکي مجلس ته وړاندې کړي. د غونډې په پای کې په ساختماني پروژو کې د غوري او جبل السراج سیمنټو کارولـو پـه اړه د اقتصـادي معاونیـت د اسـتازي په ګډون د ټولګټو، د کلیـو بیارغونې او پراختیا، کور او ښـار جوړولو وزارتونو


او همدارنګه د ملي پراختیا شرکت او د سټنډرډ ملي اداري څخه جوړې شوې ګډې کمېټې ته دنده وسپارل شوه، څو د غوري او جبل السراج سیمنټو د کیفیت ټیسټونه بیاځلې ترسره او خپل راپور په پنځو اونیو کې اقتصادي کمېسیون ته د نهایي تصمیم نیونې په موخه راولیږي.

## د کانونو د ساتنې په د موخه جوړه شوې کړنلارې د تایید موخه:


موخه یې د هېواد د طبیعي سرچینو او کانونو ساتنه ده او د کانونو د ناقانونه سپړنو مخنیوی دی.

## په هغو رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه چې «د کانونو د ساتنې په موخه د جوړه شوې کړنلارې د تایید» خبر یې خپور کړی دی:


### الف: دولتي رسنۍ:




### ب: خصوصي رسنۍ:




## د دولتي او خصوصي رسنیو د ارزونې د سلنې مجموعه:





**یادونه:** په دغه ګراف کې په هغو دولتي او خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو سلنه ښودل کېږي چې د کانونو د ساتنې په موخه د جوړه شوې کړنلارې د تایید په اړه یې په ویډیويي، غږیزه او چاپي بڼه راپور خپور کړی دی.


# په دولتي او خصوصي رسنیو کې د یاد خبر په اړه د خلکو نظرونو ارزونه

## ۱- دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه:


### آژانسونه




### تونیرپاڼي





### ویاندویان





### ورځپاڼي




### تلویزیونونه




### راډیوګاني




## په دولتي رسنیو کې د خلکو د نظرونو د ارزونې ټولګه




## ۲- په خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه:


### تلویزیونونه




### راډیوګانې





### ورځپاڼې





### آژانسونه



## خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه




## خصوصي او دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه




## د کانونو د ساتنې په موخه د جوړه شوې کړنلارې د تایید خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه

### د خلکو نظرونو د څېړنې او ارزونې موخه:

په رســنیو او ټولنیزو شــبکو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو څېړنه او ارزونه د خلکو نظرونو روښانتیا او هغو ته د پاملرنــې په مانا ده. د دې مســلې ارزونه او خپرول خلکــو او ټولنې ته دا فرصت په لاس ورکوي چې د حکومت د پرېکړو، کړنو او پروژو په اړه خپل نظرونه، غوښتنې، نیوکې او وړاندیزونه شریک کړي.

### افغانستان کې له ټولنیزو شبکو د ګټې اخیستنې واقعیت:

که په ټولنیزو شــبکو کې د هېوادوالو ونډه اوفعالیت وڅېړو، نو وبه وینو چې په افغانســتان کې زیاتره خلک د ټوېټر پرځای فېســبوک کاروي. خو په ټوېټر کې بیا تر ډېره بریده رســمي- حکومتي مسوولین او د ســیاسي، اقتصادي او فرهنګي ډګر فعالان ونډه لري. له همدې امله د افغانستان اسلامي امارت رسمي او نارسمي کسان تر فېسبوک په ټوېټر کې ډېر فعالیت لري. خو د رسنیو، دولتي او نادولتي بنسټونو اړوندې ټولنیزې شبکې او همدارنګه د سیاسي، اقتصادي، ټولنیز او فرهنګي ډګر فعالان د عامو خلکو او دغه راز د رســمي اشــخاصو او بنسټونو تر پوښــښ لاندې راوستو په موخه په فېسبوک او ټوېټر دواړو کې فعال دي او هره ورځ خبرونه، شخصي، رسمي او نارسمي راپورونه خپروي.

## د یاد خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه:

*موږ کولای شو رسنۍ په دوو برخو وویشو: دولتي رسنۍ او خصوصي رسنۍ:*

۱. د کانونو د ساتنې په موخه جوړه شوې کړنلارې د تایید خبر په اړه د تلویزیونونو، ورځپاڼو، ویاندویانو، خبري اژانسونو او ټوېټرپاڼو په ګډون په دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په دولتي رسنیو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۲۱۳۱ دی. د دې نظرونو له جملې ۲۰۱۲ مثبت دي. ۷۶ منفي نظرونه او ۴۳ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي. مثبت نظرونه ۹۴ ٪، منفي ۴ ٪ او سالم وړاندیزونه ۲ ٪ دي.

۲. د کانونو د ساتنې په موخه د جوړه شوې کړنلارې د تایید خبر په اړه د تلویزیونونو، راډیوګانو، ورځپاڼو او خبري اژانسونو په ګډون په خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په خصوصي رسنیو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۱۷۳ دی. د دې نظرونو له جملې ۱۴۵ مثبت، ۲۱ منفي او ۷ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي دي. مثبت نظرونه ۸۴ ٪، منفي نظرونه ۱۲ ٪ او سالم وړاندیزونه ۴ ٪ دي.

پورتنیو شمېرو ته په پاملرنې د خصوصي رسنیو په پرتله په دولتي رسنیو کې د خلکو د مثبتو نظرونو سلنه لوړه ده. په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه ۹۴، خو په خصوصي رسنیو کې دا سلنه ۸۴ ده. په خصوصي رسنیو کې بیا د منفي نظرونو سلنه لوړه ده، په خصوصي رسنیو کې د منفي نظرونو سلنه ۱۲ او په دولتي هغو کې بیا ۴ ده. که په دولتي او خصوصي رسنیو کې مثبت، منفي نظرونه او سالم وړاندیزونه جمع کړو، په ټوله کې ۲۱۵۷ مثبت نظرونه، ۹۷ منفي نظرونه او ۵۰ سالم وړاندیزونه دي چې له مخې یې ۹۶٪ مثبت نظرونه، ۳٪ منفي نظرونه او ۱٪ سالم وړاندیزونه دي.

## دا چې د خصوصي رسنیو په پرتله په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه لوړه ده، لامل یې څه دی؟

یو لامل یې دادی چې خلک د هغو خبرونو په اړه مثبت نظرونه ورکوي، کوم چې د هېواد او خلکو دواړو په ګټه وي او له مخې یې هېواد د پرمختګ په لور ځي. د کانونو د ساتنې په موخه د جوړه شوې کړنلارې د تایید خبر هم چې د هېواد بیارغونې او پرمختګ ته هیلې زیاتوي، د خلکو له تاوده هرکلي سره مخ کېږي او رسنۍ هم هغه خبر چې د خلکو د علاقې وړ وي په زیاته کچه خپروي، هر خبر چې ډېر خپور شي طبیعي خبره ده چې په اړه به یې مثبت نظرونه هم زیات وي. له دې څخه جوتېږي، د حکومت له لوري چې هر ګام پورته کېږي د خلکو له هرکلي سره مخ او په اړه یې خپل نظرونه څرګندوي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو لنډیز په لاندې ډول دی:

د یادونې وړ ده، دلته موږ یوازې د ګوتو په شمېر نظرونه چې په هغو کې مثبت، منفي نظرونه او وړاندیزونه شامل دي، راوړو، ځکه د ټولو نظرونو یادونه د لیکنې له حوصلې وتلې ده، د نظرونو شمېر لسګونه بلکې سلګونو ته رسېږي.

- د پرمختګ چې هر خبر اورو خوشحالیږو، مګر د کابل ښار د ټانک لوګر سړک کارونه همداسې نیمګړې پاتې دي، باید بشپړ شي.
- که چېرې د کشک- تیر پل د نفتو حوزې انکشاف بشپړ او د استخراج قرارداد یې وشي، نو افغانستان به ډېر ژر پرمختګ وکړي، ځکه نن سبا تېل په نړۍ کې د تورې طلا په نوم یادېږي او اقتصادي ارزښت یې ډېر زیات دی.
- په تورخم بندر کې هېوادوالو ته د ښو خدماتو وړاندې کولو او لازمو سهولتونو رامنځته کولو په موخه د ۵۴۰ جریبه ځمکې په پام کې نیول او هلته د ټولو اړوندو ادارو له پاره د کار ځایونو جوړول غوره ګام دی دا کار باید په ټولو لویو بندرونو کې ترسره شي.
- د کانونو د ساتنې په موخه جوړه شوې کړنلارې تایید، ډېر پر ځای او ګټور کار دی، که ددې ترڅنګ د ځنګلونو د ساتنې له پاره هم داسې یوه کړنلاره جوړه شي، نو ښه به وي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

**لومړی**؛ یو شمیر خلکو په خپلو نظرونو کې ویلي دي چې د پرمختګ هر خبر د دوی له پاره د خوښۍ وړ دی، خو زیاتوي چې د کابل ښار د ټانګ ـ لوګر سړک چارې نیمګړې پاتې دي، اقتصادي کمېسیون که ددې غم هم وخوري ښه به وي. افغانان له څلورو لسیزو راهیسې ژوند په کړاو کې تېر کړی دی، دا چې اوس یو مرکزي حکومت دی او د هېواد بیارغونې او اقتصادي پرمختګ ته یې مخه کړې ده، نو طبعاً چې پرې خوشحالیږي. ځکه هرڅوک ددې هیله او ارزو لري چې هېواد یې اباد، پرمختللی او ژوند یې هوسا وي. اسلامي امارت د خپل ولس او هېواد د ابادۍ او سوکالۍ له پاره شپه او ورځ یوه کړې ده او یوازینۍ موخه یې داده چې په افغانستان کې د اسلامي نظام د ټینګښت په څنګ کې دغه هېواد په هر ډګر کې د پرمختګ لوړو پوړیو ته ورسوي. اقتصاد یې پیاوړی، سوداګري او صنعت ته یې وده ورکړي، کرنه یې میکانیزه او اوبه یې مدیریت کړي چې دا ټول د یوه هېواد د پرمختګ او د خلکو د سوکالۍ او ارامۍ ضمانت کوي. اوس چې یو شمیر هېوادوالو وړاندیز کړی دی چې د کابل د ټانګ لوګر سړک چارې نیمګړې پاتې دي او باید بشپړې شي، دوی ته باید وویل شي چې د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت له لارښوونې سره سم په کابل ښار کې د ښاروالۍ له لوري یو زیات شمیر پروژې چې زیاتره یې د سړکونو دي روانې دي، د پلان له مخې به د یاد سړک د نیمګړو چارو د بشپړولو کار هم پیل شي. ځکه د ښاروالۍ مسوولینو تل په خپلو خبرو کې دې ټکي ته اشاره کړې ده چې د کابل ښار ټولې نیمګړې پروژې به بشپړوي او ترڅنګ به یې د ښاري پلان سره سم نوې پروژې هم عملي کړي، څو کابل ښاریانو ته په هره برخه کې اسانتیاوې رامنځته شي.

✍ **دویم**؛ ځینو خلکو بیا د کشک- تیر پل د نفتو حوزې ته په اشارې سره ویلي دي چې که ددغې حوزې اکتشاف بشپړ او د استخراج قرارداد یې وشي، نو افغانستان به ډېر ژر پرمختګ وکړي. په رښتیا هم نن سبا نفت یا تیل هغه څه دي چې د نړۍ یو شمېر هېوادونه له هغې جملې څخه د منځني ختیځ هېوادونه یې د پرمختګ لوړو مدارجو ته رسولي دي. په یادو هېوادونو کې نفت زیات دي، خو افغانستان د نفتو ترڅنګ نور بېلا بېل کانونه او طبیعي زېرمې هم لري چې که له ټولو یې ګټه پورته شي، نو په یقین سره ویلای شو چې افغانستان به د نړۍ په کچه یو پرمختللی هېواد واوسي. خو دا چې په تېر کې دې برخې ته چا پاملرنه نه وه کړې، دا د هماغو حکومتونو او د حکومتي مسوولینو نیمګړتیا وه، خو اوس په افغانستان کې د اسلامي امارت تر چتر لاندې مرکزي او ژمن حکومت رامنځته شوی او ټول تمرکز یې د هېواد په پرمختګ او ابادۍ ورټول کړی دی. د کانونو استخراج، د اوبو مدیریت، د صنعت او سوداګرۍ پراختیا او داسې نور هغه څه دي چې کولای شي زموږ دا هیله چې کله به افغانستان یو پرمختللی او آباد هېواد واوسي، پوره کړي. د کشک- تیر پل نفتي حوزې اکتشاف او بیا یې استخراج هم حتمي دي، ځکه له دې وړاندې موږ او تاسو ددې شاهدان یوو چې د قشقري د تېلو بلاک څخه د تېلو استخراج عملاً روان دی. د وخت په رارسېدو به ان شاءالله د تېلو ټولې زېرمې یو په بل پسې استخراج شي.

✍ **درېیم**؛ یو شمیر کسانو بیا په خپلو وړاندیزونو کې ویلي چې په تورخم بندر کې هېوادوالو ته د ښو خدماتو وړاندې کولو او لازمو سهولتونو رامنځته کولو په موخه د ۵۴۰ جریبه ځمکې په پام کې نیول غوره ګام دی دا کار باید په ټولو لویو بندرونو کې ترسره شي. په رښتیا هم په بندرونو کې د اسانتیاوو رامنځته کول، د سوداګرۍ پر پراختیا او پرمختګ مثبته اغیز کوي. اسلامي امارت دې چارو ته پوره پاملرنه کوي او هڅه کوي چې سوکه سوکه د هېواد په ټولو بندرونو کې دغه راز اسانتیاوې رامنځته کړي. له دې وړاندې هم په بندرونو کې د سوداګرو او هېوادوالو له پاره اسانتیاوې رامنځته شوې او ددې بندرونو چارې ۲۴ ساعته شوې دي. ددې چارې موخه هم یوازې د خلکو او سوداګرو له پاره اسانتیاوې چمتو کول دي او بس.

✍ **څلورم**؛ ځینو خلکو د کانونو د ساتنې او د هغو د ناقانونه استخراج د مخنیوي په موخه د نظامي قطعې د جوړېدو هرکلی کړی دی او وړاندیز یې کړی چې که د ځنګلونو د ساتنې له پاره هم داسې یوه قطعه جوړه شي، نو زموږ دا ملي شتمني به هم خوندي شي. کانونه د هېواد د اقتصادي پرمختګ لپاره ډېر ارزښت لري. نو ددې له پاره چې په مسلکي او قانوني ډول را وایستل شي، په کار ده چې ساتنه یې وشي، اسلامي امارت په همدې موخه هڅه کوي چې د هېواد ټول کانونه په مسلکي او قانوني ډول راوسپړي او عواید یې د هېواد پر زیربناوو ولګوي. د همدې له پاره خو یې اوس دادی د کانونو د ساتنې په موخه جوړه شوې کړنلاره تایید کړه او کانونو وزارت ته دنده وسپارل شوه، څو د عامه ساتنې ملي تصدۍ سره د بحث وړ ټکو د حل په موخه ناسته وکړي. د عامه ساتنې ملي تصدي به په ټول هېواد کې د کانونو د ساتنې په موخه ځانګړې شوې قطعه لا پیاوړې او منظمه کړي، چې له مخې به یې د کانونو غیر قانوني او خپلسرو کیندنو مخنیوی وشي. دا چې د ځنګلونو د ساتنې له پاره د نظامي قطعې د جوړېدو وړاندیز شوی دی، اسلامي امارت دې برخې ته هم پوره پاملرنه کړې ده. اسلامي امارت په افغانستان کې واک ته له رسېدو سره سم د ځنګلونو د پرېکولو

او د هغو د قاچاق د مخنیوي په خاطر یوه ۴۵۰ کسیزه نظامي قطعه جوړه کړه. ددې قطعې له ۴۵۰ کسانو څخه ۱۰۰ تنه په کابل او پاتې هغه یې په اوو نورو ولایتونو په ځانګړي ډول نورستان، خوست، لغمان، پکتیا او ننګرهار کې په دندو وګومارل شول. دې قطعې ته دنده سپارل شوې چې د ځنګلونو د پرېکولو او قاچاق، د طبي نباتي محصولاتو د ناقانونه لېږد، د ځنګلي ساحو، څړځایونو د ویجاړېدو او غصب، د څهار تراش لرګیو د قاچاق او په ځنګلونو کې د شته وحشي ژویو او الوتونکو د ښکار مخه به نیسي او ددې ترڅنګ به په ځنګلونو کې د دولتي ملکیتونو ساتنه کوي.

## پایله

په یوه هېواد کې د مستقل او پرمختللي اقتصاد لپاره تر هر څه دمخه؛ د هغه هېواد د امن او ثبات ټینګول مهم دي. د دې ادعا په پار په اوسني عصر کې مونږ وینو هغه هېوادونه چې هلته آرامي او سوکالي او قوي نظام شتون لري؛ نو اقتصادي اړخ یې هم ورځ تر بلې پیاوړی کېږي. که چېرې ناامني وي، نو بیا ټوله شتمني د زورواکو او څو محدودو اشخاصو په قبضه کې وي. همدا لامل دی هغه هېوادونه چې ناامن وي په هغو کې فقر او بې کاري اوج ته رسېدلي وي. دا مهال په افغانستان جګړې پای ته رسېدلې او بشپړ امنیت رامنځته شوی دی. مرکزي نظام شته، فساد صفر شوی او د هېواد د اقتصادي ټیکاو او بیارغونې له پاره ګڼندي ګامونه پورته شوي دي. دا هر څه د اسلامي امارت تر چتر لاندې ترسره شوي دي. اسلامي امارت د هېواد د اقتصادي ودې او بیارغونې له پاره بېلا بېل بنسټونه او ارګانونه رامنځته کړي دي چې ښه بېلګه یې همدا د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ اقتصادي کمېسیون دی. په دې کمېسیون کې چې غړي یې سکټوري وزارتونه دي، د یادو وزارتونو له لوري ترسره کېدونکي فعالیتونه همغږي کېږي او هم یې څارنه ترسره کېږي. همدا لامل دی چې په افغانستان د کانونو د استخراج ترڅنګ د برېښنا، کرنې، صنعت، سوداګرۍ، زېربناوو جوړولو، خصوصي سکټور ملاتړ او داسې نورو برخو کې هر اړخیز کارونه روان دي چې موږ او تاسو یې د سر په سترګو وینو. که چېرې چارې په همدې ډول روانې وي، نو لرې نه ده چې په نږدې راتلونکي کې به موږ په اقتصادي برخه کې د ستر تحول او بدلون شاهدان واوسو.

# د دیارلس میلیاردو افغانیو په ارزښت ۵۰ بیلا بیلې پروژې منظورې شوې



## سریزه:


دا یــو حقیقت دی، کوم حکومتونه چې ژمن او متعهد وي، د شــخصي ګټــو پر ځای ملي ګټو ته وفادار وي، هغه بیا کولای شي هېواد د پرمختګ په لور بوځي. زحمت وباسي، خولې وبهوي او ارام ژوند ته شا کړي او په پایله کې راتلونکو نسلونو ته ســوکاله، ارامه او پرمختللی ژوند برابر کړي. وطن د نورو له احتیاج څخه خلاص او د هغو هېوادونو په لیکه کې یې ودروي چې نور یې مرســتو ته لاس وراوږد کړي او نور هېوادونه د ځان پر وړاندې احتیاج کړي. اســلامي امارت د همدې کړنلارې په غوره کولو سره تر دې مهاله په خپلو کړنو کې مثبتې لاســته راوړنې درلودلې دي. ددې ادعا ښــه ثبوت په دې وروســتیو کې افغانی په تېرو درېیو میاشــتو کې د نړۍ د غوره کرنســۍ مقام خپلول دي. د نورو پروژو د عملي کېدو په برخه کې د ریاســت‌الوزراء اقتصادي مرســتیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د ملي تدارکاتو کمېسیون نوبتي غونډې د روان لمریز کال د میزان میاشتې په دوهمه او دولسمه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره او له اجنډا سره سم د وړاندې شوو پروژو په اړه بحث وشــو. د ملي تدارکاتو کمېســیون یادو غونډو ته ۵۴ پروژې د بحث لپاره وړاندې شوې وې چې له جملې یې د ۵۰ پروژو قراردادونه منظور شــول. منظورې شــوې پروژې د ریاســت الوزراء د ساتنې لوی ریاست، د ملي دفاع، لوړو زده کړو، ټولګټو، د کلیو بیارغونې او پراختیا، اوبو او انرژۍ، د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ او مالیې وزارتونو، افغان ملي بانک، کابل ښــاروالۍ او د افغانســتان برېښنا شرکت اړوندې دي، چې ټولیز ارزښــت یې شاوخوا دیارلس مېلیاردو افغانیو ته رســېږي. په یادو منظور شــویو پروژو کې د پاشدان، شــاه و عروس او کمال خان بندونو د پاټې چارو بشپړېدل، د کابل پــه دهمزنګ ســیمه کې د افغان ملي ماڼۍ د پاټې چارو د بشــپړېدو، په کندهار، بلــخ او بادغیس ولایتونو کې خلکو ته د څښــاک اوبو رســول، په مختلفو ولایتونو کې هېوادوالو ته د هغوی د اړتیا وړ برېښنا چمتو کول، هېوادوالو ته د باکیفیته او چټکو انټرنېټي خدمتونو وړاندې کول او یوشــمېر نورې پروژې شــاملې دي، چې په پلې کېدو سره به یې زرګونو هېوادوالو ته کاري فرصتونه برابر شي.

## د ديارلس ميلياردو افغانيو په ارزښت د ۵۰ بېلا بېلو پروژو د منظورۍ موخه:


موخه يې د هېواد رغونه او د اقتصاد پياوړي کول دي چې په دې سره به افغانســتان د نورو له احتياجه خلاص او پر خپلو پښو ودرېږي.

**په هغو رسنيو کې د خلکو نظرونو ارزونه چې «د ديارلس ميلياردو افغانيو په ارزښت د ۵۰ بېلا بېلو پروژو د منظورۍ» خبر يې خپور کړی دی:**


### الف: دولتي رسنۍ:




### ب: خصوصي رسنۍ:




### د دولتي او خصوصي رسنيو د ارزونې د سلنې مجموعه:





**يادونه:** پـه ګـراف کـې پـه هغـو دولتـي او خصوصي رسـنيو کـې د خلکـو نظرونو سـلنه ښـودل کېږي چې د ديارلـس مېليـاردو افغانيو په ارزښـت د ۵۰ بېلا بېلو پـروژو د منظـورۍ پـه اړه يـې پـه ويډيويـي، غږيـزه او چاپي بڼه راپور خپور کړی دی.


# په دولتي او خصوصي رسنیو کې د یاد خبر په اړه د خلکو نظرونو ارزونه

## ۱- دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه:


### آژانسونه





### ټوېټرپاڼې





### ویاندویان





### ورځپاڼې





### تلویزیونونه




### راډیوګانې



### ویب پاڼې





### په دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو د ارزونې ټولګه




## ۲- په خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه:


### تلویزیونونه




### راډیوګانې





### ورځپاڼې





### آژانسونه



### خصـــوصي رســـنیو کـــې د خلکـــو نظرونـــو ارزونـــې ټولګـــه




### خصوصي او دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه




## د دیارلس میلیاردو افغانیو په ارزښت د ۵۰ بېلا بېلو پروژو د منظورۍ خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه

### د خلکو نظرونو د څېړنې او ارزونې موخه

په رســـنیو او ټولنیزو شـــبکو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو څېړنه او ارزونه د خلکو نظرونو روښانتیا او هغو ته د پاملرنـــې په مانا ده. د دې مســـلې ارزونه او خپرول خلکـــو او ټولنې ته دا فرصت په لاس ورکوي چې د حکومت د پرېکړو، کړنو او پروژو په اړه خپل نظرونه، غوښتنې، نیوکې او وړاندیزونه شریک کړي.

### افغانستان کې له ټولنیزو شبکو د ګټې اخیستنې واقعیت:

که په ټولنیزو شـــبکو کې د هېوادوالو ونډه او فعالیت وڅېړو، نو وبه وینو چې په افغانســـتان کې زیاتره خلک د ټوېټر پرځای فېســـبوک کاروي. خو په ټوېټر کې بیا تر ډېره بریده رســـمي- حکومتي مسوولین او د ســـیاسي، اقتصادي او فرهنګي ډګر فعالان ونډه لري. له همدې امله د افغانستان اسلامي امارت رسمي او نارسمي کسان تر فېسبوک په ټوېټر کې ډېر فعالیت لري. خو د رسنیو، دولتي او نادولتي بنسټونو اړوندې ټولنیزې شبکې او همدارنګه د سیاسي، اقتصادي، ټولنیز او فرهنګي ډګر فعالان د عامو خلکو او دغه راز د رســـمي اشـــخاصو او بنسټونو تر پوښـــښ لاندې راوستو په موخه په فېسبوک او ټوېټر دواړو کې فعال دي او هره ورځ خبرونه، شخصي، رسمي او نارسمي راپورونه خپروي.

## د یاد خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه:

*موږ کولای شو رسنۍ په دوو برخو ووېشو: دولتي رسنۍ او خصوصي رسنۍ:*

۱. د دیارلس میلیاردو افغانیو په ارزښت د ۵۰ بېلا بېلو پروژو د منظورۍ خبر په اړه د تلویزیونونو، راډیوګانو، ورځپاڼو، ویبپاڼو، ویاندویانو، خبري اژانسونو او ټوېټرپاڼو په ګډون په دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په دولتي رسنیو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۲۶۴۶ دی. د دې نظرونو له جملې ۲۴۶۳ مثبت دي. ۱۲۷ منفي نظرونه او ۵۶ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي. مثبت نظرونه ۹۳ ٪، منفي ۵ ٪ او سالم وړاندیزونه ۲ ٪ دي.

۲. د دیارلس میلیاردو افغانیو په ارزښت د ۵۰ بېلا بېلو پروژو د منظورۍ خبر په اړه د تلویزیونونو، راډیوګانو، ورځپاڼو او خبري اژانسونو په ګډون په خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په خصوصي رسنیو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۶۰۹ دی. د دې نظرونو له جملې ۴۷۱ مثبت، ۱۰۰ منفي او ۳۸ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي دي. مثبت نظرونه ۷۷ ٪، منفي نظرونه ۱۶ ٪ او سالم وړاندیزونه ۷ ٪ دي.

پورتنیو شمېرو ته په پاملرنې د خصوصي رسنیو په پرتله په دولتي رسنیو کې د خلکو د مثبتو نظرونو سلنه لوړه ده. په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه ۹۳، خو په خصوصي رسنیو کې دا سلنه ۷۷ ده. په خصوصي رسنیو کې بیا د منفي نظرونو سلنه لوړه ده، په خصوصي رسنیو کې د منفي نظرونو سلنه ۱۶ او په دولتي هغو کې بیا ۵ ده. که په دولتي او خصوصي رسنیو کې مثبت، منفي نظرونه او سالم وړاندیزونه جمع کړو، په ټوله کې ۲۹۳۴ مثبت نظرونه، ۲۲۷ منفي نظرونه او ۹۴ سالم وړاندیزونه دي چې له مخې یې ۹۰٪ مثبت نظرونه، ۷٪ منفي نظرونه او ۳ ٪ سالم وړاندیزونه دي.

## دا چې د خصوصي رسنیو په پرتله په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه لوړه ده، لامل یې څه دی؟

یو لامل یې دادی چې خلک د هغو خبرونو په اړه مثبت نظرونه ورکوي، کوم چې د هېواد او خلکو دواړو په ګټه وي او له مخې یې هېواد د پرمختګ په لور ځي. د دیارلس میلیاردو افغانیو په ارزښت د ۵۰ بېلا بېلو پروژو د منظورۍ خبر هم چې د هېواد بیارغونه او پرمختګ ته هیلې زیاتوي، د خلکو له تاوده هرکلي سره مخ کېږي او رسنۍ هم هغه خبر چې د خلکو د علاقې وړ وي په زیاته کچه خپروي، هر خبر چې ډېر خپور شي طبیعي خبره ده چې په اړه به یې مثبت نظرونه هم زیات وي. له دې څخه جوتېږي، د حکومت له لوري چې هر ګام پورته کېږي د خلکو له هرکلي سره مخ او په اړه یې خپل نظرونه څرګندوي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو لنډیز په لاندې ډول دی:

- د یادونې وړ ده، دلته موږ یوازې د ګوتو په شمېر نظرونه چې په هغو کې مثبت، منفي نظرونه او وړاندیزونه شامل دي، راوړو، ځکه د ټولو نظرونو یادونه د لیکنې له حوصلې وتلې ده، د نظرونو شمېر لسګونه بلکې سلګونو ته رسېږي.
- محترم ملا عبدالغني برادر اخوند چې هرې سیمې ته مخه کړې هغه آباده شوې، خو پردیپالي او پخواني غله اوس هم په دې پرمختګونو سترګې پټوي.
- که د کابل- جلال اباد دوهم لین سړک چې کارونه یې تقریباً ډېری برخه ترسره شوي دي، بیا پیل شي؛ نو تر ډېره بریده به د ولس مشکلات حل شي.
- په پروژو کې باید د کیفیت اړخ ته توجه وشي. د پروژو کارونه روان دي او پر ټاکلي وخت دې پای ته ورسېږي.
- پاشدان بند د هرات ولایت کې موقعیت لري چې کارونه یې باید شروع شي. د بخش اباد بند ته هم باید زیاته توجه وشي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

- **لومړی**؛ یو شمېر خلکو په خپلو نظرونو کې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني اخوند خدمتونو ته اشاره کړې او ویلي دي چې نوموړي د هېواد په بیارغونه او پرمختګ کې هېڅ راز هلې ځلې نه دي سپمولې، خو پردیپالي او پخواني غله یې پر پرمختګونو سترګې پټوي. په رښتیا هم چې اسلامي امارت په ټوله کې ولې په ځانګړې ډول د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال چې د اقتصادي چارو مسوولیت ورته سپارل شوی دی، په پوره اخلاص یې خپله دنده پرمخ بېولې ده او ټل یې په خپلو خبرو کې ویلي دي چې غواړي افغانستان په هره برخه کې په خپلو پښو ودروي او د نورو له احتیاجه یې خلاص او له سیالانو سره یې سیال کړي. د قوش تېپې کانال په څېر د سترو پروژو عملي کېدو ته یې لومړیتوب ورکړی او هڅه یې داده چې له دې لارې د هېواد نړېدلی او کمزوری اقتصاد پیاوړی، خلکو او ولس ته هوسا ژوند ور په برخه کړي. هغه خلک چې د اسلامي امارت تر چتر لاندې د هېواد په پرمختګ سترګې پټوي، هغوی نه هغه وخت او نه هم اوس د خپلې ارادې خاوندان دي او نه هم خپل هېواد او خپل ولس ته وفادار دي. دغه کسان یوازې د خپلو شخصي ګټو په لټه کې دي او بس.
- **دویم**؛ ځینو خلکو وړاندیز کړی دی چې که چېرې د کابل- جلال اباد سړک دوهم لین هم ورغول شي، نو د خلکو ستونزې به راکمې شي. وړاندیز یې پرځای دی، ځکه د کابل- جلال اباد لویه لار یوه ترانزیټي لاره ده او رغول به یې د هېواد پر سوداګری مثبته اغیزه وکړي. اسلامي امارت هڅه کوي چې ټولې هغه ترانزیټي لارې چې کولای شي سوداګري ورسره وغوړېږي یو په بل پسې رغوي چې ښې بېلګې یې د سالنګونو او کابل- کندهار لویې لارې دي چې عملاً یې کار

روان دی او په راتلونکي کې به يې چارې بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شي. ددې لارو په رغېدو سره به سوداګري پراخه او هېواد به مو د سیمې او ګاونډیو هېوادونو سره د همدې لارو په مټ خپل ترانزیټ ته پراختیا ورکړي. ددې چارې دوې ګټې دي یوه دا چې سوداګري به پراختیا ومومي او بل به اقتصادي ټیکاو ته هم لار پرانیستل شي.

✍ **دریېیم**؛ زموږ د هېوادوالو په نظرونو کې د پروژو د کیفیت مسله هم راغلې ده او ویل شوي دي چې دې برخې ته باید جدي پاملرنه وشي. په رښتیا هم که چېرې پروژو کې د کیفیت برخې ته پاملرنه ونه شي، نو هغه پروژې بیا زیات دوام نه کوي. اسلامي امارت چې کومې پروژې پیل کړې دي، تر ټولو دمخه يې په قرارداد کې دا خبره ذکر کړې ده چې پروژې باید معیاري وي. ددې ترڅنګ يې د پروژې د پای ته رسېدو نېټه هم په ګوته کړې ده. ولې دا طبیعي خبره ده چې پروژې د انجنیرۍ له اصولو سره سم پرمخ ځي؛ نو وخت ته اړتیا لري او د بشپړېدو له پاره يې باید خلک یو څه صبر او زغم ولري.

✍ **څلورم**؛ ځینو هېوادوالو په خپلو نظرونو کې د هرات د پاشدان بند او د فراه د بخش آباد بند د پاتې چارو د بشپړېدو غوښتنه کړې ده. دغه دواړه ډېر مهم بندونه دي چې په جوړېدو سره به يې په یاد ولایتونو کې د کرنې په برخه کې زیات پرمختګ وشي. اسلامي امارت د هېواد په کچه د اوبو مدیریت ته پوره پام اړولی دی. د سترو بندونو او کانالونو د جوړېدو چارې روانې دي. په یاد خبر کې چې کومې پروژې منظورې شوې دي په دې کې د پاشدان بند د پاتې چارو د بشپړولو له پاره بودیجه په پام کې نیول شوې ده او ډېر ژر به يې په عملي ډول پاتې چارې پیل شي. د بخش اباد بند چارې خو روانې دي. د بخش آباد بند دوه کانالونه لري چې یو يې ښي لور ته پنځوس کیلومتره او بل يې چپ لور ته دوه پنځوس کیلومتره اوږدوالی لري. دغه دواړه تونلونه په غره کې تېرېږي، د یوه کار يې څه موده وړاندې د افغاني انجینرانو لخوا پای ته ورسېد او د دوهم تونل کار يې پیل شوی دی چې پر خپلې ټاکلې موده به بشپړ شي.

## پایله:

پــه چـارو کې د چټکتیا او روڼتیا په موخه د عالیقدر امیرالمومنین شــیخ الحدیث مولوي هبة الله اخوندزاده حفظه الله له فرمان سره سم د ملي تدارکاتو کمېسیون د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ رامنځته شــو. د یاد کمېســیون په جوړو شویو غونډو کې تر دې مهاله د مېلیاردونو افغانیو په ارزښت پروژې منظورې شوې چې د ځینو يې چارې بشپړې او پر ځینو يې لا هم کار روان دی. د دې کمېسیون د میزان میاشتې د دوهمې او دوولسمې نیټې په غونډو کې د دیارلســو میلیاردو افغانیو په ارزښــت ۵۰ بېلابېلې پروژې منظورې شوې. په دې پروژو کې د تدارکاتي پروژو ترڅنګ د ســاختماني چارو پروژې هم شــاملې وې چې د بېلګې په ډول يې د کابل ښــار د دهمزنګ په سیمه کې د افغان ملي بانک اړوند د افغان ملي ماڼۍ د دوهمې برخې پروژه ده چې شاوخوا یو میلیارد افغانۍ ورته ځانګړې شوې دي. دغه راز د کمال خان، شــا و عروس او پاشــدان بندونو د پاتې چارو د بشــپړولو پروژې او د ځینو ولایتونو د سړکونو د رغونې پروژې هم پکې شــاملې دي. له دې څخه جوته شــوه چې اســلامي امارت د هېواد بیارغونې ته ژمن دی او هڅه کوي چې هېواد په هره برخه کې پر خپلو پښو ودروي او اوسنیو ترسره شویو فعالیتونو ته که ځیر شو؛ نو راته جوته به شي چې اسلامي امارت خپلې وینا ته د عمل جامه ور اغوستې ده.

# د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د هرات له زلزله ځپلو سيمو ليدنه وکړه



**سريزه:**

د روان کال د ميــزان مياشــتې په ۱۵مه نېټه هرات هغه مهال چې د دې ولايت خلک پــر خپلو ورځنيو چارو بوخت وو، په ناڅاپي ډول يې ښار او ولسوالۍ يوې زورورې زلزلې ولړزول، د زلزلې مرکز د هرات ولايت د زنده جان ولسوالۍ شمال کې د دښت حوض سيمه ښودل شوې ده چې  ياده سيمه د هرات د انجيل، رباط سنگي، گلران، غوريان او زنده جان ولسواليو تر منځ پرته ده. د دې زلزلې له امله زرگونو هېوادوالو ته مرگ ژوبله واوښــته. يوه ســتره غميزه رامنځته شــوه او د هيواد هر وگړي يې ودرداوه. له زلزلې وروســته ســملاسي د اسلامي امارت مســوولين لاس په کار شول او هڅه يې وکړه چې د زلزله ځپلو هېوادوالو لاســنيوی وکړي. د اســلامي امارت بېلا بيلو ارگانونو د مرســتې په نيت هرات ولايت ته ځان ورساوه. ددې ترڅنگ يو شمير ملي سوداگرو هم د زلزله ځپلو له پاره خپلې مرستې اعلان کړې. په دې لړ کې د رياست‌الوزراء اقتصادي مرســتيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د يو لوړپوړي امارتي پلاوي په مشرۍ د ميزان مياشــتې په ۱۷مه نېټه هرات ولايت ته د وروســتۍ زلزلې له امله له زيانمنو شــوو هېوادوالو سره د خواخوږۍ او ېېړنيو مرســتو رســولو په موخه سفر وکړ. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند هرات ولايت ته له رســېدو سره ســم لومړی د دغه ولايت د خصوصي ســکټور له اســتازو، ســوداگرو او صنعتکارانــو سره وليدل او له زلزله ځپلو سره يې د دوی د مرســتو مننه وکــړه. محترم ملا صاحب له دوی د لا نورې همکارۍ غوښتنه وکړه او زياته يې کړه، چې په دغه سخت وضعيت کې بايد د خپلو هېوادوالو د لاسنيوي په موخه په کور دننه او بهر کې هم مرستې راټولې او په وخت مستحقو خلکو ته ورسول شي. د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال هرات ته د خپل سفر په ترڅ کې زنده جان ولسوالۍ ته لاړ او هلته يې د زلزلې له امله زيانمنې شوې سيمې له نېږدې وکتلې او زيانمنو شــويو هېوادوالو ته يې تســليت او د خواخوږۍ مراتب وړاندې کړل. محترم ملا صاحب او مل پلاوي د شــهيدانو په


جنازه کې ګډون وکړ او هغوی ته یې د جنت الفردوس، قریبانو ته یې د جمیل صبر او زخمیانو ته د عاجلې شفاء دعا وکړه او د هـرات لـه شریف ولس سره یې ځان په دغه لویه غمیزه کې شریک وباله. محترم ملا صاحب وویل، اسـلامي امارت د زیانمنو هېوادوالو ترڅنګ ولاړ دی او تر هغو به یې همکاري او لاسنیوی وکړي، څو یې وران شوي کورونه بېرته ورغول شي او ژوند یې عادي حالت ته راوګرځي. دغه راز د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د هرات ولایت حوزوي روغتون ته د زخمیانو د پوښـتنې په موخه لاړ او له نېږدې یې د هغوی احوال واخیسـت. محترم ملا صاحب ټولو زخمیانو ته ډاډ ورکړ چې په ښــه ډول به یې درملنه وشي او د دوی د درملنې په موخه یې ټولو طبي ټیمونو ته لازمې لارښوونې او هدایات وکړل. محترم ملا صاحب د زخمیانو د احوال اخیستو پر مهال وویل چې اسلامي امارت د ولس نظام دی او د دغه ولس خدمت خپل مسوولیت ګڼي. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د دغه ولایت په مقام کې په جوړه شوې غونډه کې ګډون او وینا وکړه. محترم ملا صاحب یادې غونډې ته د خپلو خبرو پر مهال وویل، د افغانستان اسلامي امارت د زیانمنو هېوادوالو د ژغورلو لپاره ټول شته امکانات پر کار اچولي دي، ټول اړوند وزارتونه او ادارې پر دې لګیا دي چې دوی ته عاجلې مرستې ورسوي او تاسو ته ډاډ درکوو چې د وران شویو کورونو په بدل کې به په اساسي ډول د سرپنا ځایونه درته جوړ کړو. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند زیاته کړه چې ټولو امارتي مسوولینو ته یې لارښوونه کړې ده چې راټولې شوې مرســتې په شفاف ډول پر مســتحقو هېوادوالو ووېشي او په دغه برخه کې یې یو کمېســیون هم ګومارلی دی. محترم ملا صاحب له ټولو هغو هېوادوالو څخه چې له زلزله ځپلو سره یې د خپل وس مطابق کمک کړی دی، مننه وکړه او یوځل بیا یې په ټولو ملي سوداګرو، شتمنو هېوادوالو، خیریه بنسټونو او موسسو غږ وکړ، چې په دغه سخت وضعیت کې د زلزله ځپلو هېوادوالو لاسنیوی وکړي او د هغوی ژوند وژغوري. محترم ملا صاحب همدا راز له نړیوالو مرستندویه بنسټونو او ادارو څخه هم وغوښتل چې له زلزله ځپلو افغانانو سره هر اړخیزه مرسته وکړي او د دې سترې غمیزې پر مهال یې لاسنیوی وکړي.

## د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د هرات له زلزله ځپلو سیمو د لیدنې موخه:


د هرات له زلزله ځپلو سیمو د ریاست الوزرا اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د لیدنې موخه د وروستۍ زلزلې له امله له زیانمنو شوو هېوادوالو سره خواخوږي او هغوی ته د بیړنیو مرستو رسول و.

**په هغو رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه چې «د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د هرات له زلزله ځپلو سیمو د لیدنې» خبر یې خپور کړی دی:**


**الف: دولتي رسنۍ:**




**ب: خصوصي رسنۍ:**




**د دولتي او خصوصي رسنیو د ارزونې د سلنې مجموعه:**





**یادونه:** په دغه ګراف کې په هغو دولتي او خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو سلنه ښودل کېږي چې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د هرات له زلزله ځپلو سیمو د لیدنې په اړه یې په ویډیویي، غږیزه او چاپي بڼه راپور خپور کړی دی.


# په دولتي او خصوصي رسنيو کې د یاد خبر په اړه د خلکو نظرونو ارزونه

## ۱- دولتي رسنيو کې د خلکو نظرونو ارزونه:


### آژانسونه




### ټوېټرپاڼې





### ویاندویان




### ورځپاڼې





### تلویزیونونه




### راډیوګانې



### ويب پاڼې





### په دولتي رسنيو کې د خلکو نظرونو د ارزونې ټولګه




## ۲- په خصوصي رسنيو کې د خلکو نظرونو ارزونه:


### تلويزيونونه




### راډيوګانې





### ويبپاڼې





### آژانسونه




## ورځپاڼې




## خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه




## خصوصي او دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه



# د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د هرات له زلزله ځپلو سیمو د لیدنې په اړه په رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه

## د خلکو نظرونو د څېړنې او ارزونې موخه:

په رسـنیو او ټولنیزو شـبکو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو څېړنه او ارزونه د خلکو نظرونو روښانتیا او هغو ته د پاملرنــې په مانا ده. د دې مسـلې ارزونه او خپرول خلکـو او ټولنې ته دا فرصت په لاس ورکوي چې د حکومت د پرېکړو، کړنو او پروژو په اړه خپل نظرونه، غوښتنې، نیوکې او وړاندیزونه شریک کړي.

## افغانستان کې له ټولنیزو شبکو د ګټې اخیستنې واقعیت

که په ټولنیزو شــبکو کې د هېوادوالو ونډه او فعالیت وڅېړو، نو وبه وینو چې په افغانســتان کې زیاتره خلک د ټوېټر پرځای فېســبوک کاروي. خو په ټوېټر کې بیا تر ډېره بریده رسـمي- حکومتي مسوولین او د سـیاسي، اقتصادي او فرهنګي ډګر فعالان ونډه لري. له همدې امله د افغانستان اسلامي امارت رسمي او نارسمي کسان تر فېسبوک په ټوېټر کې ډېر فعالیت لري. خو د رسنیو، دولتي او نادولتي بنسټونو اړوندې ټولنیزې شبکې او همدارنګه د سیاسي، اقتصادي، ټولنیز او فرهنګي ډګر فعالان د عامو خلکو او دغه راز د رسـمي اشـخاصو او بنسټونو تر پوښــښ لاندې راوستو په موخه په فېسبوک او ټوېټر دواړو کې فعال دي او هره ورځ خبرونه، شخصي، رسمي او نارسمي راپورونه خپروي.

## د یاد خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه:

*موږ کولای شو رسنۍ په دوو برخو ووېشو: دولتي رسنۍ او خصوصي رسنۍ:*

۱. د ریاســت الوزراء اقتصادي مرســتیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د هرات له زلزله ځپلو ســیمو د لیدنې په اړه د تلویزیونونــو، راډیوګانو، ورځپاڼو، ویبپاڼو، ویاندویانو، خبري اژانســونو او ټوېټرپاڼو په ګډون په دولتي رســنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په دولتي رســنیو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو شــمېر په ټولیز ډول ۳۴۰۸ دی. د دې نظرونو له جملې ۳۱۶۰ مثبت دي. ۱۷۵ منفي نظرونه او ۷۳ ســالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شــوي. مثبت نظرونه ۹۳ ٪، منفي ۵ ٪ او سالم وړاندیزونه ۲ ٪ دي.

۲. د ریاســت الوزراء اقتصادي مرســتیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د هرات له زلزله ځپلو ســیمو د لیدنې په اړه د تلویزیونونو، راډیوګانو، ورځپاڼو، ویبپاڼو او خبري اژانسونو په ګډون په خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په خصوصي رســنیو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو شــمېر په ټولیز ډول ۲۳۲۶ دی. د دې نظرونو له جملې ۱۶۵۶ مثبت، ۵۰۸ منفي او ۱۶۲ ســالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شــوي دي. مثبت نظرونه ۷۱ ٪، منفي نظرونه ۲۲ ٪ او سالم وړاندیزونه ۷ ٪ دي.

پورتنیو شمېرو ته په پاملرنې د خصوصي رسنیو په پرتله په دولتي رسنیو کې د خلکو د مثبتو نظرونو سلنه لوړه ده. په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه ۹۳، خو په خصوصي رسنیو کې دا سلنه ۷۱ ده. په خصوصي رسنیو کې بیا د منفي نظرونو سلنه لوړه ده، په خصوصي رسنیو کې د منفي نظرونو سلنه ۲۲ او په دولتي هغو کې بیا ۵ ده. که په دولتي او خصوصي رسنیو کې مثبت، منفي نظرونه او سالم وړاندیزونه جمع کړو، په ټوله کې ۴۸۱۶ مثبت نظرونه، ٦٨٣ منفي نظرونه او ۲۳۵ سالم وړاندیزونه دي چې له مخې یې ۸۴٪ مثبت نظرونه، ۱۴٪ منفي نظرونه او ۲ ٪ سالم وړاندیزونه دي.

## دا چې د خصوصي رسنیو په پرتله په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه لوړه ده، لامل یې څه دی؟

یو لامل یې دادی چې د هرات ولایت په زلزله کې زموږ یو زیات شمیر هېوادوال شهیدان او ټپیان شوي وو، د ټولو هېوادوالو لـه پـاره دا یوه غمیزه وه او ټول یې غمجن کړي. هر چا ددې هیله درلوده چې د هرات له زلزله ځپلو سره مرسـته وکړي او په دې سـخت وخت کې یې لاسـنیوی وکړي. دا چې امارتي مسوولینو او ملي سوداګرو ددې خلکو مرسته وکړه، نو طبیعي خبره ده چې هیوادوال به ترې راضي وي. همدا لامل دی چې د ریاسـت الوزراء اقتصادي مرسـتیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د هرات له زلزله ځپلو سیمو د لیدنې خبر په اړه په رسنیو کې خلکو خپل نظرونه ورکړي دي. هر خبر چې ډېر خپور شي طبیعي خبره ده چې په اړه به یې مثبت نظرونه هم زیات وي. له دې څخه جوتېږي، د حکومت له لوري چې هر ګام پورته کېږي د خلکو له هرکلي سره مخ او په اړه یې خپل نظرونه څرګندوي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو لنډیز په لاندې ډول دی

د یادونې وړ ده، دلته موږ یوازې د ګوتو په شمېر نظرونه چې په هغو کې مثبت، منفي نظرونه او وړاندیزونه شامل دي، راوړو، څکه د ټولو نظرونو یادونه د لیکنې له حوصلې وتلې ده، د نظرونو شمېر لسګونه بلکې سلګونو ته رسېږي.

- هیله ده چې نظام او ولس دواړه په بشـپړ اخلاص د خپلو مصیبت ځپلو هېوادوالو مرسـتې او لاسـنیوي ته ځان ور ورسوي.الله جل جلاله دې افغانانو ته اتفاق او یووالی ور نصیب کړي.
- کور یې ودان، مسـوولین باید خپل مسـولیت اداء کړي، ولسـونه حق لري چې په سـختو حالاتو کې یې حکومت او مسوولین لاسنیوی وکړي او ترڅنګ یې ودرېږي.
- له حکومتي مسوولینو څخه هیله کوو چې د هرات له زلزله ځپلو خلکو سره شوې مرستې دې په رڼه او عادلانه ډول وویشي، دا ډېره مهمه ده.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

✍ **لومړی؛** یو شمېر خلکو په خپلو نظرونو کې له هېوادوالو غوښتي چې د هرات زلزله ځپلو سره دې په پوره اخلاص مرستې وکړي او د هغوی لاسنیوی دې وکړي. هېواد او هېوادوال د انسان د بدن حیثیت لري، د بدن هر غړی چې درد وکړي، نو ټول بدن ورسره ناقراره وي. همداسې که د هېواد په یوه برخه کې یو مصیبت رامنځته کېږي، نو د هېواد ټولو وګړو او پرګنو ته په کار ده چې له هغوی سره همکاري وکړي. اوس چې په هرات کې د زلزلې له امله کومه غمېزه رامنځته شوې او زموږ یو زیات شمېر هېوادوالو پکې خپل ژوند له لاسه ورکړی او یا هم ټپیان شوي دي، کورونه یې ویجاړ شوي او مالي زیانونه ورته اوښتي دي، نو د هېواد په نورو وګړو دا لازمه ده چې مرسته یې وکړي. خو الحمدلله له دې پېښې وروسته زموږ هېوادوالو له څنډ پرته د هېواد په کچه د هرات زلزله ځپلو هېوادوالو ته د مرستې رسولو لړۍ پیل کړې ده او په ټولو ولایتونو کې خلکو د خپل وس مطابق مرسته کړې او دا لړۍ لا هم روانه ده. له دې څخه معلومه شوه چې افغانان د ستونزې په وخت کې یو بل ته لاس ورکوي او دا د دوی ترمنځ د یووالي او اتفاق ښکاره نښه ده.

✍ **دویم؛** یو شمیر خلکو په خپلو نظرونو کې له زلزله ځپلو سیمو څخه د لیدنې او له زیانمنو وګړو سره د خواخوږۍ په موخه هرات ولایت ته د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د سفر هرکلی کړی او ویلي یې دي مسوولین باید خپل مسولیت اداء کړي، ولسونه حق لري چې په سختو حالاتو کې یې حکومت او مسوولین لاسنیوی وکړي او ترڅنګ یې ودرېږي. حکومتونه د خپل ولس او ملت استازیتوب کوي او مسوولین یې استازي دي، نو په کاره ده چې خپل ملت د خپلې کورنۍ د غړو په څیر ورته نږدې وي او د هر غم او مصیبت پرمهال یې پوښتنه وکړي او مرسته ورسره وکړي. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند هرات ولایت ته د خپل سفر پرمهال وویل، اسلامي امارت د زیانمنو هېوادوالو ترڅنګ ولاړ دی او تر هغو به یې همکاري او لاسنیوی وکړي، څو یې وران شوي کورونه بېرته ورغول شي او ژوند یې عادي حالت ته راوګرځي. له دې څخه معلومه شوه چې اسلامي امارت په هېڅ حالاتو کې خپل ولس او ملت له یاده نه باسي او که کومه طبیعي پېښه رامنځته شي، نو تل یې په وخت د پېښې له امله زیانمنو خلکو ته ځان رسولی او د امکان تر بریده یې مرسته کړې او هم یې ولس او د هېواد شتمن دې ته هڅولي دي چې له زیانمنو وګړو سره مرستې وکړي. دا په ډاګه کوي چې اسلامي امارت خپل هېواد او هېوادوالو ته د خدمت له پاره ژمن دی.

✍ **درېیم؛** ځینو هېوادوالو له حکومتي مسوولینو څخه غوښتي چې د هرات له زلزله ځپلو سره شوې مرستې دې په رڼه او عادلانه ډول پر مستحقو کسانو وویشل شي. دا پر ځای خبره ده، د مرستو له ورکړې وړاندې د هغو په رڼه او شفاف ډول ویشل اړین دي. خو اسلامي امارت دې ټکي ته متوجه دی، ځکه د همدې موخې ترلاسه کولو له پاره یې یو کمیسیون وټاکه او کورنۍ او بهرنۍ مرستې هغه کمیسیون ته سپارل کېږي او بیا د کمېسیون له لارې پر زلزله ځپلو او مستحقو خلکو ویشل کېږي. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند هرات ولایت ته د خپل سفر پرمهال په خپلو خبرو کې وویل چې ټولو امارتي مسوولینو ته یې لارښوونه کړې ده چې راټولې شوې مرستې په شفاف ډول پر مستحقو هېوادوالو ووېشي او په دغه برخه کې یې یو کمېسیون هم ګومارلی دی. نو له دې څخه باید موږ پوره ډاډمن واوسو چې مرستې به اړمنو او زلزله ځپلو خلکو ته رسیږي، نه نور چاته.

## پایله

په هرات ولایت کې وروستۍ زلزلې یوه ستره غمیزه رامنځته کړه. زموږ یو زیات شمیر هېوادوالو ته د ځاني زیان ترڅنګ مالي زیانونه هم واوښتل. خو دا چې اوس په افغانستان کې یو قوي او مرکزي نظام رامنځته شوی دی، هېوادوال یې په یوه نغري راغونډ کړي دي، نو دا هم د ځان مسوولیت بولي چې په هر ناورین او غم کې د خپلو هېوادوالو لاسنیوی وکړي او پر وخت یې ستونزو ته رسیده ګي وکړي. هرات ولایت کې رامنځته شوې پیښه کې موږ او تاسو ولیدل چې اسلامي امارت په څومره چټکۍ د زلزله ځپلو مرستې ته ور ودانګې شو او ټولو اړوندو ارګانونو او ادارو د خپل مسوولیت له مخې د خپلو امکاناتو تر حده مرسته وکړه او د هغو هېوادوالو له پاره چې په دې پېښه کې زیانمن شوي و، له خوړو څخه نیولې بیا تر سرپناه پورې یې ټول یې ورته چمتو کړل. د ټپیانو د درملنې له پاره یې د هرات ولایت پر روغتونونو سربېره سیار او ګرځنده روغتونونه هم جوړ کړل، څو د زلزلې له امله د ټپیانو په درملنه کې ځنډ او خنډ رامنځته نه شي. دا د دې ښکارندویي کوي چې اسلامي امارت خپل مسوولیت په ښه ډول ترسره کړی او تل یې د هغو هېوادوالو لاسنیوی کړی چې له کومې ستونزې او ناخوالې سره مخ شوي دي.

# د قوش تېپې کانال؛ په بشپړېدو به یې د کرنې په برخه کې انقلاب رامنځته شي



## سریزه:

داچې اوبه ســتر نعمت دی نو هغه ملتونه، قومونه، ســیمې او هېوادونه چې د اوبو طبیعي سرچینې لري، نیکمرغه دي. په نړۍ کې له انسانانو نیولې بیا تر ژویو او نباتاتو پورې ټول اوبو ته اړتیا لري او دوی یې ژوندي ساتلي دي. موږ او تاسو د سر په سترګو وینو په کومو سیمو کې چې اوبه وچې او یا هم کمې شي، نو هلته بیا کرنه، مالداري او په پای کې په سیمه کې ژوند له ستونزو او کړاوونو سره مخ شي او نور هلته ژوند دوام نه کوي. افغانستان یو له هغو هېوادونو څخه دی چې د خوږو اوبو پرېمانه زېرمې لري، خو له بده مرغه چې له پېړیو راهیسې د افغانستان واکمنانو دې برخې ته پاملرنه نه ده کړې او له ګټې اخیستنې پرته نورو هېوادونو ته بهېږي او هغوی ترې ګټه پورته کوي. اوس چې په افغانستان کې یو متعهد او خپلواک مرکزي نظام رامنځته شــوی دی، هڅه یې کړې چې نور د هېواد اوبه مدیریت کړي او په بشــپړ ډول ترې ګټه پورته کړي. ددې هلو ځلو یوه برخه کې د قوش تېپې کانال دی چې پر امو سیند جوړېږي، د یوې سترې او حیاتي پروژې پیل دی چې دا مهال یې د لومړي فاز چارې بشــپړې شــوې او دوهم فاز چارې یې پیل شــوې دي. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري د روان لمریز کال د میزان میاشتې په ۱۹مه نېټه د قوش‌تېپې کانال د لومړي فاز د ګټې اخیستنې او د دوهم فاز د چارو د پیل پرانیسته وشوه. له همدې امله جوړو شویو مراسمو کې د ریاست‌الوزراء اداري مرســتیال مولوي عبدالســلام حنفي په ګډون لوړو پوړو امارتي مسوولینو، د بلخ ولایت علماوو، مشرانو او مخورو هم ګډون کړی و. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند جوړو شوو مراسمو ته د خپلو خبرو پر مهال وویل، د قوش‌تېپې کانال د افغانانو د لســیزو خوب تعبیر دی، دا د هغوی د ســترګاوو او خولو پایله او د ځان بســیاینې په لور د پورته کېدونکو ګامونو یوه بېلګه ده. افغانستان په ډېرو برخو کې په وارداتو تکیه دی چې یوه برخه یې خوراکي توکي دي، په داســې حال کې چې افغانســتان یو کرنیز هېواد دی او پرېمانه اوبه لري. اســلامي امارت د یو خودکفاء افغانستان


لپاره د اوبو مدیریت او د کرنې ودې ته پوره پاملرنه کړې ده، چې د دغه کانال جوړېدل یې تر ټولو ښکاره مثال دی. محترم مــلا صاحــب د خپلو خــبرو پر مهال زیاته کړه، د دې کانال د پیل پر مهال له مــا سره د بودیجې او پر وخت یې د کارونو د بشــپړولو په اړه اندېښــنه وه، خو عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب حفظه الله له مالي اړخه پوره اطمینان راکړ او موږ یې هــم د ملي پراختیا شرکت له ربښــتینو او متعهــدو کارکوونکو سره یوځای د جوړېدو په چارو پیــل وکړ، چې دادی اوس یې الحمدلله لومړی فاز بشپړ شو. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال په خبره، د دې کانال د جوړولو موخه چاته زیان رسول نه دي، بلکې یوازینۍ موخه یې د افغانســتان سرلوړي، د افغانانو ځان بســیاینه او د افغانستان له طبیعي سرچینو څخه په ښه ډول ګټه اخیستل دي. هغه زیاته کړه، د ویاړ ځای دی چې له څلوېښت کلن ناورین وروسته دومره ستره پروژه د افغانانو له لوري ډیزاین، پلې او ټول مصارف یې له ملي بودیجې تمویلېږي. د غونډې په پای کې محترم ملا صاحب وویل، زه ټول افغان ولس، په پروژه کې زیارکښــو انجنیرانو او په ځانګړي ډول د ملي پراختیا شرکت رئیس محترم عبدالرحمن عطاش ته د دغه کانال د لومړي فاز د بشــپړېدو او د دوهم فاز د پیل مبارکي وایم. دا کانال د ټولو افغانانو ویاړ او افتخار دی او ټول به یې د بشپړولو لپاره کلک ملاتړ کوو.

## د قوش تېپې کانال؛ په بشپړېدو به یې د کرنې په برخه کې انقلاب راشي، موخه:


موخه یې د افغانستان د اوبو په سم ډول مدیریت او د کرنیزو محصولاتو په برخه کې د افغانستان پر ځان بسیا کول دي.

## په هغو رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه چې «د قوش تېپې کانال؛ په بشپړېدو به یې د کرنې په برخه کې انقلاب رامنځته» خبر یې خپور کړی دی:


### الف: دولتي رسنۍ:




### ب: خصوصي رسنۍ:



## د دولتي او خصوصي رسنیو د ارزونې د سلنې مجموعه:





**یادونه:** په دغه ګراف کې په هغو دولتي او خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو سلنه ښودل کېږي چې د قوش تېپې کانال؛ په بشپړیدو به یې د کرنې په برخه کې انقلاب رامنځته شي په اړه یې په ویډیویي، غږیزه او چاپي بڼه راپور خپور کړی دی.


## په دولتي او خصوصي رسنیو کې د یاد خبر په اړه د خلکو نظرونو ارزونه

### ۱- دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه:


#### آژانسونه




#### ټوېټرپاڼې





#### ویاندویان




#### ورځپاڼې




### تلویزیونونه




### راډیوګانې




### ویب پاڼې





### په دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو د ارزونې ټولګه





## ۲- په خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه:


### تلویزیونونه




### راډیوګانې




## ویبپاڼې





## آژانسونه





## ورځپاڼې




## خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه




## خصوصي او دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه



# د قوش تېپې کانال؛ په بشپړېدو به یې د کرنې په برخه کې انقلاب رامنځته شي په اړه په رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه

## د خلکو نظرونو د څېړنې او ارزونې موخه:

په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو څېړنه او ارزونه د خلکو نظرونو روښانتیا او هغو ته د پاملرنې په مانا ده. د دې مسلې ارزونه او څېړول خلکو او ټولنې ته دا فرصت په لاس ورکوي چې د حکومت د پرېکړو، کړنو او پروژو په اړه خپل نظرونه، غوښتنې، نیوکې او وړاندیزونه شریک کړي.

## افغانستان کې له ټولنیزو شبکو د ګټې اخیستنې واقعیت:

که په ټولنیزو شبکو کې د هېوادوالو ونډه اوفعالیت وڅېړو، نو وبه وینو چې په افغانستان کې زیاتره خلک د ټوېټر پرځای فېسبوک کاروي. خو په ټوېټر کې بیا تر ډېره بریده رسمي- حکومتي مسوولین او د سیاسي، اقتصادي او فرهنګي ډګر فعالان ونډه لري. له همدې امله د افغانستان اسلامي امارت رسمي او نارسمي کسان تر فېسبوک په ټوېټر کې ډېر فعالیت لري. خو د رسنیو، دولتي او نادولتي بنسټونو اړوندې ټولنیزې شبکې او همدارنګه د سیاسي، اقتصادي، ټولنیز او فرهنګي ډګر فعالان د عامو خلکو او دغه راز د رسمي اشخاصو او بنسټونو تر پوښښ لاندې راوستو په موخه په فېسبوک او ټوېټر دواړو کې فعال دي او هره ورځ خبرونه، شخصي، رسمي او نارسمي راپورونه خپروي.

## د یاد خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه:

*موږ کولای شو رسنۍ په دوو برخو ووېشو: دولتي رسنۍ او خصوصي رسنۍ:*

۱. د قوش تېپې کانال؛ په بشپړېدو به یې د کرنې په برخه کې انقلاب رامنځته شي خبر په اړه د تلویزیونونو، راډیوګانو، ورځپاڼو، ویبپاڼو، ویاندویانو، خبري اژانسونو او ټوېټرپاڼو په ګډون په دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په دولتي رسنیو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۴۳۵۹ دی. د دې نظرونو له جملې ۳۸۶۵ مثبت دي. ۳۴۱ منفي نظرونه او ۱۵۳ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي. مثبت نظرونه ۸۹ ٪، منفي ۸ ٪ او سالم وړاندیزونه ۳ ٪ دي.

۲. د قوش تېپې کانال؛ په بشپړېدو به یې د کرنې په برخه کې انقلاب رامنځته شي خبر په اړه د تلویزیونونو، راډیوګانو، ورځپاڼو، ویبپاڼو او خبري اژانسونو په ګډون په خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په خصوصي رسنیو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۴۲۶۸ دی. د دې نظرونو له جملې ۳۸۵۴ مثبت، ۲۵۹ منفي او ۱۵۵ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي دي. مثبت نظرونه ۹۰ ٪، منفي نظرونه ٦ ٪ او سالم وړاندیزونه ۴ ٪ دي.

پورتنیو شمېرو ته په پاملرنې د دولتي رسنيو په پرتله خصوصي رسنيو کې د خلکو د مثبتو نظرونو سلنه لوړه ده. په خصوصي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه ۹۰، خو په دولتي رسنیو کې دا سلنه ۸۹ ده. په دولتي رسنیو کې بیا د منفي نظرونو سلنه لوړه ده، په دولتي رسنیو کې د منفي نظرونو سلنه ۸ او په خصوصي هغو کې بیا ٦ ده. که په دولتي او خصوصي رسنیو کې مثبت، منفي نظرونه او سالم وړاندیزونه جمع کړو، په ټوله کې ۷۷۱۹ مثبت نظرونه، ٦۰۰ منفي نظرونه او ۳۰۸ سالم وړاندیزونه دي چې له مخې یې ۸۹٪ مثبت نظرونه، ۷٪ منفي نظرونه او ۴ ٪ سالم وړاندیزونه دي.

## دا چې د د دولتي رسنیو په پرتله په خصوصي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه لوړه ده، لامل یې څه دی؟

یو لامل یې دادی چې د قوش تېپې کانال؛ په بشپړیدو به یې د کرنې په برخه کې انقلاب راشي خبر په پراخه کچه د خصوصي رسنيو له لوري خپور شوی دی. هر خبر چې ډېر خپور شي طبيعي خبره ده چې په اړه به يې مثبت نظرونه هم زيات وي. له دې څخه جوتېږي، د حکومت له لوري چې هر گام پورته کېږي د خلکو له هرکلي سره مخ او په اړه يې خپل نظرونه څرگندوي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو لنډیز په لاندې ډول دی:

د يادونې وړ ده، دلته موږ يوازې د گوتو په شمېر نظرونه چې په هغو کې مثبت، منفي نظرونه او وړانديزونه شامل دي، راوړو، ځکه د ټولو نظرونو يادونه د ليکنې له حوصلې وتلې ده، د نظرونو شمېر لسگونه بلکې سلگونو ته رسېږي.

- الحمدلله د شکر ځای دی چې په دومره کمو امکاناتو او د نړیوالو بندیزونو سره سره دقوش تېپې کانال لومړی فاز بشپړ او د دوهم فاز کارونه شروع شول.
- د قوش تېپې کانال جوړېدل افغانانو ته په مستقيم او غير مستقيم ډول د کارموندنې او د ځان بسياينې په برخه کې يو ارزښتناک او پر ځای اقدام دی.
- د دې عام المنفعه پروژې په تکميلېدو سره به افغانان نسبتاً د ارام ساه واخلي. هر څوک چې د افغان وطن د بيارغاونې لپاره هڅې کوي، له الله تعالی څخه ورته د خير تمنا کوو.
- د قوش تېپې کانال د افغانستان لپاره دومره ارزښت لري لکه بدن يې چې زړه ته لري.
- د هر افغان وجداني او ايماني وظيفه ده چې د دا ډول پروژو هرکلی وکړي. افغانستان به افغانان جوړوي. هر هېواد چې په اقتصادي، صنعتي، علمي برخو کې پرمختگ کړی دی، هغه يې ملت خولې تويې کړې، زحمت يې ايستلی او بيا يې پرمختگ کړی، هېڅ داسې هېواد نشته چې هغه دې پرديو جوړ کړی وي. موږ ته هم په کار ده چې يو بل ته لاسونه ورکړو او خپل هېواد خپله جوړ کړو.
- ډېر تمرکز بايد د لومړۍ برخې يا فاز د اوبو پر ويش، فرعي ابخور سيستم او داسې نورو وشي. دغه راز د دويم فاز کار هم بايد روان وي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

✍ **لومړی**؛ یو شمېر هېوادوالو په خپلو نظرونو کې د قوش تېپې کانال د لومړي فاز پر بشپړېدو او د دوهم فاز د چارو پر پیلېدو خوښي ښودلې او ویلي یې دي چې اسلامي امارت په ډېرو کمو امکاناتو او د نړیوالو بندیزونو سره سره په دې وتوانېد چې دا ستره پروژه عملي کړي. ددې پروژې طرح او پلان د داوود خان په واکمنۍ کې جوړ شوی دی، خو له هغه مهاله بیا تر دې مهاله راغلو حکومتونو چندان سر نه دی پرې گرولی. له دې څخه معلومېږي چې دغه حکومتونه خپلواک نه و او د نورو فرمایشونو ته یې غوږ نیوه. دوهم دا چې دوی د خپلو ملي گټو خوندي کولو پرځای د پردیو گټو ته ژمن و. په هر صورت د اسلامي امارت په راتگ سره تر ټولو لومړی کار دا و چې دا ستره او حیاتي پروژه په عملي ډول پیل شوه. سره له دې چې له یوه لوري نړیوال بندیزونه او له بل لوري د یو شمېر گاونډیو هېوادونو تر ژبه لاندې خبرې او وخت پر وخت نیوکې وې، خو اسلامي امارت ددې ټولو پروا ونه کړه او پر دې وتوانید چې د خپلو کمو امکاناتو په کارولو سره د قوش تېپې کانال ستره پروژه چې کولای شي د هېواد په کرنیز نظام کې یو ستر بدلون او انقلاب راولي، پیل او دادی اوس موږ او تاسو ددې شاهدان یوو چې د لومړي فاز چارې یې بشپړې او د دوهم هغه یې پیل او ان شاءالله چې پر ټاکلي وخت به یې پلان شوي درې واړه فازونه بشپړ او گټې اخیستنې ته وسپارل شي. په بشپړېدو به یې د افغانستان کرنیز نظام پیاوړی او هېواد به مو د کرنیزو محصولاتو په برخه کې پرځان بسیا شي چې ددې ټولو ویاړ اسلامي امارت ته ورگرځي.

✍ **دوهم**؛ ځینو هېوادوالو بیا په خپلو نظرونو کې ویلي دي چې که غواړو په اقتصادي، صنعتي او علمي برخو کې پرمختگ وکړو، نو باید یو بل ته لاسونه ورکړو او په گډه کار وکړو. هېوادونه ملتونه جوړوي، نه پردي. د دوی نظر د قدر وړ دی او هر افغان باید همداسې احساس ولري. هر هېواد چې پرمختگ کړی او ملتونه یې په سوکالۍ او ارامۍ کې ژوند کوي، هغوی دې ځای ته د رسېدو له پاره ډېرې خولې بهولې دي او دې ته نه دي په تمه شوي، چې نور دې راشي او د دوی هېواد دې جوړ کړي. نن سبا په نړۍ کې هر څوک په خپله گټه پسې دي، هر چېرې چې ځي، نو هلته د کوربه هېواد په پرتله د خپل هېواد د گټو په لټه کې وي. موږ او تاسو ولیدل چې افغانستان ته دوه ځلې بهرنیان راغلل، خو افغانستان پرته له دې چې بدمرغي ویني او له ناخوالو سره مخ شي، نیکمرغي یې په نصیب نه شوه. نه یې اقتصاد وده وکړه، صنعت او علمي ډگرونو خو یې داسې ضربه ولیده چې وده او پرمختگ به یې کلونه وخت ونیسي. ولې اوسمهال په افغانستان کې داسې یو حکومت راغلی دی چې نورو ته نه په تمه کېږي او له لومړۍ ورځې یې له خپلو امکاناتو څخه په استفادې سره داسې بنسټیز کارونه پیل کړي دي چې په افغانانو کې یې د هېواد د پرمختگ هیلې راژوندۍ کړې دي او ټول پر دې باور دي چې نور که الله پاک کول افغانستان به د نړۍ د پرمختللو هېوادونو په کتار کې ودرېږي.

✍ **درېیم**؛ ځینو هېوادوالو په خپلو نظرونو کې د قوش تېپې کانال د انسان له زړه سره ورته بللی دی او ویلي یې دي لکه څومره چې د انسان په وجود کې زړه مهم دی همداسې دا ستره او حیاتي پروژه هم مهمه ده. دا خو حقیقت دی چې اوبه د ژوند له پاره اړینې دي او له اوبو پرته ژوند ناشونی دی. د انسانانو او نورو ژوندیو موجوداتو په څېر نباتات هم اوبو ته اړتیا لري. دغه راز اوبه د انرژۍ د تولید په برخه کې هم مهم رول لري. نو هر هېواد چې غواړي زراعت یې پرمختگ وکړي

او د خپلو وګړو له پاره کرنیز محصولات چې له ژوند سره تړلي دي، برابر کړي نو باید له دې ستر الهي نعمت څخه په سم ډول استفاده وکړي. له دې سره زراعت پراختیا مومي او خلکو ته د کار د زمینې برابرېدو ترڅنګ د خوراکي توکو د کمښت ستونزه هم هوارېږي. دغه راز له اوبو څخه انرژي هم تولیدېږي چې نن سبا د ژوند اړوند ډېری وسایل د همدې انرژۍ په برکت چلېږي او ورسره صنعت پرمختګ کوي. اسلامي امارت د اوبو اهمیت ته په پاملرنې سره دا مهال هڅه کوي چې د افغانستان له خوړو او پرېمانه اوبو څخه هم د کرنې د پرمختګ له پاره ګټه پورته کړي او هم له دې ستر نعمت څخه برېښنا تولید کړي. د کرنې د پراختیا له پاره یې د قوش تېپې کانال په څېر ستره پروژې پیل کړې دي او تر څنګ یې د برېښنا د تولید له پاره د هېواد په کچه پر بېلا بېلو بندونو کار روان کړی دی. ددې دوو برخو په بشپړېدو به هم د کرنې په برخه کې او هم د برېښنا د تولید په برخه کې ستر پرمختګونه رامنځته شي او پر مټ به یې افغانستان یو داسې هېواد واوسي چې له اقتصادي پلوه به پر ځان بسیا وي.

## پایله

اوبه هغه الهی نعمت دی چې د نړۍ په سر اباد ملتونه، قومونه، سیمې او هېوادونه یې نیکمرغۍ ته رسولي دي. ټول ژوندي موجودات د خپل ژوند د بقا له پاره اوبو ته اړتیا لري. خو که چېرې دا نعمت کم او یا هم نه وي نو بیا ژوند له کړاوونو سره مخ وي. افغانستان یو له هغو هېوادونو څخه دی چې د خوړو اوبو پرېمانه زېرمې لري، خو له بده مرغه چې له پېړیو راهیسې د افغانستان واکمنانو دې برخې ته پاملرنه نه ده کړې او له ګټې اخیستنې پرته نورو هېوادونو ته بهیږي او هغوی ترې ګټه پورته کوي. اوس چې په افغانستان کې د اسلامي امارت تر چتر لاندې یو متعهد او خپلواک مرکزي نظام رامنځته شوی دی، هڅه یې کړې چې نور د هېواد اوبه مدیریت کړي او په بشپړ ډول ترې ګټه پورته کړي. د هېواد په کچه یې د اوبو د مدیریت له پاره هڅې پیل کړې دي. د هغو بندونو د پاتې چارو د بشپړولو له پاره یې بودیجه ځانګړې کړې چې پخوا جوړ شوي، خو کارونه یې نه دي بشپړ شوي. دغه راز د کانالونو د پاکولو چارې هم روانې دي او دغه راز یې د نویو کانالونو پر جوړولو لاس پورې کړی دی. د عالیقدر امیر المؤمنین حفظه‌الله له فرمان سره سم به د هېواد په کچه په ټولو ولسوالیو کې د اوبو چک ډیمونه جوړېږي. خو په دې برخه کې چې کومه ستره او حیاتي پروژه ده هغه د قوش تېپې کانال دی چې د امو پر سیند په درېیو فازونو کې جوړېږي. د دې کانال د لومړي فاز چارې بشپړې شوې او د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال او نورو امارتي مسوولینو له لوري لومړی فاز ګټې اخیستنې ته وسپارل شو او د دوهم فاز کارونه یې پیل شول. ددې کانال په بشپړېدو سره به د افغانستان د کرنې په برخه کې یو ستر انقلاب رامنځته شي او افغانستان به د کرنیزو محصولاتو له پلوه پر ځان بسیا شي چې دا د افغانستان په تاریخ کې یوه ستره لاسته راوړنه ده.

# د کرنیزو محصولاتو ۲۹ خزاني نندارتون پرانیستل شو



**سریزه:**

په افغانســتان کې تر نیمایي ډېر خلک په کرنه او مالدارۍ بوخت دي. له دې امله کرنه د افغانســتان په ملي اقتصاد کې ســتر رول لوبوي. په کلیو او بانډو کې کرنه د خلکو له پاره عایداتي سرچینه ده او ډېری خلک پر همدې عوایدو خپل ژوند پرمخ بیایي. د افغانستان اسلامي امارت په واکمنېدو سره د نورو اقتصادي برخو ترڅنګ د کرنې سکتور ته هم پوره پاملرنه شــوې ده. په دې برخه کې د کرنیزو محصولاتو نندارتونونه جوړ شــوي او موخه یې دا وه چې د افغانستان کرنیز محصولات پــه کور دننه هېوادوالو او په بهر کې د جوړو شــویو نندارتونونو له لارې نړیوالــو ته معرفي کړي. د نندارتونونو جوړېدو په لړ کې د ریاســت‌الوزراء اقتصادي مرســتیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري د روان لمریز کال د میزان میاشتې په ۲٦مه د کرنیزو محصولاتو ۲۹م خزاني نندارتون پرانیستل شو. له دې امله جوړو شویو مراسمو ته د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرســتیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وویل، افغانســتان یو کرنیز هېواد دی او د رسمي شمېرو له مخې، شاوخوا ٦٨ ســلنه خلک یې پر کرنه او مالدارۍ مصروف دي چې متاســفانه لا هم له پخواني سیسټم څخه استفاده کوي او کوم د پام وړ پرمختــګ یې نه دی کړی. د ریاســت‌الوزراء اقتصادي مرســتیال زیاته کړه چې بزګران پر کرنــه سربېره د اوبولګونې په برخه کې هم له دودیز سیســټم څخه اســتفاده کوي او همدا وجه ده چې له خپلې اړتیا د زیاتو اوبو په مصرفولو سره سره بیا هم د پام وړ کرنیز محصولات نه شي ترلاســه کولی. د محترم ملا صاحب په خبره، د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت مکلفیت لري چې د کرنې د میکانیزه کولو او د اوبولګونې د معاصرو سیســټمونو د عاملو او تطبیق په اړه بزګرانو ته ټولې اړینې اســانتیاوې رامنځته او په دغه برخه کې کوټلي ګامونه واخلي. محترم ملا صاحب په کور دننه د کرنیزو محصولاتو د جذب او ســالم مدیریت په اړه ټینګار وکړ او په دې اړه یې اړوند وزارتونه او ادارې مکلفې وبللې، څو د کرنیزو محصولاتو د ښه جذب او په وخت تر مارکېټ پورې د رسولو په موخه د ترانسپورټ، سړو خونو، بسته بندۍ، په کور دننه او بهر کې ورته


د بازارموندنې په برخه کې اړین سهولتونه رامنځته کړي. په پای کې د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال په ټولو هېوادوالو او په ځانګړې ډول حکومتي ادارو غږ وکړ چې د خپلو اړتیاوو پوره کولو پر مهال دې له خپلو کرنیزو محصولاتو څخه استفاده وکړي. د کرنیزو محصولاتو ۲۹م خزانې نندارتون د کابل په بادام باغ روزنیز او تولیدي فارم کې د کرنیزو محصولاتو د ملاتړ او پــه کــور دننه او بهر کې ورته د بازارموندنې په موخه جوړ شــو ی و، چې په ســلګونو غرفو کــې بېلابېل کرنیز محصولات نندارې ته وړاندې شول.

## د کرنیزو محصولاتو ۲۹ خزانې نندارتون د پرانیستې موخه:


موخــه یې د افغانســتان کرنیز محصولات پــه کور دننه هېوادوالو او په بهر کې د جوړو شــویو نندارتونونو له لارې نړیوالو ته معرفي کول دي.

## په هغو رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه چې «د کرنیزو محصولاتو ۲۹ خزانې نندارتون د پرانیستې» خبر یې خپور کړی دی:


**الف: دولتي رسنۍ:**




**ب: خصوصي رسنۍ:**




## د دولتي او خصوصي رسنیو د ارزونې د سلنې مجموعه:





**یادونه:** په دغه ګراف کې په هغو دولتي او خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو سلنه ښودل کېږي چې د کرنیزو محصولاتو ۲۹م خزانې نندارتون د پرانستې په اړه یې په ویډیویي، غږیزه او چاپي بڼه راپور خپور کړی دی.


# په دولتي او خصوصي رسنیو کې د یاد خبر په اړه د خلکو نظرونو ارزونه

## ۱- دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه:

### آژانسونه





### ټوېټرپاڼې





### ویاندویان





### ورځپاڼې




### تلویزیونونه





### ویب پاڼې



## په دولتي رسنیو کې د خلکو د نظرونو د ارزونې ټولګه


### راډیوګانې








## ۲- په خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه:


### تلویزیونونه




### راډیوګانې




### ورځپاڼې





### آژانسونه




## آژانسونه




## خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه




## خصوصي او دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه



# د کرنیزو محصولاتو ۲۹م خزاني نندارتون د پرانیستې په اړه په رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه

## د خلکو نظرونو د څېړنې او ارزونې موخه:

په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو څېړنه او ارزونه د خلکو نظرونو روښانتیا او هغو ته د پاملرنې په مانا ده. د دې مسلې ارزونه او خپرول خلکو او ټولنې ته دا فرصت په لاس ورکوي چې د حکومت د پرېکړو، کړنو او پروژو په اړه خپل نظرونه، غوښتنې، نیوکې او وړاندیزونه شریک کړي.

## افغانستان کې له ټولنیزو شبکو د ګټې اخیستنې واقعیت:

که په ټولنیزو شبکو کې د هېوادوالو ونډه او فعالیت وڅېړو، نو وبه وینو چې په افغانستان کې زیاتره خلک د ټوېټر پرځای فېسبوک کاروي. خو په ټوېټر کې بیا تر ډېره برېده رسمي- حکومتي مسوولین او د سیاسي، اقتصادي او فرهنګي ډګر فعالان ونډه لري. له همدې امله د افغانستان اسلامي امارت رسمي او نارسمي کسان تر فېسبوک په ټوېټر کې ډېر فعالیت لري. خو د رسنیو، دولتي او نادولتي بنسټونو اړوندې ټولنیزې شبکې او همدارنګه د سیاسي، اقتصادي، ټولنیز او فرهنګي ډګر فعالان د عامو خلکو او دغه راز د رسمي اشخاصو او بنسټونو تر پوښښ لاندې راوستو په موخه په فېسبوک او ټوېټر دواړو کې فعال دي او هره ورځ خبرونه، شخصي، رسمي او نارسمي راپورونه خپروي.

## د یاد خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه:

*موږ کولای شو رسنۍ په دوو برخو ووېشو: دولتي رسنۍ او خصوصي رسنۍ:*

۱. د کرنیزو محصولاتو ۲۹م خزاني نندارتون د پرانیستې خبر په اړه د تلویزیونونو، راډیوګانو، ورځپاڼو، ویبپاڼو، ویاندویانو، خبري اژانسونو او ټوېټرپاڼو په ګډون په دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په دولتي رسنیو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۱۳۵۰ دی. د دې نظرونو له جملې ۱۳۰۶ مثبت دي. ۳۰ منفي نظرونه او ۱۴ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي. مثبت نظرونه ۹۷ ٪، منفي ۲ ٪ او سالم وړاندیزونه ۱ ٪ دي.

۲. د کرنیزو محصولاتو ۲۹م خزاني نندارتون د پرانیستې خبر په اړه د تلویزیونونو، راډیوګانو، ورځپاڼو او خبري اژانسونو په ګډون په خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په خصوصي رسنیو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۲۶۱ دی. د دې نظرونو له جملې ۲۰۲ مثبت، ۴۳ منفي او ۱۶ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي دي. مثبت نظرونه ۷۷ ٪، منفي نظرونه ۱۶ ٪ او سالم وړاندیزونه ۷ ٪ دي.

پورتنیو شمېرو ته په پاملرنې د خصوصي رسنیو په پرتله دولتي رسنیو کې د خلکو د مثبتو نظرونو سلنه لوړه ده. په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه ۹۷، خو په خصوصي رسنیو کې دا سلنه ۷۷ ده. په خصوصي رسنیو کې بیا د منفي نظرونو

او ســالمو وړاندیزونو ســلنه لوړه ده، په خصوصي رسنیو کې د منفي نظرونو او وړاندیزونو سلنه په ترتیب سره ۱٦ او ۷ ده او په دولتي کې بیا ۲ او ۱ ده. که په دولتي او خصوصي رسنیو کې مثبت، منفي نظرونه او سالم وړاندیزونه جمع کړو، په ټوله کې ۱۵۰۸ مثبت نظرونه، ۷۳ منفي نظرونه او ۳۰ سالم وړاندیزونه دي چې له مخې یې ۹۴٪ مثبت نظرونه، ۵، ۴٪ منفي نظرونه او ۵، ۱ ٪ سالم وړاندیزونه دي.

## دا چې د خصوصي رسـنیو په پرتله په دولتي رسـنیو کې د مثبتو نظرونو سـلنه لوړه ده، لامل یې څه دی؟

یــو لامــل یې دادی چې خلک د هغو خبرونو په اړه مثبت نظرونه ورکوي، کوم چــې د هېواد او خلکو دواړو په ګټه وي او له مخې یې هېواد د پرمختګ په لور ځي. د کرنیزو محصولاتو ۲۹م خزانې نندارتون د پرانیستې خبر هم د کرنې په برخه کې د پرمختګ خبر دی، نو ځکه خو د خلکو له تاوده هرکلي سره مخ شــوی او رســنۍ هم هغه خبر چې د خلکو د علاقې وړ وي په زیاته کچه خپروي، هر خبر چې ډېر خپور شي طبیعي خبره ده چې په اړه به یې مثبت نظرونه هم زیات وي. له دې څخه جوتېږي، د حکومت له لوري چې هر ګام پورته کېږي د خلکو له هرکلي سره مخ او په اړه یې خپل نظرونه څرګندوي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو لنډیز په لاندې ډول دی:

د یادونې وړ ده، دلته موږ یوازې د ګوتو په شمېر نظرونه چې په هغو کې مثبت، منفي نظرونه او وړاندیزونه شامل دي، راوړو، ځکه د ټولو نظرونو یادونه د لیکنې له حوصلې وتلې ده، د نظرونو شمېر لسګونه بلکې سلګونو ته رسېږي.

- ملا عبدالغني برادر اخوند نه یوازې دا چې د مظلومو او بې چاره افغانانو غم‌خور دی، بلکې د اوسني افغانستان د آبادۍ اتل هم دی، الله پاک دې روغ صحت او اوږد عمر ورنصیب کړي.
- ښــه حاصلات د ښــه تخم، ښــه نیالګي او مناســبې کیمیاوي سرې په نتیجه کې منځته راځي. امارتي ادارې دې د هغو شرکتونو مخه ونیسي چې بې کیفیته تخمونه هېواد ته واردوي.
- که چېرې د نندارتونونو په جوړېدو سره د کرنیزو محصولاتو له پاره مارکېټ پیدا شي، دا به ډېره ښه وي، ځکه اوس هر څه په نیمه بیه خرڅېږي او دهقانان څه نه شي ترلاسه کولای.

## په رسنيو او ټولنيزو شبکو کې د خلکو نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

✍ **لومړی**؛ يو شمېر هېوادوالو په خپلو نظرونو کې د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند ترسره شوي فعاليتونه ستايلي او نوموړی يې د اوسني افغانستان د آبادۍ اتل بللی دی. اسلامي امارت د يوه حکومت په صفت تل د خپلو هېوادوالو په خدمت کې دی او د هېواد پرمختګ ته ژمن دی. که موږ او تاسـو وګورو په ډېره لنډه موده کې اسلامي امارت داسې کارونه ترسره کړل چې نورو حکومتونو کلونه کلونه نه وو ترسره کړي. ددې ټولو برکت د اسلامي امارت د مسوولينو د هڅو پايله ده چې هغوی خپل مسووليت ته متوجه دي او هڅه کوي چې افغانستان له ستونزو وباسي او په هره برخه کې هېواد ته پرمختګ ورکړي. د رياسـت الوزراء اقتصادي مرسـتيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند ته چې د اقتصادي چارو مسووليت ور سپارل شو، موږ او تاسو د اقتصاد په برخه کې د شويو پرمختګونو شاهد يوو او دا ټول د محـترم مـلا صاحـب د هلـو ځلو برکت دی. سـترې اقتصادي پروژې پيل شـوې چې ځينې يې بشـپړې او ځينې نورې د بشـپړېدو په حال کې دي چې په دې سره به د هېواد اقتصاد پر خپلو پښـو ودرېږي او په دې سره به هېوادوال د هوسـا او ارام ژوند څښتنان شي.

✍ **دويم**؛ ځينو هېوادوالو په خپل نظرونو کې له مسوولينو غوښتي چې د هغو شرکتونو مخه دې ونيسي چې بې کيفيته تخمونه واردوي. افغانستان زياتره خلک پر کرنه بوخت دي او د اکثرو يې همدا د عايد سرچينه ده. که چېرې د کرنې برخه پرمختـګ وکـړي، نـو ددې خلکـو عايـد به هم لـوړ شي، خو برعکس که د اوس پـه څير کرنه په دوديـز ډول ترسره شي او د تخمونو کيفيت يې هم ټيټ وي، نو بيا ستونزمنه ده چې له دې برخې دې خلک زيات عايد ترلاسه کړي. په نوره نړۍ کې نن سبا کرنه ميکانيزه ده او له پرمختللو وسايلو او باکيفيته تخمونو څخه ګټه پورته کېږي، همدا لامل دی چې هم حاصل او هم يې عايد زيات وي. اسلامي امارت دې برخې ته پوره متوجه دی او ټوله پاملرنه يې پر دې راټوله کړې چې د افغانستان د کرنې سکټور له دوديز حالت څخه وباسي او عصري يې کړي. په دې برخه کې يې له بېلا بېلو هېوادونو او پانګوالو سره خبرې کړې دي چې په دې برخه کې پانګونه وکړي او د افغانستان کرنه ميکانيزه کړي. د کرنې په ميکانيزه کېدو سره به د افغانستان زراعت پرمختګ وکړي او د کرنيزو محصولاتو توليد به زيات شي. دغه راز اسلامي امارت هېواد ته د واردېدونکو توکو د کيفيت له پاره د سـټنډرډ او خوړو او درملو ملي ادارو په نوم ارګانونه فعال کړي دي. ددې ادارو مسـووليت دادی چـې هېـواد تـه واردېدونکـي توکي د کيفيت له مخې کنټرول کړي. نو ددې په منځ کې د نباتاتو تخمونه هم راځي او هغه هم پوره کنټرولېږي، له دې پلوه بايد هېوادوال نور ډاډمن واوسي چې هېواد ته دې بې کيفيته تخمونه وارد شي.

✍ **درېيـم**؛ يـو شـمير هېوادوالـو وړانديز کړی چـې د نندارتونونو په جوړېدو سره دې د کرنيزو محصولاتـو له پاره بازار پيدا شي، ځکه اوسمهال دغه محصولات په ډېره ټيټه بيه پلورل کېږي. اسلامي امارت د خپل کار په بهير کې د هېواد په دننه او بهر کې د بېلابېلو محصولاتو او توليداتو له پاره ننداراتونونه جوړ کړي او يا يې هم په هغو ننداراتونونو کې افغاني محصولات ننـدارې تـه وړانـدې کـړي چې په بهر کې جوړ شـوي دي. موږ به يې د مثال په ډول د چين او قزاقسـتان په هېوادونو کې پـه جـوړ شـويو ننداراتونونـو کـې د افغـاني محصولاتو ننداري تـه وړاندې کول ياد کړو. دغـه راز په کور دننه همـدا د کرنيزو

محصولاتـو خـزانـي ننـدارتـون دی. لـه دې وړانـدې د امـام ابوحنيفه رح په نوم نړیوال نندارتون په کابل کې جوړ شـو. ددې ترڅنګ په یو شمېر ولایتونو کې هم نندارتونونه جوړ شوي دي. ددې ټولو موخه دا وه چې افغاني محصولات نړۍ ته معرفي کړي او په کور دننه او بهر کې یادو محصولاتو ته بازار پیدا کړي.

## پایله

حکومـت اړ دی چـې خپلو خلکو ته د پرمختګ، هوسـاینې او سـوکالۍ زمینه برابره کړي. پـه دې برخه کې خپلې هڅې ګړندۍ کړي او ملت ته دا وښـیي چې د یو مسـوول پـه توګه ژمن دی چې په ټولنه او هیواد کې پـه اقتصادي، ټولنیزو او دې ته ورته نورو برخو کې شته ستونزو ته حل لاره پیدا او د پرمختګ له پاره یې چټک ګامونه پورته کړي. د اسلامي امارت مسوولینو تل ویلي چې د خلکو ستونزو ته پای ورکول یې د کاري لومړیتوبونو په سر کې ځای لري او په دې برخه کې یې تر دې مهاله ګړندي ګامونه هم پورته کړي دي چې غوره بېلګې یې، د اوبخور له پاره د کانالونو او یو شمېر بندونو جوړول دي. دغـه راز یـې هڅه کړې ده چې د نندارتونونو په جوړولو سره افغـاني کرنیز محصولات په کور دننه او بهر کې خلکو ته معـرفي کړي چې له هغې جملې د چین او قزاقسـتان په هېوادونو کې په جوړو شـویو نندارتونونـو کې پر نورو محصولاتو سربېره کرنیز محصولات هم ننداري ته وړاندې شـول. اسـلامي امارت پر دې بسـنه نه ده کړې او خپلې هڅې یې نه دي درولې او لا هم رواني دي، که همداسـې رواني وي؛ نو ډېر ژر به د افغانسـتان په اقتصاد په تېره بیا د کرنې سـکټور کې د پرمختګ شاهدان واوسو.

# د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال او ازبيک پلاوي ترمنځ ليدنه



**سريزه:**

وروسته له هغه چې امريکا په افغانستان کې ماتې وخوړه او دا هېواد خپلواک شو، نو اسلامي امارت له نړۍ، سيمې او ګاونډيو هېوادونو سره د سياسي، اقتصادي او نورو برخو کې اړيکو ټينګولو ته مخه کړه. هڅه يې داده چې د اړيکو له لارې سياسي، اقتصادي، سوداګريزې او نورې برخې پياوړې کړي. په دې برخه کې لومړی له ګاونډيو هېوادونو سره د اړيکو لړۍ پيل شوې ده. په دې هېوادونو کې د منځنۍ اسيا، سويلي اسيا او يو شمېر نور هېوادونه شامل دي. د اړيکو په دې سلسله کې يو شمېر هېوادونه دې ته چمتو شوي دي چې له اسلامي امارت سره ډيپلوماټيکې اړيکې ټينګې او په خپلو هېوادونو کې سفارتونه اسلامي امارت ته وسپاري. دا لړۍ لا هم روانه ده. اسلامي امارت لا هم هڅه کوي چې خپلو اړيکو ته پراختيا ورکړي. په دې لړ کې د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ لوړرتبه امارتي مسوولينو د روان لمريز کال د عقرب مياشتې په ۷مه نېټه د ازبيکستان د لومړي وزير د مرستيال محترم جمشيد خوجه ييوف په مشرۍ له راغلي ازبيک پلاوي سره چې د کرنې، انرژۍ، اوبو مديريت، کانونو او ترانسپورت وزيرانو په ګډون د بېلابېلو سکټورونو استازو پکې حضور درلود، د ارګ په چهارچنار ماڼۍ کې وکتل. په دغه ليدنه کې دواړو لورو په سوداګريزو، ترانزيټي او اقتصادي اړيکو سربېره د اوسپنې پټلۍ، ترانسپورت، په افغانستان کې د کانونو فني استخراج، د اوبو مديريت، د کرنې پراختيا او همدارنګه په ازبيکستان کې افغان ځوانانو ته په بېلابېلو برخو کې د لوړو زده کړو زمينې برابرولو په اړه هراړخيز بحث وکړ. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د خپلو خبرو پر مهال ووېل، افغانستان او ازبيکستان


د تاریخ په اوږدو کې دوه ښه ګاونډي هېوادونه پاتې شوي او هر وخت يې په امنيتي، سیاسي او اقتصادي برخو کې له يو بل سره همکاري کړې ده. د محترم ملا صاحب په خبره، د دواړو هېوادونو ترمنځ د لوړپوړو پلاوو تګ راتګ ښيي چې زموږ دوه اړخيزې اړيکې د لا پراختيا په حال کې دي او په دې سره به وتوانېږو چې د سوداګرۍ او ترانزيټ په برخه کې ښه پرمختګونه ولرو. محترم ملا صاحب زیاته کړه، اسلامي امارت د خپل اقتصاد محوره بهرني سیاست پر بنسټ غواړي چې د سيمې په ترانزيټ کې مرستندوی رول ولوبوي او د دې موخې ترلاسه کولو لپاره مو د لويو لارو پر بيارغونې سربېره لازمې اسانتياوې هم برابرې کړې دي، چې دا به د سويلي او مرکزي آسيا هېوادونو په نښلولو کې ارزښتناک رول ولوبوي. د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال زياته کړه، افغانستان د مرکزي آسيا هېوادونو سره د سوداګرۍ او ترانزيټ په موخه د ازبيکستان له مسيرونو څخه زياته استفاده کوي. په دې مسير کې د افغانستان پر محمولو باندې ترانزيټي فيس د نورو مسيرونو په مقايسه لوړ دی چې موږ يې د کمېدو غوښتنه کوو. د محترم ملا صاحب په خبره، ددې لپاره چې افغانستان او ازبيکستان د سوداګرۍ متوازن بېلانس ولري ښه ده، چې ازبيکستان ته د افغانستان صادرات د پام وړ زيات شي او په دغه برخه کې ازبيکستان د افغانستان لپاره د ځانګړو ترجيحي تعرفو په نظر کې نيولو سره په ځينو مواردو کې له استثنايي دوستانه تعامل څخه کار واخلي. د ازبيک پلاوي مشر محترم جمشيد خوجه ييوف د خپلو خبرو پر مهال وويل، ازبيکستان له فغانستان سره د کرنې، ترانسپورت، رېل پټلۍ، سوداګرۍ، ترانزيټ، اوبو مديريت او کانونو په برخه کې ګډې همکارۍ ته چمتو دی او په دغه برخه کې به د دواړو لوريو تخنيکي کمېټې په ګډه سره کار وکړي. محترم خوجه ييوف زياته کړه، ازبيکستان ته د افغانستان د صادراتو د زياتولو په اړه ازبيک لوري د سوداګرۍ لارې نقشه جوړه کړې چې له مخې به يې د دواړو هېوادونو د سوداګرۍ کچه شاوخوا درېيو ميلياردو ډالر ته ورسېږي. نوموړي همدا راز وويل چې دوی افغان سوداګرو او موټر چلوونکو ته د ويزو په ترلاسه کولو کې لازمې اسانتياوې رامنځته کړې، په نږدې راتلونکي کې به په تاشکند کې د افغاني محصولاتو نړيوال نندارتون جوړ کړي او همدارنګه چمتو دي چې په ترمذ کې افغان سوداګرو ته د سوداګرۍ يو لوی مرکز هم وسپاري. د غونډې په پای کې محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د هرات له زلزله ځپلو سره د ازبيکستان له بشري مرستو مننه وکړه او د دواړو هېوادونو ترمنځ يې د دوه اړخيزو همکاريو پر زياتوالي ټينګار وکړ.

## د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال او ازبيک پلاوي ترمنځ د ليدنې موخه:


موخه يې د افغانستان او ازبيکستان ترمنځ د اړيکو پراختيا او پرمختيا ده.

## په هغو رسنیو کې د خلکو د نظرونو ارزونه چې «د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال او ازبیک پلاوي ترمنځ د لیدنې» خبر یې خپور کړی دی:


### الف: دولتي رسنۍ:




### ب: خصوصي رسنۍ:




### د دولتي او خصوصي رسنیو د ارزونې د سلنې مجموعه:





**یادونه:** په دغه‌ګراف کې په هغو دولتي او خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو سلنه ښودل کېږي چې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال او ازبیک پلاوي ترمنځ د لیدنې په اړه یې په ویډیویي، غږیزه او چاپي بڼه راپور خپور کړی دی.


# په دولتي او خصوصي رسنيو کې د ياد خبر په اړه د خلکو نظرونو ارزونه

## ۱- دولتي رسنيو کې د خلکو نظرونو ارزونه:


### آژانسونه





### توېټرپاڼې




### وياندويان





### ويب پاڼې





### راډيوګانې





### ورځپاڼې



## تلویزیونونه





## په دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو د ارزونې ټولګه




## ۲- په خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه:


### تلویزیونونه




### راډیوګانې





### ورځپاڼې




### آژانسونه



## خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه




## خصوصي او دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه




## د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال او ازبیک پلاوي ترمنځ د لیدنې په اړه په رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه

### د خلکو نظرونو د څېړنې او ارزونې موخه:

په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو څېړنه او ارزونه د خلکو نظرونو روښانتیا او هغو ته د پاملرنې په مانا ده. د دې مسلې ارزونه او خپرول خلکو او ټولنې ته دا فرصت په لاس ورکوي چې د حکومت د پرېکړو، کړنو او پروژو په اړه خپل نظرونه، غوښتنې، نیوکې او وړاندیزونه شریک کړي.

### افغانستان کې له ټولنیزو شبکو د ګټې اخیستنې واقعیت:

که په ټولنیزو شبکو کې د هېوادوالو ونډه او فعالیت وڅېړو، نو وبه وینو چې په افغانستان کې زیاتره خلک د ټوېټر پرځای فېسبوک کاروي. خو په ټوېټر کې بیا تر ډېره برېده رسمي- حکومتي مسوولین او د سیاسي، اقتصادي او فرهنګي ډګر فعالان ونډه لري. له همدې امله د افغانستان اسلامي امارت رسمي او نارسمي کسان تر فېسبوک په ټوېټر کې ډېر فعالیت لري. خو د رسنیو، دولتي او نادولتي بنسټونو اړوندې ټولنیزې شبکې او همدارنګه د سیاسي، اقتصادي، ټولنیز او فرهنګي ډګر فعالان د عامو خلکو او دغه راز د رسمي اشخاصو او بنسټونو تر پوښښ لاندې راوستو په موخه په فېسبوک او ټوېټر دواړو کې فعال دي او هره ورځ خبرونه، شخصي، رسمي او نارسمي راپورونه خپروي.

## د یاد خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه:

*موږ کولای شو رسنۍ په دوو برخو ووېشو: دولتي رسنۍ او خصوصي رسنۍ:*

۱. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال او ازبیک پلاوي ترمنځ د لیدنې خبر په اړه د تلویزیونونو، راډیوګانو، ورځپاڼو، ویبپاڼو، ویاندویانو، خبري اژانسونو او ټوېټرپاڼو په ګډون په دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په دولتي رسنیو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۲۵۲۳ دی. د دې نظرونو له جملې ۲۳٦۹ مثبت دي. ۱۰۴ منفي نظرونه او ۵۰ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي. مثبت نظرونه ۹۴ ٪، منفي ۴ ٪ او سالم وړاندیزونه ۲ ٪ دي.

۲. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال او ازبیک پلاوي ترمنځ د لیدنې خبر په اړه د تلویزیونونو، راډیوګانو، ورځپاڼو، ویبپاڼو او خبري اژانسونو په ګډون په خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په خصوصي رسنیو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۷٦۸ دی. د دې نظرونو له جملې ٦۱٦ مثبت، ۹۸ منفي او ۵۴ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي دي. مثبت نظرونه ۸۰ ٪، منفي نظرونه ۱۳ ٪ او سالم وړاندیزونه ۷ ٪ دي.

پورتنیو شمېرو ته په پاملرنې د خصوصي رسنیو په پرتله دولتي رسنیو کې د خلکو د مثبتو نظرونو سلنه لوړه ده. په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه ۹۴، خو په خصوصي رسنیو کې دا سلنه ۸۰ ده. په خصوصي رسنیو کې بیا د منفي نظرونو او سالمو وړاندیزونو سلنه لوړه ده، په خصوصي رسنیو کې د منفي نظرونو او وړاندیزونو سلنه په ترتیب سره ۱۳ او ۷ ده او په دولتي کې بیا ۴ او ۲ ده. که په دولتي او خصوصي رسنیو کې مثبت، منفي نظرونه او سالم وړاندیزونه جمع کړو، په ټوله کې ۲۹۸۵ مثبت نظرونه، ۲۰۲ منفي نظرونه او ۱۰۴ سالم وړاندیزونه دي چې له مخې یې ۹۱٪ مثبت نظرونه، ٦٪ منفي نظرونه او ۳ ٪ سالم وړاندیزونه دي.

## دا چې د خصوصي رسنیو په پرتله په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه لوړه ده، لامل یې څه دی؟

یو لامل یې دادی چې خلک د هغو خبرونو په اړه مثبت نظرونه ورکوي، کوم چې د هېواد او خلکو دواړو په ګټه وي او له مخې یې هېواد د پرمختګ په لور ځي. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال او ازبیک پلاوي ترمنځ د لیدنې خبر هم د هېوادونو ترمنځ د اړیکو د پراختیا او پرمختیا په اړه دی، نو ځکه خو د خلکو له تاوده هرکلي سره مخ شوی او رسنۍ هم هغه خبر چې د خلکو د علاقې وړ وي په زیاته کچه خپروي، هر خبر چې ډېر خپور شي طبیعي خبره ده چې په اړه به یې مثبت نظرونه هم زیات وي. له دې څخه جوتېږي، د حکومت له لوري چې هر ګام پورته کېږي د خلکو له هرکلي سره مخ او په اړه یې خپل نظرونه څرګندوي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو لنډیز په لاندې ډول دی:

د یادونې وړ ده، دلته موږ یوازې د ګوتو په شمېر نظرونه چې په هغو کې مثبت، منفي نظرونه او وړاندیزونه شامل دي، راوړو، ځکه د ټولو نظرونو یادونه د لیکنې له حوصلې وتلې ده، د نظرونو شمېر لسګونه بلکې سلګونه ته رسېږي.

- د اوبو کمښت په هېواد کې د بې وزلۍ او لوږې یو بنسټیز لامل دی، نو له دې امله په کار ده چې اوبه مدیریت او پوره ګټه ترې واخیستل شي.
- د افغانستان او ازبیکستان ترمنځ اړیکې باید پراخې او ټینګې شي او ترڅنګ یې ددې هېوادونو له لوري د سوداګرو له پاره د ویزو په برخه کې اسانتیاوې رامنځته شي، له دې سره به سوداګري زیاته وغوړېږي.
- پـه تېـرو کلونـو کې د خپلواکۍ نشـتوالي لـه امله حکومتونه پر دې نه و توانیدلي چې مـلي پروژې عملي کړي، خو اوس مـوږ یـو خپلـواک نظـام لـرو او دادی پـه هېـواد کـې یې سـترې او بنسـټیزې پروژې پیـل کـړې دي. دا چې ځینې ګاونډیان یې مخالفت کوي، دا د هغوی کار دی، موږ ته خپلې ملي ګټې لومړیتوب لري او باید ترلاسه یې کړو.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

- **لومړی**؛ یو شـمېر خلکو په خپلو نظرونو کې د اوبو مدیریت ته په اشـارې سره ویلي دي چې د اوبو کمښـت له امله کرنه زیانمنه شـوې او ډېری خلک له اقتصادي سـتونزو سره مخ شـوي. دا خبره پر ځای ده چې اوبه د انسـان په ژوند کـې یـو مهـم توکـی دی. د اوبو مدیریت بیا د حکومتونو دنده او حکومتونه باید خپلې اوبه داسـې مهار او مدیریت کړي چې وکولای شي د کرنې ترڅنګ له اوبو څخه بریښـنا چې ډېره مهمه ده هم تولید کړي. اسلامي امارت د یوه مسـوول حکومت په توګه د هېواد د پرېمانه اوبو مدیریت ته متې رابډ وهلې دي. موږ او تاسو ددې شاهدان یوو چې د اسلامي امارت له راتګ وروسـته بیا تر دې دمه د هېواد په کچه د اوبو د مدیریت په برخه کې سـترې، ملي او بنسـټیزې پروژې پیل شـوې دي. دغه پروژې د کانالونو، بندونو او چک ډیمونو پروژې دي چې کولای شي د کرنې د ودې ترڅنګ زموږ له پاره بریښنا هم تولید کړي او له دې لارې وکولای شو خپل صنعت ته پراختیا ورکړو.
- **دویـم**؛ ځینـو خلکـو پـه خپلـو نظرونو کې ویلي دي چې د افغانسـتان او ازبیکسـتان ترمنځ اړیکـې دې پراخې شي، ځکه دا د دواړو هېوادونو په ګټه دي. ددې ترڅنګ دې د سـوداګرو له پاره د ویزو په ورکړه کې هم اسـانتیاوې رامنځته شي، له دې سره به د دواړو هېوادونو سـوداګري پراخه شي. د دوی نظر د سـتایلو وړ دی، ځکه د هېوادونو ترمنځ چې اړیکـې هـر څومـره پراخې او ټینګې وي، په هماغه کچه یې سـوداګري پراختیا مومـي او ترڅنګ یې اقتصاد هم پیاوړی کېـږي. دا یـوازې د اسـلامي امـارت لـه پـاره اړینـه نه ده، بلکې نـور هېوادونه هم دې تـه اړتیا لري چې خپلـې اړیکې له افغانسـتان سره ټینګې کړي، دا ځکه چې افغانسـتان د خپل جغرافیایي موقعیت له مخې په سـیمه کې یو مهم هېواد دی او کولای شي اسیا په خپلو کې سره ونښلوي. پاته شوه د ویزو خبره اسلامي امارت د سوداګرو او پانګوالو له پاره د

اسانتياوو رامنځته کولو په برخه کې ګامونه پورته کړي دي چې ښه بېلګه يې د پانګونې د بين الوزارتي کمېټې جوړول دي. ددې کمېټې يوازينۍ موخه سوداګرو او پانګوال ته اسانتياوې برابرول دي. د اسلامي امارت مسوولينو تل دا هڅه کړې ده چې په بهر کې هم افغان سوداګرو ته اسانتياوې برابرې کړي هغه که د وېزو په برخه کې وي او که په نورو برخو کې.

✍ **دربيم**؛ په تېرو کلونو کې د خپلواکۍ نشتوالي له امله حکومتونه پر دې نه و توانيدلي چې ملي پروژې عملي کړي، خو اوس موږ يو خپلواک نظام لرو او دادی په هېواد کې يې سترې او بنسټيزې پروژې پيل کړې دي. دا چې ځينې ګاونډيان يې مخالفت کوي، دا د هغوی کار دی، موږ ته خپلې ملي ګټې لومړيتوب لري او بايد ترلاسه يې کړو. زموږ هېواد له څلورو لسيزو راهيسې له جګړو او ناخوالو سره مخ و، ددې ترڅنګ په دې موده کې چې کوم حکومتونه راغلي دي، زياتره يې خپلواک نه و، بلکې د نورو تر واک لاندې او د هغو په اشاره چلېدل. دغو حکومتونو د افغانستان له پاره کوم داسې کار نه دی کړی چې هغه دې افغانستان له کړکېچ څخه وباسي او د نورو له احتياجه يې خلاص کړي. د اسلامي امارت په راتګ سره تر دې مهاله ټولې هغه پروژې چې کولای شي موږ په بېلا بېلو سکټورونو کې خودکفايي ته ورسوي، عملي کړې دي او لا هم روانې دي. د هرې ورځې په تېرېدو سره د هېواد هر سکټور هغه که د کرنې دی او يا هم صنعت او سوداګرۍ، د پرمختګ په حال کې دي. ددې امکان شته چې په ډېر نږدې راتلونکي کې به افغانستان يو پرمختللی او د خپلواک اقتصاد څښتن او خلک به يې د هوسا ژوند خاوندان وي. هر هېواد ته خپلې ملي ګټې مهمې دي او بايد په هر شکل چې وي خپلې ملي ګټې خوندي او هېواد د ملي ګټو په ساتلو سره د پرمختګ په لور تللی شي.

## پايله

حکومت اړ دی چې خپلو خلکو ته د پرمختګ، هوساينې او سوکالۍ زمينه برابره کړي. په دې برخه کې خپلې هڅې ګړندۍ کړي او ملت ته دا وښيي چې د يو مسوول په توګه ژمن دی چې په ټولنه او هېواد کې په اقتصادي، ټولنيزو او دې ته ورته نورو برخو کې شته ستونزو ته حل لاره پيدا او د پرمختګ له پاره يې چټک ګامونه پورته کړي. په دې برخه کې له ګاونډيو هېوادونو او په ټوله کې له نړۍ سره اړيکي ټينګول ضروري دي. افغانستان چې له کلونو را هيسې له بحران، جګړې او بهرني يرغل سره لاس او ګريوان دی، دې ناخوالو نه يوازې دا چې د هېواد اقتصادي شيرازه له منځه وړې ده، بلکې په سياسي او ټولنيزو برخو کې يې هم افغانستان له ګڼو ستونزو سره مخ کړی دی. وروسته له هغه چې امريکا په افغانستان کې ماتې وخوړه او دا هېواد خپلواک شو، نو اسلامي امارت له نړۍ، سيمې او ګاونډيو هېوادونو سره د سياسي، اقتصادي او نورو برخو کې اړيکو ټينګولو او مثبت تعامل ته مخه کړه. هڅه يې داده چې د اړيکو له لارې سياسي، اقتصادي، سوداګريزې او نورې برخې پياوړې کړي. په دې برخه کې لومړی له ګاونډيو هېوادونو سره د اړيکو لړۍ پيل شوې ده. په دې هېوادونو کې د منځنۍ اسيا، سويلي اسيا او يو شمېر نور هېوادونه شامل دي.

د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت
د مطبوعاتو ریاست



@FDPM_AFG www.dpmea.gov.af @FDPM_AFG